پرله پسې شمیر : (۳)

# د پښتنو دودونه

څېړونکی

د فولکلور او ادب آمریت

لیکونکی : غلام محمد

Download From: Aghalibrary.com

۱۳۵۳ ش — کال دوری میاشت

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032580 2

پرله پسې شمېر (۳)

# د پښتو دودونه

PROPERTY OF ACKU 32580

څېړونکی

د فولکلور او ادب آمریت

لیکونکی: غلام محمد

مهتمم: لعل پادشاه

۱۳۵۳

دچاپ شمېر: زرټوکه　　　　دولتي مطبعه

# سریزه

فولکلور او دودونه د ثقافت یو درونداو په زړه پوری اړخ دی د یوه ملت ثقافت تر ډیری اندازی پوری دهغه له فولکلور څخه ښه څرگندیدای سی . فولکلور دملت دتیر ژوند پر بیلو بیلو اړخو ښه رڼا اچوی، او د راتلونکی ژوند دښه والی د پاره ښی او په زړه پوری لاری چاری په گوته کوی.

له همدغه کبله په نړۍ کی فولکلوریکو مسایلو ته بشپړه توجه کیږی او هغه د خپل ملی ثقافت د بشپړولو او ښلای کولو د پاره دموثری وسلی په توگه سمبالوی .

له نیکه مرغه زموږ نوی جمهوری نظام چی دښاغلی محمد داؤد تر مشری لاندی منځ ته راغلی د نورو مهمو حیاتی چارو په جمله کی دملی ثقافت ودی ته هم ډیره توجه کړی او کوی یی او په دی لنډه موده کی یی د دغه مطلب تر لاسه کولو له پاره په موثرو اقداماتو لاس پوری کړیدی لیکوالو او څیړونکو ته یی تشویق ورکړ چی دملی ثقافت دغښتلوالی د پاره هر اړخیز او موثری هلی ځلی وکړی او ددوی دغه زیار او کوښښونه په ډول ډول، وسایلو تقدیر سوی او تقدیریږی .

له ښه مرغه زه هم د نوی نظام ددغو تشویقی ترتیباتو څخه بی برخی پاتی نه سوم او کوم فولکلوریک مواد چی ، په تیرو وختو کی سره راغونډ کړی ؤ خو دچاپیدو موقع یی نه

درلوده هغه مې بیا د کتاب په شکل سره ترتیب کړل او د فولکلور آمریت ته مې وسپارل چې دوی هم د جمهوریت د عمومي کړن لارې په رڼا کې د دغه کتاب و چاپولو ته اقدام وکړ.

دا هیله لرم چې په دغه کتاب کې د هغو خلکو د فولکلور او دودونو یوه برخه راغونډه شوې ده چې د غزني او کلات ترمنځ سیمه کې د ځائی او یا د پوونده په بڼه ژوند کوي هیله ده چې د غه اثر به په راتلونکي وخت کې د نورو ښاغلو د ژورو او هر اړخیزو څیړنو د پاره مرسته وکړ ي.

په درناوی. غلام محمد تره کی

# د مطالبو فهرست


| سر لیک | مخ |
|---|---|
| د پښتنو یو ځو دودونه | ۱ |
| میلمه پالنه | ۱ |
| د برات پنځلسمه | ۵ |
| د هوکۍ دود | ۷ |
| ټیکې | ۱۷ |
| لښتۍ | ۱۷ |
| غولېدواري | ۱۷ |
| پېزوان | ۱۷ |
| د لور پلار | ۱۸ |
| د ناوې کور | ۱۸ |
| گرېوان | ۱۹ |
| چمچرۍ | ۱۹ |
| د واده خبره | ۱۹ |
| د ښځو ورا | ۲۰ |
| د ناوې د ښځو بدلې | ۲۰ |
| بدلې | ۲۲ |
| سرور | ۲٤ |
| د هلک زېږېدنه | ۲۵ |
| کرک | ۲۷ |
| د هلک پل اخیستل | ۲۷ |
| د اور وهل او بریالي راتلل | ۲۷ |
| لنډۍ | ۲۸ |
| د اوره وهونکي او د دوی ناکامي | ۲۹ |
| وهل او ټکول | ۳۱ |
| د ټکري اخستل او ټکټ کول | ۳٤ |

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| دپېغلې ارمان | ۳۷ |
| **کښت او بزګري** | ٤٤ |
| د بزګرۍ سامانونه او کار | ٤٥ |
| سپاره | ٤٦ |
| ماله | ٤٦ |
| خکاو | ٤٧ |
| ټکونه | ٤٧ |
| دغنمو اوبول | ٤٧ |
| دغنمو د دوهم ځل اوبول | ٤٨ |
| درمندان او ځپر | ٤٩ |
| غوبل پر ګندیارو | ٥٠ |
| د ګزیارو غنم | ٥٢ |
| منګوري | ٥٣ |
| دبزګر د ښځې ځواب | ٥٤ |
| سخېړه | ٥٥ |
| د رېسو اخیستل | ٥٦ |
| دسرکاسه | ٥٦ |
| ډاګه | ٥٧ |
| للون | ٥٨ |
| **سانګه او په آسو دمږوی وهل** | ٥٩ |
| دماد یانو یا اسپو نومونه | ٦١ |
| دسانګو د ځاله د وهلو ځولونه | ٦٣ |
| دسانګو او د آسو د زغلا زده کړه | ٦٣ |
| د بازپو نومونه | ٧٢ |
| دژمي د بازپوځ ګر | ٧٢ |
| لپړی | ٧٥ |
| دخوځی د اخیستلو طرز | ٧٥ |

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| دخوشی بېدل | ۷۵ |
| غوا او کوټې | ۷۶ |
| دملکانو دغوږ بازی | ۷۶ |
| شوتار او بازار | ۷۷ |
| سولی پاینګی | ۷۸ |
| خرساپ | ۷۸ |
| دکې کۍ چرګۍ بازی | ۷۹ |
| دکوټی کړپ بازی | ۸۰ |
| کڼه غوږی | ۸۱ |
| تومبچه | ۸۲ |
| دپېښ او مېږ دکو بازی... | ۸۲ |
| دپېښیو دڅلورو خواو تمونه | ۸۲ |
| دپېښیو دبازیو تمونه | ۸۳ |
| پېښیان | ۸۴ |
| دېر بازی | ۸۴ |
| دپېښیو دارام ر می بازی | ۸۵ |
| دپېښیو دګر بازی | ۸۵ |
| چکې چکانی | ۸۶ |
| دپېښیو داډوني بازی | ۸۶ |
| دولاړو پېښیو... | ۸۶ |
| سوچه | ۸۷ |
| دکلا بازی | ۸۸ |
| هودری کی بازی | ۸۹ |
| **دناویانو دلومړی شپې دمېړه په کور کی** | ۹۱ |
| پاریال | ۹۱ |
| دناویانو پاریالونه | ۹۱ |

سر لیك


| | مخ |
|---|---|
| د ناو یانو د مخانو ښکارول او خوني | ۹۲ |
| د ناو یانو له خوا د انگړ جارو کیدل | ۹٤ |
| د ناو یانو نمونه د دوی د میړو پر خوندو | ۹۵ |
| د ناو یانو د لیورو نمونه | ۹٦ |
| د ناو یانو نمونه د کلی پر خلکو باندی | ۹۷ |
| گانړی | ۹۸ |
| یوه کی | ۹۸ |
| دوه کی | ۹۹ |
| دری کی | ۱۰۰ |
| **د هلکانو زوکړه** | ۱۰۱ |
| د هلك د زوکړی ناری | ۱۰۱ |
| د هلك د ویښتانو کرك یالار | ۱۰۲ |
| کسرونه | ۱۰٤ |
| **د گلی تاویز** | ۱۱۰ |
| د تاویزه خوندی کیدل | ۱۱۲ |
| د سندلی چوړیدل | ۱۱۳ |
| الاهو للو للو | ۱۱٦ |
| د هلکانو کیښول | ۱۱۷ |
| درویوونه | ۱۱۸ |
| د تاویزانو نمونه | ۱۱۹ |
| خوری د نظر سوی چاد بلار | ۱۲۰ |
| میړ د کی | ۱۲۱ |
| د نظر اوړه | ۱۲۱ |
| و نظر سوی ته بشپړی اوبه خوړه | ۱۲۲ |
| نجونی په خوړو کې | ۱۲۳ |
| | ۱۲٤ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| اغا او درویشان یا مریدان یې | ۱۲۵ |
| د هلکانو د پلار اخیستلو دوره | ۱۲۶ |
| د هوکې ودسمال جوړېدل | ۱۲۷ |
| کنډې | ۱۲۹ |
| لمېڅې | ۱۲۹ |
| د غرڅې ورتګ | ۱۳۱ |
| کډېږې | ۱۳۲ |
| د کډېږو رانکول | ۱۳۳ |
| د لوړ مور ننګونه | ۱۳۴ |
| اوغاړې او د چار کړونې سندې | ۱۳۵ |
| سخوبڅې | ۱۳۶ |
| د کنډې د چارو لو او او د لوشیان او سامانونه | ۱۳۹ |
| د کنډې لرګې | ۱۴۰ |
| د کنډې داو د لوړ منځې | ۱۴۱ |
| د در تو قرضول | ۱۴۳ |
| د پېړ یو ورته | ۱۴۳ |
| د بوټو د بار وتلې | ۱۴۴ |
| د لومړي تناو د کنډې خلاص | ۱۴۵ |
| دوهم تناو | ۱۴۵ |
| دغا چودم | ۱۴۶ |
| د تاګیو وړې یا وزغنې | ۱۴۷ |
| د تاګیو ورته او غوندې | ۱۴۸ |
| د کږ دیو پټول | ۱۴۹ |
| مراندې او کمچه | ۱۴۹ |
| د مېږ د کوسو قیان او د مېږ د کود کړن وختونه | ۱۵۰ |
| د مېږ د کود کولو وختونه | ۱۵۰ |

سر لیکه　　　　مخ


دمږ د کوچنیدول او ډبرې بې ۱۵۰
په برله کې دمږ د کوچنیدول ۱۵۲
دمږ د کود کولو طرزونه ۱۵۳
دمږ د کوه چقکې ۱۵۳
دمږ د کوسولی ۱۵٤
کوږ دیکان ۱۵۵
**په پسرلی پیغلې وځوانان دګلانو سیل ته ځی ۱۵۸**
**دکوڼلو په باره کی ۱۷۳**
کډ ورونه ۱۷۹
**دکوچیانو او پوندونو دودونه ۱۸۱**
تږ ونی ۱۸۵
شیره ۱۸۸
خریږی ۱۸۹
دکوچیانو دغږ کوشار بل ۱۸۹
بوځه ۱۹۰
دغوږ د یلول ۱۹۳
دوزونمونه له نخښنو سره سم ۱۹٤
منګنی ۱۹٤
داوډی په وختو کې دکوچیانو داوښانو .. ۱۹۵
داوښانو دخوړلو بوټی ۱۹۵
داوښانو داوډی دغږ طرزونه ۱۹٦
پاکړه او هوټی اوښ ۱۹۸
ژر اور ۲۰۰
چه دوه کوچیان سره ملګری شی ۲۰۱
دکوچیانو دلاندی حلالول ۲۰۲
وګلهېټ ته دمیږو او رمو بیول ۲۰۳

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| دپوندو مچلوغزی | ۲۰۴ |
| دکوچیانو دښځو دوړوهلکانو ګنډله | ۲۰۵ |
| دکوچیانو دلوښو ودول | ۲۰۶ |
| دپوندو دښځو سوداګن | ۲۱۲ |
| دښځو تود اګن | ۲۱۳ |
| دناریڼو سوداګن | ۲۱۶ |
| داوښ لمړی پلابادی کول | ۲۱۸ |
| داوښانو مهار ونه | ۲۱۹ |
| دمږو دود اوبایده | ۲۲۰ |
| **ځینې پخوانی هیرشوی شاعران (ټاټ او تورپیکی)** | **۲۲۳** |
| ټاټ | ۲۲۳ |
| پیغله تورپیکی | ۲۲۶ |
| دتورپیکی دشعرو یوه نمونه | ۲۲۷ |
| ددووټبرو دسړو جنګړه اومرکه | ۲۲۸ |
| دهلکه زوکړه | ۲۲۹ |
| دتورپیکی متلونه | ۲۳۱ |

هغه کتابونه چه تر اوسه چاپ شویدی .

| | |
|---|---|
| ۱ ـ قصه ها وافسانه | عبدالغفور برشنا |
| ۲ ـ ملی اتنونه | غلام محی الدین ملکری |

ACKU

# د پښتنو یو څو دودونه

پښتانه د خپلو لي او ښو خويو او نارينه والي په ترڅ کي څيني لرغوني
دودونه چي د نيکونو څخه ورته پاتي دي او س هم په ډيره ښه توګه
او لوړه همت سره سرته رسوي . د پښتنو په منځ کي ډول ډول دودونه ستنه
او د غم يا ښادي مراسم پښتانه په يوه ډول د مروجو دودو سره سم پاى
ته رسوي چي په لاندې توګه د غزني زابل مقر د ښاو خواسيمي څيني
دودونه ښيو :

## ميلمه پالنه

د پښتنو د ميلمنو پالنو دوديو په زړه پوري او له انساني عاطفې سره
برابر دود دي چي يوه کلي ته په ژمي کي د لاړي ستړي او ډير ميلمانه
ورسي او د هغه کلي جومات ډير تود دي او ميلمانه چي ډير ستړي وي
نو لي ستړيا د جومات د تودوالي په نسبت ورکه شي . دغه دي هم
د ماښام لمنځونه د کليوالو سره وکړي ورو سته له وظيفي کولو څخه
د کلي ښه ميړه ډول د کړي دراځي ميلمنو چي کورته څو له جومات څخه
ټول سره او وزي د کلي ځوانان او سپين ږيري شته من وي که غريب
ټول د ميلمنو د هغې ته په ډيره ښه توګه ورلاړ وي او په ډيره ټينګه هر
څوك په خپل وار ميلمنو ته وواي چه «لما سره راځئ» ټول کلي وال وار په
وار ميلمنو ته «ننګه» وکړي خو ميلمانه له څو شته منو کسانو او
د کلي له ښه ميړه سره ودي خو ډلو ته د لاړې ميلمانه په خپلو منځو
کښي سره وواي چه دي کلي د خلکو ډير ډير ښه خويونه دي او د ښو خويو

څښتنان دي ميلمانه سره ووائي پښتنانه دا متل کوي «چه کلي په نامه لري يوخوي ترنو روښه لري او بل کس د ميلمنو ووائي پښتنانه دا هم وائي « په کلي کي يو بازوي بل شهباز ـ بل توکل دي» باز هغه چاته وائي چه ميلمانه ترڅو لو لوړي د ډوډۍ بوغ او ننګه وکړي او د جومات ميلمانه دخان دبوای . شهباز هغه چاته وايي چه ميلمانه ته دوهم بوغ او ننګه وکړي . او د باز نوم وا خلي «پلانيه ميلمانه به له ما سره تللي ګاي باز په خندا داسي ورته ووائي چه «زه ميلمانه ورتاته نه در کوم. خو ته په جومات کي ميلمنو ته ننګه کوه» توکل هغه څوك دي چه ميلمانه له باز يا له شهباز سره ډوډۍ خوړلو ته ولاړ شي او توکل هم بر هغه کور باندي ډوډۍ وا ړوي . دغه پو رته دود له هغه خلګو سره کوي چه د ليري ځاي دي دلاري تللوالي دي او له چا سره پيژند ګلوي نه لري په خپله په کلي کي به دري ورو له ميلمستيا وي کوي:
لومړي ميلمستيا دي په هغه وخت کي کيږي چه دلاندي مزان حلال سي نو يو بل سره بولي ددوي د ښوخو يو په لي کي هغه چا چه لاندي نه وي کړي او نه يي لري د کلي ښه ميږه بيوزلي سړي ميلمانه کړي د کورد پاره يي هم خو ښي ور کړي.

د کلي نور شته من هم دغه رنګه بيوزله کسان ميلمانه کړي او ديبوزلو د کورد برخي ور کړي .

او داسي دي لکه دغو بيوزلو چي هم دلاندي مزان حلال کړي دي د پښتنو د ښه خوي په ترڅ کي داسي هم کوي چي که په ازدو کلو کي څوك بيوزلي دي او يا يې په دا څو نزدو مياشتو کي مړي سوي دي يا سپين ږيري دي او يا يوډك ورسيدلي دي يا په دغه کلي کي زوم يا خورلڼي ولري هغوي ته ميلمستياوي کوي . او خپلي انساني او پښتني وظيفي پدي لاندي توګه سرته رسوي . که دغه ځيريو سپين ږيري ميلمستيا ته دغواندي دډوډي خوړلو ترڅخته د هغه سپين ږيري ځير

قدر کوي چه د ډوډۍ کار خلاص سي برسېره پر میلمستیا یوه جوړه
کالي او د لمسي خوږي او دهغه د کلي د ملا ښکري ته هم ورته ورکړي
او سپین ږیري په ډېره خوښۍ سره رخصت کړي . سپین ږیري چي
خپل کلي ته ورسي نو خپلو زامنو او کلي والو ته د خپلې میلمستیا او د
قدر ویل داسي وکړي . چه له خپلو زامنو څخه ئې دونه قدر لندي لیدلي
نو ښاغلي چي تاسو هم د دغه ښه میړه په څېر د یو سپین ږیري قدر وکړئ
که هغه زوم میلمه کړئ چه واده ئې په خواښې کړئ وي نو تر خور
لومړي زوم میلمه کړئ دا ځکه چه خورلڼه خپله او زوم پر دي دي
چي خپه نه سي . زوم ته تر میلمستیا وروسته په دسمال له میوو څخه ډکه
ور کړي او خپل کورته ئې رخصت کړي زوم چه کورته ورسي د دغې
میلمستیا په ښه ویلو نه مړېږي وروسته له څو ورځو څخه د خورلڼې پلار
ورور ورسي ودا ئې اخښي ! پلار مي ویل چي لورمي د څو ورځو له
پاره راواستوه . زوم په ډېره خوښۍ د تګ اجازه ور کړي . خورلڼه
هم ورته راسي څو ورځي تیري کړي د خورلڼې حقوق هم پر ځای سي
د پلار له خوا جامې موچڼې او ټکري ور کړی سي .
د مور له خوا څخه (ودونه) د صندوق خولګه ور کړه سي کورته ئې ولیږي .

## سپین ږیري او لاړو لاړنګه

د سپین ږیري دود او «د لاړو لاړنګی» دودونه په هغه وخت کیږي
چه د پسرلي باران نه نوي سوي ، نو د ځوانانو له خوا څخه سپین ږیري
جوړېږي او د ښځو له خوا څخه «لاړو لاړنګه» جوړېږي د نزد د کلو
ځوانان سره راټول سي یو ځوان ته سپینه ږیره او بریتونه او د ټالوکان
او ورځي او خولې ور جوړه کړي او لکړه په لاس کی ور کړي نو
ځوانان او هلکان ورسره څي سپین ږیري کور په کور ګرځوي . او د
غوړي ، غوښي ، اړ کي ، مرچ ، او مالګه د اټول شیان د لکړی په زور
غواړي د هر کور کره چه لمړی پلا ور سي د کور د نر ښځي پوښتنه

ځنې د کړې یا یا څو دې زامن څو دي ښځې او څو لوڼې لري سپين ږيري
وواېي: او ومې ښځې دي چې ديوې نوم د دپښمېنه د بلې نوم ګنده کېښه
ده دارابسې ځوانان مې زامن دي - او شل مې هم لوڼې دي.

که کور والا ورته وواېي چه ور پښمېنه مې مړه شوه. د غه سپين ږيري
پرمځکه ځان وغورځوي تر څو چې کوروالا ډاډور کړي چې ته به
مړه نورا پورته سې چه زړه دې ډاډه سې او فکر دې

ښه اې نو د لګړي په زور غوښې غوړي اوده چای اې. کوروالا ځنې
غواړې چې د تولو کلو ځنې اوده غوړې اې ګي غوښې راټول کړي
په يوه کور کې په خونه کې دا چوي. تر څو چې د جومات دا خپل لو
او د جومات د ټولو د کار وخت رانز دې سي نو د کلي ښه مړه
پر ښځو بدغ ور کړي:

چې تاسې خوا هم (لاډو لاډ نګه) کوي د غه اې وخت دې واې کړي.
نو ښځې هم (لاډو لاډ نګه) جوړه کړي د ځوانانو په شېر ځنې هم غوښې
غوړي اوده سره راټول کړي چې له يوه کوره ځنې و بل کور ته ورځي
ملګان نارې کوي «اوري باران اوري کېږده ووړي چغال اې ګوري»

د ښځو نارې: «لاډو لاډ نګه ځنې غواړي يوه کاسه اوده غواړې يې په
مالګه يې تروه غواړي د آسمان خپرې او په غواړي د مځکې شنه
وا ښه غواړي دا چې د هر کور ته ورځي وايي چه ځنې کور والا
ډېر غوړي غوښې دا سې نورشيان ورکړي ورې او د (لاډو لاډ نګه)
ښځې خوښې وي نو دا سې وايي «لوړې يا لوړي خدا دې يو زوی
درکړي چې پر غولي در ته ښوری» په دغه تو ګه ښځې هم خپل ټول کړي شيان
په يو کور کې په يوه خونه کې دا جوي د جومات دا خپل او د بوتو
راوړلو کار ته ګوري په کومه ورځ چې باران د کلي د ښه مړه له
خوا ځنې هغه سې نو د کلي سپين ږيري د جومات دا خپل او کار پر غاړه
دا خلي او ځوانان د بوتو (اشر ته) د لاډ سي ښځې د ځوانانو د ډيګو نه

هم پاخه کیری که گوری چی حوانان پە( ڤول اد اتن) سره دبو تو
بارو ته جومات تەرزیدی اودا خیێ ولو کارهم سرته رسید لی وی
تو هڤه خوانده چی ورته پاخەسوی دی وخوری لومری ترهرحەد کلی ملا
صاحب له جومات حڤەراد وزی طالبان ورسرەوی دڤو نی خوندلود
حای ته ورێسی اودار نکە دحا و کیری پەدڤو کارڤ
کی چی حوکستیری سوی دی هڤوی ته دی خدای بری ور کی ی » چی
دڤودی خوندلو کاری پای تەو رسیڕی توحوانا تو ادبنجی چی حه
اندی پیسی به خپل «سپینزیری» اد«لاڤولاڤ نکه» موند لی وی هڤه
ڤولی پیسی ملا صاحب تەوو کیری ملاصاحب وەگوری پە کلی کی چی
هرحو بیوزلی کیسان دی هڤوی تەخه حه پیسی ودکیری . حه پیسی
طالبانو تەور کیری اوورته ووالی په دڤه دکا لو منجوحلو دپاره
صابون واخلی پاتی خواندماد مەاد پاخه دبیوزلو کره داستوی .

## دبرات پنجلسمه

دبێتنو ددودوحڤه یوهم پنجلسمەده چەدبرات دپنجلسمی په شپه
ای بنجی ای پەلاندی ڤولسره تمانجی . دڤالواچولای پەداسی ددوی
لومری یوه نجلی پاکه و لمبوی اد پاك کالی ور واغوندی . مخ
بەخپل ڤکری وربێ کیری ددڤی نجلی ترمخ یومنکی کیږدی په دڤه
منکی کی دبنجواد حوا نانو گوتمی یانور وجیب واده شیان سره
راڤول ادپه دڤەمنکی کی ای واچوی :
ڤال ویو نکی بنجەدمخ پڤی پیغلی ترحنگ ناسته وی هڤه دڤالو
غزلی لەمخ پڤی نجلی سرەوالی اوهڤه شیان چی مخ پڤی نجلی ای له
منکی حڤه را کا ږدی هڤه غزل دهڤه شی د حبیتن بر ڤال
باندی تمامیږی . هڤەڤا کلی غزلی چی خاص دڤالواچولو دپارەلی دڤه
دوی بنجی والی دی غزلوته ترنجی ڤول گوری چی زمایر «کنکی» (۱)
بەحەرنکه دڤال غزله تمامەسی . دهرسیری یابنجی چی ڤه اد پەزده

(۱) کنکی اصلا یو راز نری وښی دی مگر دلته ڤولو دمنکی
شیا نو ته کنکی وایی .

پورې غزله په برخه‌سې نو هغه څپله گوتمې چې د فال د پاره یې په منگي کې اچولې دي او څه نور دي پیسې هم په ډېره خوښۍ د دغو ښځو ته ورکوي داسې ورته وائي چه «خوا ندو ستاسو خولې پاکې دي چه زما د فال غزله چه او په زړه پورې وختله د دوی د غزلو ښو نمونې دا دي» .

د دوی د هرې غزلې په پای کې وائي «لیلو و کاږه کنگې»

د تېر کوڅه در ننږې      مرغلرې تر تو پېزې لیلو و کاږه کنگې

کوچنی دې کوڅه کې      له سرو زرو لیونی لیلو و کاږه کنگې

د آسمان منځ د سپوږمۍ وږي      ځنی را ولوېدې د سرو زرو لکۍ «      «

کرونده سوه لوتی لوتی      ځنی را وختی د زېړو گلو غوټۍ «      «

تر کلا وروږه بیار اوږه      دا پور کې لستوني ډك له گلو راوړه «      «

تر کا شنه لاندې وښکی      گران مې له زرو لیونی «      «

پر کور گلیم دې غوړېدلی      ځنځیر و رسته‌ی سپوږمۍ منځ یې خم ندی خوړلی

لیلو و کاږه کنگې

د چومات په مخ ریشکه ده      بی بی اودس پر کړې بی باړانه زر غوټه ده

لیلو و کاږه کنگې

د غره په سر کې خوش خبره      که موږ ې شل اورتی وکړې زه یې امیره

لیلو و کاږه کنگې

خدای دې د گلو وخت نژدې کړي      چه زه خپل یار له گېډۍ گېډۍ راوړمه

لیلو و کاږه کنگې

زما او ستا دیدن دې وسی      پر هغه ځای دې بې باړانه گلان شنه‌سی

لیلو و کاږه کنگې

پوهېږم شین خال بل لو تکېن دې      چې جانان نه دې یو کړي پر ما ناورین دې

لیلو و کاږه کنگې

د ونې ښاخ له گلو زانګي      زه چې یې گلو ته وچه کلکه سومه

لیلو و کاږه کنگې

موزیکی مچ خوله لی ژاړي   لیلا ښامار خوله لي شنه‌سی وخاندینه
لیلو وکاږه کنګی
موزیکی شین له خندا راځی   په لمنګی کی چا نښی ور کړي دینه
لیلو و کاږه کنګی
موزي وهه په مڅکی چغ که   بریښوانه لی پربېږده خوندران به په تېروونه
لیلو وګاږه کنګی

## دهو کی دود

د پښتنو له‌دودونو څخه‌یو هم دهوکی‌دود دي : ـ

دهوکی‌دود په‌ډېر مودرناوي اداکیږي اوډېري د خوښی ورځی دي داځکه‌چی لوی‌ږی‌پلا دلور دپلار او دزوم دپلار دوستی سره کیږي په‌دغه‌نسبت دهوکی دود اوپایده په‌ښه توګه‌پای ته رسوي لومړي دزوم‌پلار له‌ور سره‌څه کسانو‌اود‌کلی ملاصاحب دغه‌بل کلی دلور دپلار کره ورسی‌وروسته له‌چاي‌خوړلو دزوم پلاردلورپلار‌ته‌ووائی «چی‌خوراودلور دپل دکوردي نوموړه تاته راغلی یوستا وودوستی ته موږه کیږي ستالورزمازوي پلانی‌جان‌ته راکړه دلور دونه بار راباندي واږوه چی‌زه تر لاندي ولاړسم اوپه ښه ټوګه دغه ولور درکړم اوخپله‌نږوردرڅخه واده کړم »دلور پلار« ورورو زموږ په ټبر کی دښځو ... ولوردی .

هغوی ( با یېږي) هم پرکوی« زه‌دبا یېږي سړي‌نه‌یم » دزوم پلار وایی دهغو د ټبر په ولوزمی دزوي د پاره منلي ده او د لور پلار هم هوورته وکړي د لور پلار ورته ووائی: تاسو پنځه‌کسان‌راغلی یاست‌زما میړانه دا ده یو یو زرافغانۍ می سړي سرد ولور د پیسو څخه‌ود برېښو د لی . د زوم پلار پنځه یاشپږ زره‌افغانۍ د ږد غـه

هو کی به ورځ د لور د پلار ته ور کړي نو خپلو ملګرو او د لور د پلار ته مخ واړاوه دي داسې وواېي چه خداى دي پر نورو لور د هم برې د خير را کړي چي دوستان مې را څخه خپه نه سي او د خپلې نږور د ولور پېسې په ښه توګه د دې د پلار ته ور کړم او خپله نږور په ښه توګه واده کړم د لور پلار واېي . تاسو به نن داسې پاتې نو موږ به ټول خوښ سو . او نیم کړي کار به مو هم سم سي د لور پلار ډوډۍ و کړي . د کلي سپین ږيري او ملاصاحب او نوري خپلې خورلني هم ودغې ډوډۍ ته راوړلي . د لور پلار د خپلو کلي والو ته داسې ږغ و کړي « خور او لور خو چا تر سپینه سره پورې په خپل کور کي نه دي کښینولې نو د ادې ما له پلانې سره دوستي و کړه نه پوهېږم ؟ چي تاسو به څه راته ووايست « زما به فکر سره دغه هلك او نجلۍ سره ورته دي د بلي خوا دوي هم خپل خلك دي نو مې زده ودغې ځېښې مې ورسره و کړه » د کلي د سپين ږيرو ځواب ورو ره تور پېکې جانه په خپل ښه خوې او ښه عمل د ټولو کلي والو خور

لور ده ستا پوازې لور نه ده زموږ د کلي والو ټولو دا خور او لور ده له زاړه تر واړه له نره تر ښځې د دې په حق کي داسې دعاوي کوو . دغه پېغله دې خداى زرغونه کړي چه مېوې ئې نه خلاصېږي

د نجلۍ پلار ووايي «دغه ټولي ستاسو دعاوي دي چي ددې قسمت په ښه کور او له ښو خلکو سره دسو » په دې خو خبرو د زوم پلار هم خوښ سي د هو کي دود او بايده د لور د پلار له خوا څخه د زوم له پلاره او ورسره ملګرو سره داسې کېږي يوه لويه کاسه له مېوې څخه ډکه او پر سر ئې هغه دسمال چي د لور مور په اوږده موده کي په داسې ډول سره جوړه کړي دي چي په يوه پلو پورې ئې لوا ګټه ددې دا ئې بچي څوړندي دي په نورو پلوانو ما لګه او په نورو پورې ئې خاص خوږي څوټه دي دا څلور شیان د دسمال په پلو ا او

بوږي ددې د پاره غوټه کوي چې نجلۍ او هلك په مالګه لړو سره
خوښ وي چې د دې د پاره وي چه دنیائي ډېره سي . نو ځکه
پښتانه دا متل کوي چې وائي : بخت یا پر کرتي - یا پر کوځی دي
د لور پلار شپږ جوړې کالي او شپږ بګړۍ او یو یو دسمال له
میوې څخه ډك و هر یوه ته ور کړي . څو کوچنۍ کمیسان څو
دسملونه نور هم ور کړي اخیري دعا و کړي نور رخصت سره داخلي
او د لور پلار د ځواني په توګه تر خپل کلي ور سره راووزي او
هغه دسمال چې د هوکي د پاره جوړ سوي دي د لور پلار د زوم
د پلار په سر کي ور دڅومبي نو خداي په اماني سره واخلي چې له
دغه کلي څخه لیري سي نو د زوم پلار که هر څو سپین ږیري هم وي
چه د زوي ښه او د خوښۍ ورځ ئي وي هغه دسمال ئي په سر کي وي
او دي په لار کي اټڼ کوي . د زوم مور خور ترور او د دوي نږدي
خپلوان ئي مخي ته ورسي . د زوم پلار ږغ و کړي . په منډه ورسي او
وښځو ته وواياست چې د هوکي دستمال مو راوړ دریاوي ډهی ډ
هلکان دغه د خوښۍ خبري بیله معطلۍ د زوم و کور ته ور سوي
په هغه ګړي ښځي سره راټولي او د زوم کره پر چوتره کښېني
څو ښځي د دستمال د څړولو ځاي ته ولاړې وي د زوم مور بدني
له اوبو ډکه کړي او د هوکي د کسانو مخي ته ئي ورو ړي دا
ور ته وائي «له مخي مور ناسه» او به ومخي ته ور وپاشي بیا نو
د زوم مور له دوي سره هر کلي و کړي او پوښتنه ځني و کړي
«زما د جان د هوکي دستمال مو په خیر سره راوړ دوي ور ته
ووائي . چې د ډېري خوښۍ ځاي دي چې هوکي و لور
او نور دود او بایده ټوله زموږ په زړه بود ي پاي ته
ورسیدل دغه د راوړو کالو غوټه دزوم ومور ته ور کړي . دا غوټه
واخلي دوي او نور د کلي خلك په کور کي چاي خوري په کلي ځني

ځینې کسان چې ښځوا زوم له پلاره ځخه خپه سوی وي . او د زوم پلار هغوی ته کور پر کور ودسې ورته ووایي چې ان خو زما د جانۍ ښه او د خوښې ورځې ده . تاسو هم راځئ او مه خپه کېږئ هغوی پخلا کېږي و خپل کورته یې راولي . هغوته خپل راوړه ئ کالي ور کېږي . او دا نور دسمالونه د نوږو کلي والوته ور کېږي . هغه څو کسان او دستمالونه هم په دغه توګه سره ور کېږي . او د هو کې دستمال د زوم د خوانۍ په وره را دځوروي . د کلي ښځې سره راټولي کېږي « لمړي پلاښځې ټولۍ په تاسو د هو کې دستمال داسې ستائي !

لوی دستمال ده لوی ئې سور دی
د پلار په سر کې راووړه د کاکا پراوړه د خپور دی
سکانې ښې تر نو که سری دی
زما د جان دسمال ئې راووړه پر د ښمن ئې سری امېي دی
خور ښادي ده غم ئې مه کېږی
ښادي خو زد جان ده خدای به توره خوائې مه کېږی
کاغې مشو که کښته کې لونګې اخلی
زما د جان دسمال مور او وړله زړه ورنګې اخلی
خور ښادي راغله پر غولی
پر غولي راخپره سوه د اغري تر کو ټجو پوري
د ښمن خوای ولاړدی زنه پرزی
زما د جان پرخون ږغ دی د ښادي
خیښې جوړه کړه مشدي سره دسملونه
زما د جان تر برونه ډېر دی را به سینه
زمونږ خیښې خو تنګې غولي جوړه کېږي ده
خیښې جان مې نه زره راغلی ده
سکانه لم ده مي میدان ئې ښکلی ده
میدان خوز ما د جان سپر ونیوای ده

## د ښځو د ساهو اتڼ بڼګونه :

اسپه یم بهانه ـ تاویزمی د سرو زرو دی په ګاڼه ـ په برخه دموزی یم
دموزی پراخوا تل د چه ولاړه ـ کیږد ، کمیس پر ګرده پیغله چوړ دی
ټـوله شپه پـاری کـیږی ـ سهار لوبه کښوی چی په مـاورد دی
دادمه سپوږمی دادی پیرونی ـ راختلی دار خطاده ـ ما ترلا لی چار کیږی
په لیمو شپو ګی خه وړاندې خندادی ـ داملکه د کوټی چتی دور دی
د هغی چتی ورور دی ـ چی یی او ربل ابدولی لو ری په لور دی ـ
که دوی دی په اتڼ کی پیغلی دوی دی ـ دیـوی دپیټ کمیس دی
د بلی ملتا نی چوړه پټو ده ـ غاړه دی له ماره بی ابریښم ـ
کـه نه سوه پـرا بره ـ پـیا غـا ړه غټر وه لـکـه کـنـو تـمـره
تور دلی می مړی د ګر یو ان دی ـ بل چاته به ګی ورته کیږم
هاهو خواری میندلی په ارمان دی

## د ښځو تو داتڼ

د ښځو تو داتڼ سرا ونداری د دول ډول او پای ئی یو دی . دلته داهم باید ووایو چی کوز دی همیشه د خوږ منی د ګلو په وخت کی کـوی چه د مخکی پر مخ د ګلانو سری او ژیړی کمبلی غوړیدلی وی . په هوا د زانو کتکی وی د هو کی راوتلی په کور کی د پیغلو او ښځو اتڼونه وی.

## اوس به د تاوده اتڼ ناری راوړو!

نن چی د ګلو باران سوی دی
زانی ـ زانی له اوبو راغلی زانی
که زانی راغلی شنی کوتری
له باغو راغلی زانی زانی زانی له اوبو راغلی زانی
مانه اودبل کی انار ګل ټمبلی دینه
ای زانی ـ زانی له اوبو راغلی زانی
ته به هو کی کیږدین مه سه

ای زانی زانی له اوبو راغلی زانی

هره کړچه(۱) په‌سندر لړلي وینه
ای‌زانی زانی له‌او بو راغلی‌زانی
تن‌می خپه زړه‌ګی خوښی کړی
ای زانی زانی او بو راغلی زانی
چې‌دهوکی اتن می ورك کړل‌ټول غمونه
ای‌زانی زانی له‌او بو راغلی زانی

امیل د پښتنو د ښځو یوه لویه او په زړه پوری ګاڼه ده چې دغه امیل په دوه ډوله جوړه وی یو ډول یی د«غبرګ امیل» په نامه دی او بل یې دیوستوی امیل په نامه یادیږی دامیل منځ ډیر لوی او په مخ کی ئی غمی ور ږدی او د دانو لوی لوی (دقی) په وهړوی او ګوګری (۲) چې له ډیرو دانو څخه جوړوی هغه تم د امیله د منځ په ورو ستنه ډانده ی ور ګنډی .

یوستوی امیل دیوی او ږدوی دپاره جوړ وی . او غبرګ امیل د دواړو او ږدو دپاره وی چې ښځې ئی داتن په بای کښی داسی ستائی :

زما هغه نجلی ورینداره ده ــ درونده ده امیل
په غاړه ئی نه وړم سنګین ده امیل
چې مخامخ ورځې ده‌ی شینکی ئی خال ده درونده ده امیل
په غاړه ئی نه وړم سنګین ده امیل
خدای دی وړو کی و اینداره را کړی درونده ی امیل
په غاړه ئی نه وړم سنګین ده امیل
چې خوله ئی سره دی سترګی مړی سړی اړوینه درونده ی امیل
په غاړه ئی نه وړم سنګین ده امیل
سر دی پرسر د لستوڼو کیږده ـ ای درونده ی امیل
په غاړه ئی نه وړم سنګین ده امیل
تا به دسر و لستوڼو ډیر کړواره ماتونه ای درونده امیل
په غاړه ئی نه وړم سنګین ده امیل

(۱) کړچه : په درو فتحو هغه ښځه چې خیرن او زاړه کالی لری .
(۲) دتی یو ښکلی او ګوګری دامیل یوه خاصه برخه ده .

## د زوم ښکاره کول د پیغلې په کور کې

چې د اتڼ او هوکې دود پای ته ورسیږي . نو همیشه د زوم مور و خپل زوی ته وائي چې د خوسر کره ورشي نو په ډیر ښه او درانه خوی سره کېښېنه او ولاړ نه شې. زوم نو له مور څخه شرمیږي په کلي کې له خپلو همزولو څخه دغه د خسر د کور د تګ مراسم ښه زده کړي . نو چې د زوم پلار هم پوه شي نغدي پیسې پیدا کړي نو د لور د پلار ته احوال واستوي چې که ستا او ستا د کور والو صلاح وي پلانی جان به ښکاره کړو دا ځکه چې کوژده او واده لا څه کوي د زوم ښکاره کول په ژوند کې بیل وخت دی د لور د پلار جواب «ورور ه ښه ده چې ستا خوښه ده نو زمونږ هم خوښه ده . دا ځکه چې یو خو به مو د لور پور سپک سي بل به موږ دی او لور سره شناخته سي یو بل به ښه سره و پیژني دا جواب چې د زوم و پلار ته ورسیږي . د زوم پلار هم خپل ځان برابر کړي په کلي کې که هر څو کورونه وي کور پر کور سړی که په کلي کې هر څو کورونه وي یو یو سړی ځني راو بولي . چې ټول د زوم کره سره یو ځای سي بیا نو ټول یو یو دار زوم ته نظر تیر کړي . نو د زوم و مور ته ووائي . ستا د زوی رنګه او درنښت په ډېرو خلکو کې نسته . یو سړی ترمخ د لور د پلار کره واستوي چې درغلو زوم هم ورسره دی چې هغه کلي ته ورشي نو یو د توپکه تکه و کړي . د هغه نجلی د کلي ښځې دروازه ورته پورې کړي او نه ئي ورته خلاصوي . تر څو چې زوم ځه له څو روپۍ ور کړي ی بیا نو ورخلاص کړي . هغوی هر کلی ور سره و کړي . بیا نو ټول په یوه خونه کې ناست وي

چی ڤوڤی وخودانی سێ ئو دیپغلی دکوژخخە «نکرمی» ورتە راوەدی
اودەڤولو لاسونە پەوورسەرە کری چی دخەد ود دلاس سەرە پە ناما
یا دبڕی. چی سهارشی نودغە داغلی کسان خەخە ییسی سەرەڤولی
کری اودغە بنمیتە چە «نکرمی» لیورتە راوەدی وی ور کری.
دسهار ڤوڤی وخوری نونور کسان رخصت،سی زوم او یو دکلی سەری
یی سەرە پاتی شی. او خو ابنی لیورتەرا شی او خپل زوم وو ینی.
وروستە بیاخوبنی ورتەراشی اوهن کلی،ستەری مە شی ور سەرە
و کری. دزوم خخە چید بوشی بوبنتنە و کری نولە زوم سەرەچی
یو کس بلدی هغەحواب ور کوی داحکە چی زوم پە خبرە کی بندنەشی.
دزوم دماشام ڤو ڤی ما لیدە بولیچی لو مری د و ینبلی خخە
پخیزی او خاص دزوم دپارەلی پخوی.
دخوانبی لەخوا خخە دزوم او ورسەرەملکری دپارەلی راوەدی.
نوزوم چی لمری گولەواخلی هغە گولە لی خو بنینە لە لاس خخە
واخلی دغە گولە لی پیغلی تەوروەدی او هغەلی وخوری. زوم او
ورسەرە ملکری لیدوە سوە افغانی پەدغەمالیدە کنبی ور کری داڤولی
خبری چی دگولی او مالیدی دی ددی دپارە دی چە زوم او پیغلە سرە
خوبنی دی چی ڤوڤی وخودی ورسەرەسەری تە پە بلەخونە کی ځای ور
واچوی. یوازی زوم پاتی شی نوکەزوم وخپلو خوبنینو تە تەڤگری
ورکری ودعنی خوبنی دی. خوهیخ او کەلی ڤکری نوو ور کری
نوزوم چی ویدە شی خوبنی لی پەهغە نهالی بوری وگنڤی دی. چی سهار
دځای خخە کنبینی کە گوری چی گنڤلی وی، نوژرژر هغەڤکونە پری
کری. چی بیا دچای وخت شی اوخوبنی چای ورتە راوەدی. نو بوبنتنە
ځنی وکری شپە دی بنەتیرە سوە. زوم هوشپە می بنە وەخوتاسو گنڤلی
وم. دزوم سرەسەدی هم ولاڤشی یوازی زوم دپیغلی پە کوڕ کی پاتی
شی. پەدغە شپەلی دپیغلی کاکا میلمە کری چی هغوی هم ورتە دخپل

زوم په ستر ګه ګوري. او مېړی چې زوم د پېغلې د کاکا کره ورشي او
هلته ډوډۍ وخوري هغه پېغلې ته وربښه‌ین دستمال له مېوې سره ډک
ورکړي چې په دغه دستمال کښې خوږې او د تسپو وتي اچلو تي
هم په دغه دستمال کښې وي. نود خواښې کره ورشي. د خپلې خواښې
په لاس د هغوی ټکری ور واستوي دغه شپه هم دلته وي په دا بله شپه
د خواښې ته وواېي چې زه خو هم دا ورته وايي ان لا هم دلې او سه به
دغه شپه نود «پلوغوتۍ» په نامه څو پېسې د خپلې پېغلې ته ورکړي پېغله
خپلې مور ته دغه پېسې ورکړي. مور ئې دستمال او اوري مېوې د خپل
زوم ته ورکړي او خپل کورته ئې رخصت کړي.

د پېغلې مور هغه «پلوغوتۍ» پېسې په ټول کلي وویشي.

زوم چې کورته ورسي که له خپلې پېغلې سره نو خوښ نو د هغه
مسئولیت ئې د مور او پلار په غاړه‌وي داځکه چې لومړۍ به زوم دغه
پېغله لیدله بیا به هوکې ځنې را اوړل کېدو او که زوم له پېغلې سره
خوښ وي. هم د خپلې مور ته حال ووایي.

## د پښتنو دهوکې دودونه

چې دهوکې دود پای ته ورسېږي نو دواده په کار دزوم پلار او
د نجلې پلار بوخت شي. چې دوی هر یو به لاندې ډول دواده کولو خپل
هغه شیان چې اړه په لري اخلي او تهیه کوي ئې دواده بوښ کوتونی(۱)
او دواسي نور شیان چې دوی د خپلو کورته د واده دپاره را وړي.
. نودا سي خوښي او اټکل کېږي لکه په دغه ورځ چې په واده ځی
یا واده راوړي هغه کالي، او ګاڼې چې خاص د ناوې دپاره مرد جي
دي او دزم د پلار له خوا څخه تهیه کېږي. اوځینې کالي اود ناوې دي

(۱) : د شپو بو پکه

کوم چې د ناوې د پلار له خوا څخه د زوم د پلار ته ور کول کېږي دغه دواړه خواوې ټول مربوط شیان په وښیو .

## وناوی ته د زوم د پلار له خوا کالي

د ټکري د پاره ټکیالي او د چولي کمیس د ناوي د لومړۍ ورځې دي د سندوف کمیس او لونګۍ د ټکري د پاره . د دریمې ورځې دي سالو ټکري او د الچي کمیس د ناوي د اومې ورځې بوټ دي دغه ټکیالي او چولي دواړه خاص ـ له ور ورو ریشمو څخه جوړه دي چې خلک یې دوه دوه پاره اخلي نو د لوړه بیې او ګران دواړه خواوو ښځې نه خوښوي . خو چولي او ټکیالي ښه خوښوي .

## د ناوې ګاڼې

ګولماخي . غېږکې امیل د دواړو او بوټۍ یک ، سیره ، لته ، چار ګول ؛ غوږوالۍ ، پېزوان ، بنګړي ، پا باهو ګان ؛ د لستونو په سکڼي روبۍ ، او پاوونه .

## ګول ماخې

ګولماخي د ناوې د پاره جوړه دي دغه ګولماخي یو پا یو نیم پاوو درنې وي او دغه ټولي د زرو څخه جوړه دي او غوټې هم لري چې ځینې یې یو یوړه دي او ځینې دوه یوړه وي ؛ لمنې هم لري چې د زوم مور یې په هغه ټکیالي پورې وګنډي چې ناوي یې لومړی پلا پر سر کوي ، پر دغه ټکیالي باندې بیا یو شال وي چې د ناوې د پلار له خوا څخه د ناوې پر سر باندې لوېږي او د خوسر تر کوره پورې یې ګولماخي پټه وي .

## امیل

امیل د ښتنو ډېره ښکلې او ښه د خیال له ګاڼو څخه یوه ګاڼه ده چې د ناوې یا نو او ځینو شته منو خلکو د ښځو وي یو سلوي امیل د هرچا په کور کې سته دا ځکه چې بیه یې لږ ده .

## ټیکه

ټیکه کوچنۍ وي او تر یوکي لاندې یې پر تندي ږدي لمنۍ نه لري چې پر سېره پر ټیکه باندې سېره ږدي چې تر ټیکه لوړه او لمنۍ هم لري دا پر تندي ږدي او پلوونه یې تر غوږو لوړ بندېږي که سېره له تندي څخه لیرې سي او هغه ټیکه یې پر تندي وي که څه هم دغه ټیکه ډېر ووړه دي خو ډېره ښکلې ډېر خوښ وي او په هر ځای کې یې ستایي پر ښځو چه زوي یا ورور ډېر گران وي در ته وایي ... جان خو زما ټیکه دی .

## لښتۍ

لښتۍ په یوه غوږ دوې داني وي چې یوه لښتۍ کښته د غوږ په پای کې ځي وي بله یوه د غوږ په اوږد سر کې ځي وي چې کښته لښتۍ د چار گول په پلوۀ پوري وي چې داسې سندره پوري وایي :

نجلۍ چه په پزه دې ده نته

که دې مور ولاړه نه وای — دغه نته به دې نه وړه سلامته

## غوږواري

غوږواري غواړه غوږ دي او لمنۍ هم لري چې لمنۍ یې کښته پر غوږ و باندې ځوړندې وي د غوږ وارو مینځونه خالي وي چې د و ی لوی او سپکه وي .

لالیه غوږواري به کړم پوري — سترگي به کړم توري

په انجنو کسې به کښېنم — چې د خیال گاڼې مې هره پیغله گوري

## پېزوان

په پوزه کښته ځړ وي چې وړه وړه غوټۍ لري :

دا میله پر بندرا خېژه — شپه پر پېزوان څرخ له سیري وا خله مینه !

او به می څښی ښېروان می لوند سو      په نوی بادیې وچوم ارمان کومه!

ښېز و ا نه خاندې هو سبزه      سبا! خبر دی تا به ښیار ا څې ومه

دغه پورته کاڼی او کالی ټول دزوم د پلار له خوا تهیه او د نجلی د پلار ته یې ور کړې ودته ووایې چې دغه کاڼی می د نږور دواده دپاره دی هغه به خندا ور ته ووائی د دی د پیغلتوب کاڼی به هم ور کوی .

## د لور پلار

هغه شیان چې د لور د پلار له خوا څخه دزوم ، و پلار او د دوی و خپلوانو ته ور کېږی اته جوړې سپین کالی ، پنځه جوړه ی کالی د پنځو د پاره او څو جوړې کالی د کوچنیو هلکانو او نجونو د پاره جوړوی او د زوم په خپلوانو یې په هغه ورځ چې ټول خلک ولاړ وی اغوندی هغه کالی چې خاص د زوم د پاره دی په سپینو ور یښمو یې گنډلی خولی او غاړه مزغی ټول په ښه توگه سره چکن سوی وی همدغه رنګ دزوم د پلار کالی هم پوځه تر نورو کالو ښه او په خیال جوړ سوی او په زړه پوری وی د ملا بکړی او کالی هم ښه وی .

## د ناوی کور

د لور پلار چې کوم شیان و خپلی لور ناوی ته ور کوی نو هغه ټول د ناوی د کور په نامه یادېږی دوی کمبلی یو کورچنی ټغر یو بوغ بند خوداني بالښتان چې په رنگه تراټو سره چکن سوی وی او په سر و پوری اوږده وټی ور ځېږی دغه تراټی او وټی یې د اسی ښځې چه دغه د ناوی د کور دی او د ناوی په نامه یادېږی یو لوی گیلم چې د ناوی گیلم یې بولی هم پلار ور کوی په هغه خونه کی چې لومړی پلا ناوی کښېنی د هغی خونی پر کو کویې اچوی او کښته څوړندوی هغه نور کالی چې و ناوی ته پلار ور کړی وی هغه ټول پر کو کوږ دی بیا نو دزوم مور د کلی ښځې ټولی را وغواړی او ور ته ووایی د ا ځای د خوښۍ دی چې و ما ته خدای زوی را کړی دی او دغه کور او ښځه دده دی نږه به هم له خپلی دغی نږور سره ښه کوم .

## گریوان

گریوان یا گریوونونه ، خاص د ښځو د پاره وي لکه د انرو د پاره چې گنډونه جوړېږي همدغه رنگه د ښځو د څیگر و خولاوي په وریښمو چکن د تراڅي او اوبدو سره گریوان بولي چې دغه گریوانونه هم د لوړ د پلار له خوا څخه د زوم و خپلوانو ښځو ته ورکوي . د لوړ پلار خپل شیان برابروي او د زوم پلار خپل شیان چې الهٔ په لري برابروي د زوم د کلي ځوانان او هلکان او د ناوې د کلي ځوانان او هلکان چم چړې جوړوي خپل کالي او گنډونه برابروي .

## چم چړې

چم چړې له خوشیانو څخه جوړېږي . چم چړې د زوم او ناوې د کلي ځوانان او هلکان داسې جوړوي ، چې د انرو او زړنه او څه ونې شکې او کنډې سره گډ کړي ښه یې سره ولږي بیا یې نو لکه گوټي او دي او پړدي جوړوي او په سرو کې یې پټا کې ور ایږدي له پټا کې سره یوه دانه د اور لگیت دانه هم په چم چړه کې ښخه او د مسالې خوا یې لونډه پرېږدي ، کله چې د انرو ورا سره ټوله شي او په مابنام کې د ناوې و کلي ته ور نږدې شي ، نو د توپکونکا او د ډاله شرنگې وي ، ځوانان چرخېږي ، په دغه وخت کې چم چړې نه هم اور وا چوي او پورته یې غوزاري کړي د چم چړې شکې چې په زړنو غوڼدي دي اوریې اخستي وي نو دغه شکې لکه د اور بڅري کښته را ځي کټ مټ لکه د جشن آتش بازي .

## دوا ده خړه

دواده اسباب سره راټول او سمول « دواده خړه » بولي . لکه کله چې دا شیان سم شي ، نو د لور پلار د هلک پلار ته احوال کوي چې ورو ره زما کار ونه برابر دي ، او په کومه ورځ چې ستاسو « ورا » راځي نو د وي ورځې ترڅانلو د مخه یو سړی را واستوه چې موږ خبر شو

چې سهار ته «ورا» راځي . د زوم پلار ځنې خپلوان چې په نږدې یا لیرې کلوکې دي ، یاخود لنې چې په نورو کلوکې واده شوې دي ، هغوی ټول سره راټول کېږي او خپل کورته یې راولي په دغه وخت کې د زوم د کلي ځوانان ډم ته ورائي چې ته خپل ډول سم کړه او زموږ ویږغ ته گوره . په دغه وخت کې چې ډم ډول جوړ دوي ښځې داسې ورته وايي :

ډمه ! د ډاله لرگي دې مات شه

ځواني دې واده کړې داځلور روپۍ دې زار شه

چه ټول خپلوان د لیرې او نږدې څخه سره راټول کېږي ، نو د لور د پلار ته سړي واستوي چې سهار به زموږ «ورا» درځي ځان دې سره اوچت کړه سهار چې ورا ځي نو ټن ځوان سره ولاړ ، او پېرې خیرې او ځوانان ځوانې پر یکوي او ډاله وغرځیدلوته یې سموي او پېغلې خپل کمیسونه په کنډو چڼې ، او دریاوې سموي .

## د ښځو ورا

دزوم له کوره څخه لومړی د ښځو ورا ځي کېږي چې دغه د ښځو ورا د غرمې په وخت کې ځي او د زوم خپلوان او ځو نور سپین ږیري ور سره وي دوی یو غواډي او ډه پر یو «اوښ» باندې بار کړي دغواډي په منځ کې یې د زوم مور سپره وي او داوښ مهار یو سړی ځکوي او کوتونی هم یو سړی یادوه کسان راځیوي ترڅو چه د ناوې د کلي ته د زوم کلي د ښځو ورا ورسي .

## د ناوې د ښځو بدلې

د ناوې د کلي ښځې د زوم وورا دالوته په بدلو کې ځکه پېغور ور کوي . چې له هغوی څخه ناوې ډډې .

ورا دې را غــلـه ټــك يــې نشته

موږ به دارو ور کړو د ویښتو سړی یې نشته

ناوې د سوزو لمبه وکړه سر سا به دې سه
زوړ خسر در ته ولاړ دی صدکه دې سه

ناوې پـر پـلو دې پېـلو ده
ناوې ! ورا دې تـلو لـه د ليور وده

د نجونو سېر لـې ورك دې پـه دمو كـې
هيڅوك شر مسنده شي پـه ميـړو كـې

د نجونو سېر لـې مسنـدې را وهيـنه
دزوم پلار يـې پـر لكـې څوقـې وهينه

بورې خوا زړ گـر دې را ولـو بـه يـې
دخپل پـزه كـړه ده چـودو و بـه يـې

كـميس دې دوړېښې الـه چـپ دې
لـنو نـې دې د بـل د د و بـزې دې

توم دې د كـا بـل د سر دا را نـو دې
كـود دې دخـز لـې د ملنكا نـو دې

نوم دې پـر كـا بـل يـا دبيرې
اوږه كوتونې دې بـه سـپردلـه بيدا كيږي

بـو دې اوز گـونې څلـور دې بـا ستي
دزوم ور وره اسي تـه ولـې داز ځـا ستي

كوتونې هغه پسوله دې چې دزوم له خوا څخه يې ددې دښځو له وراسره دلور دپلار كره د ودلي ، اوهلته يې دواده د باده وقولو خلكوته حلالوي ، پهدغه كوتونوكې پومې ، پاادز گودې ، پاسپر لكې دناوې دكلي دښځو وي چې ژوندې يې بيايې او خر څوي يې كه يې دزوم پلار ورته كړي نو په بدلو كې پيڅور وركوي ا دزوم دنرو وراچې په ماښام كې ورشي نو په كوڅو كې او په كلي كې

ډول په وهه لښته ډهل کیږي او د ټوپکو ټکاوي چرخي
دوئي چرخیږي سپین ږیري هم خپل څادران پورته، پورته غورځوي
او دهاء هانادي وهي او په دغه مېږ و دوږ کې وړاوال او کلي وال
یوه یوه «چمچري» پورته غورځوي او بیا یې بوبل ته اچوي د ناوي په
کلي کې د ډاله پر میدان ښه څرغونه څوږندوي، چې ځوانان پر هغه
میدان خپل اتنونه کوي دا نور کوتونی حلالوي او د زوم د وراښځي
ډوډۍ یعنی «باسټي» پخوي دغه ډوډۍ او باسټي د سهار د وړاوالو
او د ناوي د کلیوالو د پاره برابریږي او د ماښام ډوډۍ د ناوي پلار
کوي. دغه کارونه ټول نارینه کوي په دغه شپه نارینه غوښې پخې او
ځنې سپین سري ښځې باسټي پاخه کړي نوري، وړاوالي ښځې او
د ناوي، د کلي ښځې ټولي په یوه انګړ کې دي چې د زوم د کلي ښځې بېلې
دي او د ناوي د کلي ښځې بېلې دي دوي یوبل لوته په بدلو کې مسخري
کوي د زوم د کلي د ښځو د بدلو یوه نمونه په وښیو .

## بدلی

نن مې د چار ګول غمې وتلي دي
د زوم پلار لکه چوال داسې ګنډل دي
زما جانان مې حلالوي
هابل هم ورته ناست دي د کلمو پکې په تېري
زموږ د ناوي ټیک د مرغلرو دي
زما جانان خیالي راوړي له کابله دي
زموږ ناوکې زېړه لکه لوخړه ده
دا خپل ورورېږي را کښلي له سندوخه ده
زموږ سپیڅي روبي لکه ډبري دي
زمونږ توي کړې د بلانې بر ډبه ډولی دي

شنه باغونه مو کړل گل له باغچو سره .
شنې چاینکې راوړه . له غابو سره .
سپینې روبی تا خوړې کلمه اړی
اوس موږ ته کالي واچوه . نا سیالی
ناوی اهی که اسویلی کړه
پلار در ته ولاړ دی د خه لوی زړه . بې لری که
ناوی په ژړا ژاړی لېڅی نغاړی
دامی له بابکه څخه دو . کوږ و نه غواړی
سوراوبن چی غرغره . کی وتی نه لری
دخپښ بهوگی ورك کړی دا زګه نه لری
اوس به دغرمې تنور تو د یږی
اوس به زما د جان ناوی سپر یږی
پر سر می د تو پکو ټکهار دی
موږ به ناوې یوسو ستاسو ولی بخهار دی
موږ به ناوی یوسو له کوتو له غوسره .
موږ به خپڅې پر بږدو له پوری در کو سره .
وروسته له بدلو څخه د ناوی پلار د ناوی کورا چوی په دغه وخت
کی وراوالی ښځی بدلی ورته وایی :
دولور یېسې دی هېڅ نه تمامیږی
او کور دی داسی سپك را معلومیږی
سره سو . سره . غومه سو .
ناوی زیړه . زرغونه سو .
که نن مو دلته شپه سو .
سو د خپښ میشه سو . سو .
سر دی لږکه خلی . منزل دی لږکه خلی



PROPERTY OF ACKU 32580
PROPERTY OF ACKU

دونه سوړدي کښېلي　　　ته وا سوړ کوردي راوړي
ناوي ټينګک نسه نندي　　　چې پسر د رخسې سپر خي
که دي له دې دارو ټينګک نکو　　　بيا بي نه کړي تورپيکي
ناوي ښه‌سي بده‌مه‌سي　　　زما د جان پرتوم زړه‌سي
سرتوره کوڼه‌مه‌سي　　　د بل چا ته پاته مه سي

چې ناوې پر اوښ سپره‌سي دا په هېن ژړا کې درې پلا پر اوښ ولاړه‌سي او کښېني. بيا د ناوې پلار، او نور د کلي سپين ږيري او اوکاکان ناوې په پلو انور وهي، ناوې په خپل خاص څول سره ژړا کوي. اوښ ولاړسي. نو په دغه وخت کې ناوې درې پلا خوږدي ترشاو پاشي چې د کلي هلکان هغه ميوې ژر ټولوي دا نور ورا اوځول ترمخ څي او ډېښوور ادوی له اوښ سره څي، چې په مخ کې د بل کلي ته ورنږدې‌سي، دغه کلي ښځې بدنی له او بو غضه ډکې کړي او په مخ په د ناوي د اوښ ومخې ته ورسي د اوښ په مها د کې ولوېږي اوښ څپ کړي د ناوي ته او به هم ور کړي او ډبې هم کوړي. بيا نو پوغه ميوې د ناوي په سر باندي ورو پاشي چې د دغو ميوو او پاشلو خاص نوم «خولې» دی چې ناوې کورته راوړي. او تر هغو پوري اوښ ته «څپ» کوي تر څو چې خوسر پې د ناوې پرنامه بوڅي لکه لښکه څوا يا بل داسي شي ورکړي. بيانو اوښ څپ کړي، او ناوي را کښته کړي د کلي ځنې ښځې چه په دغه وادو ته دی تللي هغوی د ناوې د مبارکۍ ته ورځي. کوړي بې او خوږدي پر پاشي. چې ماښام سي نو ناوي له خپل ځان سره چارو کښېږدي چې سهار لانوی، نو دغه ناوي له خپلی خواښې سره ولاړه‌سي او لومړی جومات جارو کړي بيانو دغه نږدې خپلوانو او خپله حويلی پاکې جارو کړي، نو خپلي خواښې سره کورته ورسي.

## سرووُر

د ناوې لومړى پلاتګې دمېږه له کور څخه د پلار کره «سرووُر» بولي چې ناوې د خوسر کره دوې، د دې مياشتې تېرې کړې وروسته دمېږه له کور څخه د خپل پلار کره ځي نو مېوې او سرې کړې اکي په خورجينه کې واچوي، له خپل پلاره سره رهي سي د کلي واړه هلکان او ځني نږدې خپلوانې ښځې د ناوې ومخې ته ورسي او په ځاډه کې ورو لوېږي او هر کلي ېې وکړي. هغه خوږه چې ېې – راوړې هغه د کلي و ټولو کورونه ور کړې او د کلي ښځې او نر ټول د دې هر کلي ته ورسي هر کور پر خپل وار د دې مېلمستيا وکړي، هغه نږدې او شته‌من خپلوان دا هم مېلمنه کړي. د دې د خوسر او خواښې ته‌کړي، پګړه او د دې کالي څه نغدي پيسې ور کړي او په دغه ډول د ناوې په‌در ناوې هر څوك دا مېلمنه کړي او د دې د خوسر او خواښې د پاره يو يو سي‌ور کړي د لور پلار وواېي چې د ما لور يو څه ورته پېښه د خوسر او خواښې ېې له دې څخه ډېر خوښوي او ټولو خوسر ګنۍ ېې دعاوې ورته کولي چې د دې په لوړ نامه سره ژما سر لوړ سو د ناوې دبېر ته‌تګ په وخت کې د ناوې پلار يو مېږ حلال کړي او پوخ ېې کړي موږ ېې څه د سندخ وډه غوښه سره جوړه کړي. هغه کالي او غوښې او نورې مېوې او د موږ وډه د سندوخ غوښه دا شيان ټول د مېږه کره راوړي او د کلي و ټولو کورونه ېې وړ کړي.

## د هلك زېږدنه

په يوه کور کې چې هلك وزو کېږي، د هلك و پلار ته د جومات طالبان او د کلي نور ځني خپلوان وواېي «پلاني چاته! پښتانه دا مثل کوي چې واېي: زوى ته مڼه زړه دى، چې خداى ېې چا ته ور کړي، پر هغه چا د خداى فضل دى نو موږ طالبان او د کلي نور خپل او پردي نر او ښځې درته دا يو چې پر دغه زوي زده «په يخ» کړه او نشره باندې وواېه.

د ښارې هر بند چې وایي، ټول هلکان آمین په لوړ غږ وایي، چې څنې بندونه یې داسې دي:

ای د هلك مودی ـ ته راوړه وڅکې تودی ـ طالب خوار دی ته ګودی
طالبان خوارږی دستمالونه ـ ته خوارږ کر پوالونه ـ دا نوی دی دوودونه
آد هلك پلاره ـ مه ونیسه تر غاړه ـ مه حلال کړه په تلواره
دا هلك په بنه لوبیږی ـ زموږ دعا به وړته کیږی ـ په هیڅ ځای به نه بندیږی

دمابام د پاره د هلك پلار مه حلال کړی، ټول د کلی ځوانان او دجومات طالبان وخپل کورته وبولی چې ډوډۍ وخوري نود کلیوالو په مخ کې د طالبانو ته دستمالونه له میوې څخه ډك ور کړي. د ملا صاحب ته وواېي چې ستا پګړۍ او پښه میلمستیالا بله ده درکوم به یې وروسته له هغه د هلك پلا د ځوانان پر میدان سره ټول او د هغه هلك د پیدایښت په په نسبت غزلی او کسرونه وایی لکه:

وماین ولیدی ـ چټې دلې پرسپین مخ   دی څانګې زلفې اوږدي
ماین ولیدي
نجلی ولاړه   دزر داو ږدی   ددې په غاړه   په پژه امکی
ملاله ولاړه   تازه ګلونه   بیایه لمن وړهې   و ماین ولیدي
وماین ولیدي
پیغله کوچنی دا پر بام ولاړه   لکه هیلی زاړی کوی خپلی مورکی ته
چی ان سیل سبا ورغ ده   د هیلی وماین ولیدي
و ماین ولیدي
نجلی پر کورچی ور ننوتم   پلاریې شو کورچی بیر ته وتم
دزړه په زوردې وویل   خوله به درکوم   کابل ته ځی وماین ولیدی
وماین ولیدی
نجلی پر بام   شنه طوطیان   راغلی دی له بنګالی   وماین ولیدی
وماین ولیدي

## کړک

د هلک مور وګوري په کلي کې چې هر څوک واده ډېر ولري، مور او پلار یې هم ژوندي، نو له هغه کاله څخه یو څوک راولي او بیا ئې په لاس کې ورکړي ورته وواېي چې زما د جان په سر کې یو کړک ورکړه، بیا به یې نو سر زه پخلېږه ورسم کړم کله د هلک په تندي کې شین خال وروهي، چې د هغه د سر کړک او هغه شین خال د دې د پاره دي چې د هغه هلک پایښت‌سي.

## د هلک پل اخیستل

چې هلک پل واخلي نو مور یې خوږې پتېرې پخې کړي یوه پتېره به هلک پسې پر تیالي باندې ګټل کړي، داځکه چې هلک لوی شي نو روزي به په ده پسې ځي، دی به په روزي پسې نه ځي، نو د هلک مور دغه خوږې پتېرې په غابو کې له نورو ډول ډول میوو سره د کلي وګړو کورو ته ورووېشي.

## دوا ور وهل او پر یالي راتلل

دژمي په سر وکې چې څوک د باندې نه شي وتلای او وروسته له ماښام څخه باد وا وره دوري، هر دوړ د وړی او نرۍ واره د مڅکې پر مخ پرته وي، نو دیوه کلي ځوانان او طالبان د شپې په وخت کې د هغه بل کلي ته داوره یو سی داځکه چې د ژمي سا ړه د یروي چې وروسته له ماښام څخه یو سړی هم له خونو د باندې یا په کلي کې نه لیدل کیږي. دغه دوا ورو ړونکو خلکو خپل ځانو نه داسې له سړو څخه پیچلي وي چې یو سترګې یې ښکارېږي، نور ځانونه یې د پرښه پټ کړي وي. نو په دغه کلي کې وګوري یو د څښتني د کورته ورسي او د غږ ورو کړي: چې وروڼو موږه مسافر یو، او س په دې نا وخت کې راغلو په جومات کې هم هیڅوک نه ؤو. نو دا چې ستاسو کور ته لار کړو، نو ځکه مو د غږ درو کړ. د کوروال هم د ووایي دا مسافر خواران نا وخته راغلي دي نو ژر ده ډوډۍ ورکړې، د کوروال داهم ورته ووایي وروڼو که دغه ډوډۍ لېږوي نو نوره بسه

در ته پخه کړو. او که موبس دي نو ښه. دوا ورور ونکو ځواب داسې وی: ځوډۍ ډېره ده بس موده، خودا چې تاسو مو د تاوده ځایه څخه ودي د ژمي سړو ته د او پستلاست، نو اوس ښایي چې ستاسو د دغو ښو په بدل کې، یو ښه او په زړه پورې څه در کړو، هغه واوره چې په یوه کاغذ کې غوټه وي، ور ته ور یې کړی، او دا هم ورته ووایې دغه ښه او په زړه پورې څه چې مو در کړل دغه غوټه د انه ور پاته خلاص کړی! اوس نو د خدای په امان په مخه مو ښه، دوا ورور خلک چې تر کوروا لا تېر سي نو خپل ملګري یو بربل ډغ سره وکړي وواېي چل، چل، لېنګو په داسې منډه و خپل کلي ته ځانو نه ورسوي چې ته به وواېي د آسو سپاره دي، چه خپل چو مات ته ورسي نو ډېري خوښي کوي د دغه کلي نو ځني سړي چې د دوی د وارو ډ لو په حال خبر وي هغوی هم د چو مات ته ورشي او د دوی په خوښي کې ځانو نه ور ګډ کړي.

د اورووډونکي سړي هر یو خپل، خپل ځانو نه او منډې ستاپي، یو وایي چې زه په داسې رګه راتلم بل وایي: زه چې په منډه کې د کار پزه برسېره راغلم، چې توپ مې کړ او څه تر دغې سپرغې راوا وښتلم. هغه بل وایي چه زه هم په تاسو پسې راخو یې سو ولم او زړه مې ډاډه شو، نو په ډاګه ډګه راتلم د دي سره وواېي: راځئ چې د دغې خوښۍ په نسبت یو څه پخوانۍ کاکړۍ لنډۍ چې په پخوانو پورې جوړ شوې دي وواېو. نو وروسته له ډېرو خوښیو د چو مات طالبان ډیمان او تالو ته راواخلي په لنډیو پیل وکړي.

## «لنډۍ»

مېږې کې او به یې نه کې
دو ښمن خوی د ګوارو کې

غازي وکړه د غه ګـا ی
چې زمو ډ ننګه کړ دا پر ځای

یا مې وکړه یا مې پر بېږده
یا هندو سه ډیکه کېږ ده

زه دي چا ر سم تر لنګی
لکه پرشنه آسمان سپوږمی

ته دې وېښم ته دې ګو رم — د ګودر پر پلو دې ښو رم
وروريې ناست وې په کوټه کې — غا ړ ې مې شو په خزه کې
بوره يې خوا ر ه نا و کې — بله پېغلــه تــو ر پېــکې

هغه کوروالا چې دوی ته يې ډوډۍ ورکړې وي هغه خوټه د کوري چــې د ا و د ه پــسکې پــېچلــې و ې ، تــو ز ر لــه کــو ر هغه راوړي په زوره کوکې او ناري کړ ي چې د هغه کلي سړو داوده راوړله، د کلي ځوانان سره ورځي او په مړه زړه سره وو ايي راځئ چې دغه دواوړي کاغذو ګورو . دواوړي په کاغذ کې داسې ليکل شوي وي چې دځلو پښتو ننو ميلمېنا وکړي داځکه چې موږ په خپلو منځو کښلې ده . او ځلو دمه ورځ موږ خپلې ميلمستيا خوړلو ته درځو . دغه کليوال ورسته د کاغذه ترلوستلو د دوی د هغې ميلمستيا قبول شيان له خپلو کورو ځخه راوړي دغه د ميلمستيا خواړه سره برابر او تهيه کړي د هغوی ته سړي واستوي ، چې ورو ڼو ستاسو ګټلې ميلمستيا موبرابره کړه له داسې اوويې خوري هغوی ميلمستيا د خوري ، چې رهي کيږي نو دغه کليوال ورته وائي : ځئ ه ورونو په مخه موښه پښتا نه وايې : زما پوردې پر کارګه وي . د کارګه مرګې دي ته وي وروڼو ورو ستري مو درپسې ده خپل واربه واخلو .

## واوره وهونکي او د دوی ناکامي

د يوه کلي خلک چې د بل کلي ته واوره وړي، نو که د هغه کلي خلک په خبرشي خپل ځانونه ورته اوچته کړي په دغه شپه چې دوی ورځي نو د هغه کلي سړي د دوی د راتلو د لارې پر يوه بل ځنګ پټ سي. واو ړ ي وال چې تر دوی تيرشي نو دوی ور پسې په پټه خوله ځي تر څو چې دوا وړي داوه ګکي به د خپل کلي د منځ ته ورولي، نو بيا دوه تنه له دوی ځخه په پټه خوله د نيسي نورځنې منډه کړي دغه نيول شوي کسان د بيا داسې ځای ته بوزي چې هلته يې د کلي سپين ږيري او د جوماټ ملا ته وي ،

نو له وارورې ورونکي څخه کميس په دغو سرو کې واچوي او دي
دومره، ټکولو د لاسه په سر و ته پوهيږي، بيا نو دغه سړي مخ ور تور
کړي، وروسته له هغو د لسواو ټکولو څخه يې د خپل کلي ته واستوي
دوهلي د کلي سړي سره ټول شي، څو تنه ځوانان يې وواي چې سهار
يې څوك مونډ کړ واو پلاني جان دغه وهل يې څني واخلو، ددوی پردي
پرغ باندي ددوی سپين ږيري ورسي، وواي هلکو دا مو څه ږغ دی؟
او څه شخول مو دی؟ ځوانان وروسته له څو د ڤيقو ووايي چې پلاني جان
او ورسره ملګرو دغه بل کلي ته داور وهلي وه، هغو داسي وهلي دي
چې له ځايه څخه نه سي شوريدلای نوادس که ستاسو سپين ږيرو اجازه
وي موږ به د خپل سړي وهل واخلو، دسپين ږيرو ځواب داسي وي : که
تاسو هغوی داسي ونيسي نو به په هغوی څه وکړي؟ بله دا چې دغه دود
موږ او تاسو ته له ايکونو څخه پاتي دي، که بيا دي دغسي وا وره
دروړي نو له تاسو سره هم ښايي چې دغسي ورسره وکړي ي؟ نوادس
يې بې ځايه وهل چې سبا پره ياست داسي مه کوي ځوانان هم د خپل
سپين ږيري خبري ومني او ورسره خوښه يې کړي .

پښتنو ته له پخوا نيکونو څخه ځيني دودونه ور په برخه دي چې له دغو
دودو څخه ننواتي، نوره نيول، پلو څو ټول دي او د دغو په اثر پر و
خلکو پر هغو بدو د پښتيو، چې دغه دودونه ددوا لږو خواوو د خلکو په
کته پای ته رسيږي دا ځکه چې په پښتنو کې دهري پېړي دود او بايد
د ټولو د مخې خلکو ته ښکاره دي نو دوی چې د ځينو سپکو
پر وروځي ته ورځي له پخوانو مروجو دودو سره سم ديږي په اندازه
روغه کوي او دمي و په روغه کې د پلو او نو څو ټول

(١)

اود(مریانو) وزوستل له پخوا ځخه رواج سوی دی په لاندی تو گه

به یی دښیو ؛

## وهل او ټکول

چی دیوه کلی ځخه یوسړی دبل کلی سړی ووهی ، وهلی سوی سړی
چی دخپل کور او کلی ته ورسی نو دکلی او کور خلکه یی باندی
راټول سی ، لومړی ټول له خپل وهلی سوی سړی ځخه پوښتنه وکړی
په تاسو دوو کی کوم - یو پیرود ؛ وهلی سوی سړی دوایی چی زمو ږ
وخپل مشرته بېزه دجنگه ټول وبل وکړم ، نوځکه به په موږ کی چو
هر یو پیرود ی دښیی ؛ بیا دوهلی سوی سړی ورونه او د کلی نو ر
خوانان یی دوایی چی دخپل وهلی سوی سړی دوهلو بدل به دځکه کلی
له خلکو ځخه اخلو ، او ځکه سړی چه زموږ جان یی وهلی دی وهو ؛ نو
له خپلو کورو ځخه دځکه دوهلو دپاره لرگی را واخلی له یوه گړی
وروسته ددوی پردغه بوغ باندی ددوی مشراوسپین ږیری له خپله
کوره ځخه راووزی اودخپل وهلی سوی هلکه وکورته ورسی او دهلکه
تر پوښتنه لومړی په زوره ؛ زوره داسی دی داځکه چی پرځیادی او
ځم سره ورځو اوته بیاله ځمو سره جنگه وکړې ، دانو ولی ؟ بیانو
مشردوهلی سوی هلکه له موږ ځخه داسی پوښتنه وکړی ؟ وریښداری ؛
بوغ مو په زوره ؛ زوره ؤ چاخونه یاست وهلی ؟ دوهلی سوی هلکه
مور ومشرته ځواب وکړی : پرون می جان دځکه کلی یوسړی وهلی ؤ
نوداچی زموږ مشر اوښه میړه یی او په دغسی خپرو دپر ښه یو هیږی
نوددوی پردغه جنگه باندی به غورو کړی له دوی دو ؤ ځخه چی
هر یو پیرودی نودځکه یره به ځان ته معلومه کړی ؛ بله داچی تر اوسه
دجان ورونه اود کلی ځوانان نه دریدل اوددوی وبل چی موږ ور ځو
دځکه سړی ځخه دوهلو بدل اخلو خوددوی ټول ماراگرزولی دی . مشر
ودایی دهلی سوی جانچیری دی چی زه پوښتنه ځنی وکړم او دده پوښتنه

هەمو گیرم ! مشرچی لەخەپل و هەلی سوی هەلكێ هنغە بوبێتنە و گری ی نو
كە هەمو هەم پەدغە جنگێ كی دهنە كلی سەری بێ دی خو مشر خەپل دغە و هەلی
سوی هەلكێ گرم او بێ و گنەی پەدغە خبرە كی مشر دا مقصد لری چە لە
یوی خوا بە دو هەلی سوی هەلك دموراو بلار خواشینی ور كە سی لە بلی
خوا كە یو وخت دهنە و هو نكی د كلی خوك د ننواتی پە تو گە راسی نو
بە دو هەلی سوی هەلكێ موراو بلار دا فكر كوی چی زموږ و هەلی سوی جان
خو پیدی، نو موږ بە ددوی پەدغە راتلو او ننواتی خوبن او بێ ە بەبی
ورو بخښو ، مشر خەپل و هەلی سوی هەلكێ پە بێە غورسرە و گوری او ورتە
ووایی چە بیادغسی بیخایە جنگونە مە كوە دا ځكە چی ستاسو دغە جنگێ
اد بدو بل خوزموږ سپین ږیرو پر نامە تمامیږی سپین ږیری چە لە خەپل
و هەلی سوی هەلكێ هنغە را وزی مور تە بی و وایی چی جان خو
بیخی پنەدی تاسو ددە پەدغو وهلو ا لە ینغەمە كوی ە اودمږ پوست چی
دو هەلی سەری دیارە بنە دی ورواچوی ە او غوښی یې ور كړی چی و
خوری ، بیا او كەزە ، زەوم دغەمږ اود دە دو هەلو بدل بەځنی واخلم او
ادس نوزە در ځغە ولاړم . دغە سپین ږیری چی دو هەلی هەلك كە كورە ځغە
ووزی نو دو هەلی موراو بلار او ورو نە سرە ووایی چی د خەپل سپین ږیری
او مشر ویل و موږ تە ډیر ښە او زموږ پە گټە دی . او د خەپل هەلك تە پوست
ته به نو ځای چې میله وکړو په دغو وختو کې ټولو آسونه ترجلو نیولي ولاړ دي. نو بیا خود میلې د ټبر ډېر وي او یو دغو سپرو ډېر وي نو داتې خلک یوغ وکړي چې اول به ستاسو آسان یو ځل هوسا سي او موږ به پر دغو دواړو ډلو باندې یو ځای اتڼ وکړو بیا به وساتکو ته د میلې وار دوړ کړو او دا چې داختر درې شپې میله ده نو په دغه ډېر وخت کې به د ساتکو آسان هم ستړي سي نو د آسو سپاره بې هم ور سره خوښه کړي. نو دغه دواړه ډمان د میلې په میدان کې سره ودرو وي نو امیري د ځوانانو د دوو ډولو) د چرخیدلو چې ډېر د شوق ډول دي ووهي. بیاد هلکانو وار سي . چې وهلکانو ته پر ځلور (واړه) د چرخیدلو ډول ورته ووهي. بیا د پښو سړو ته د اتڼ ډول ووهي چې دغو د اتڼ واړه هم تېرشي. بیا نو د دو ټبر میران سره وواېي چې اوس خو ناوخته دي او د اتڼ د پاره له هر، هر ځایه ځنځه خلک را غلي دي نو اوس د اتڼ د خلکو میله وګورو. ټول دغه خبره خوښه کړي نو خلک د اتڼ او چرخیدلو ته دوام ور کړي. او د دوي خپل آس بوزي سره یو یو بې کړي . نو هر څوک د خپل، خپل آس خدمت وکړي . د میلې میدان هغسې تود دي او خلک اتڼونه کوي . په دغه وخت کې د میلې د ټبر خلک درې ډوله میږوي هم جوړه کړي چې یو ډول بې پنځه میږوي وي او بل ډول بې د اسي لري میږوي وي چې ساتکه ژر نه باندې برابر بېري بل ډول میږوي جوړه کړي لکه د مې چنې پل تر هغه ډېره بې د باندې را او باسي نو چې د خپل ټبر د آسو د زغلا وار بې وي هغه سم د وي ورته ټکوهي . او چې د راغلو خلکو وار وي نو هغه لري میږوي ورته ټکوهي او یا هغه د میچنې میږ د بوي ورته ټکوهي په دغه میږ د یو کې بې مقصد داوي چې د میږوي او د ساتکې د وهلو په وخت کې بېري ژموږ د ټبر د آسو په برخه سي په دغه وخت کې ډمان د آسو د زغلا پر میدان باندې دواړه او خپل ډولونه د آسو د زغلا په توګه ووهي . نو د سیل خلک باندې را ټول وي بیا امیري را غلي سپاره له کور وځنځه را ووزي او د آسو و میدان ته ورسي . نو میر خپل ور وستلي ډم

دبولۍ او له نورو خلکو څخه پټ ورته وواېي چې د آس وزغلا په وخت کې
دې د هر ډېر ځړم وخپلو ، خپلو آس ته ځول وهي . دا ځکه که د يو ډېر د
آس ته ځول وهي او ځول بې څه سو که وي نو هغه به زړه وانکي ضرور
داتېر وي چې زموږ پرواربې سو که ځول وواهو . نو چې ډول د دوانډو
ډېر و آسمان چې سره يو ځای سي . نو ورغلي مېړا او ډېر د آسو مېر لمړی
د (سکاڼ) آس د ځښتن ته وارور کړي . ور پسې دډېر يو ښه او تکړه
آس ته وارور کړي په دغه نو ګه سره وور تو آسو ته ودوو ، دوو ته يو د يو ه
ډېر او بل د بل ډېر دي وارور کړي او ور سره آس بې ور سره درولی
دي . نو هر څوك د خپل ، خپل وارته ګوري د سکاڼ آس څښتن پر خپل
آس باندې سپور سي . او خپل ځړم بې پر ميدان باندې تيار ولاړ وي
او د سيل خلك هم يوې بلې خو ته ولاړ دي نو دمی چې مېږوی بې ورته ډکو
هلې وي د سکان څښتن خپل آس پر ميدان را ولي او په ځ يره ښه سو که سره
په آس او ځان مېږوی ښه صمې کړي ولاړ سي د ميدان سر لنډو ور ته ښکاره
سي ميدان هم څه نور پسې اوږد کړي . بيا دا سي يو مېږوی باندې خپل نظر
واچوي او سانګه واخلي په دغه وخت کې د د مشرو ور ډغ پر و کړي
او ورته وواېي . ورورو ګوره سکان ګرم دا غلي دي چې دادي نه چوی
سکان چې دا اوږده ميدان وسر ته ورسي او په خپل سر کې دسمال و تړي
اوورودو بې د سيل خلك ليري کړي په دغه وخت کې ځول په ځ بر تېږي
سره وور ته وهل کيږي او سکاڼ را ايله کړي لکه څنګه چې د آس ښيې
له تېزي څخه نه ليدلی کيږي په دغه وړنه ځړم هم ځول ور ته وهي چې پر
مېږوی راسي نو ناره وکړي مېږوی ماتسي او هغه مات مېږوی بې په
سانګه کې اخيستی وي چه آس تېرسي نو ځړم خپل ځول داخستی په تو ګه
پردوه وله پسې وهي . په دغه وخت کې دسپاره ورورو د وهلي سوی مېږوی
وهای ته ورسي که ګوري چې مېږوی بې د (ميچنی) تر پله را استلی
دي د مېږوی بيخ په (ميچن) که پاته سويدي . او د مېږوی سر سکاڼ

دمیړوی سردسکان آس سپاره ځني په سانګه کې ودریدي. چې دراغلي
د کلي سړي یې ګرزوي. نو وار د میلي د قبرسي د ځنځه قبر مشر چې ښه آس
هم لري خپله ملاونړي او په آس ګوتي وهي. په دغه وخت کې د میلي د
قبر ډول چې خپل ډم یې دی پر میدان باندې ډول وهي. او هلته یې د ښځو
میله جوړه وي په دغه میله کې د دغه سړي چې ملا تړې یې او د آس د زغلا وار یې
دی. د ځنځه سړي خور د ښځو په میله کې دی د دغې میلې د مشر آس چې د
میدان وسر ته بوزي او بر میدان یې خپل ډول وهل کیږي د میدان له سره
ځنځه چې آس را ایله کړي مېزوي واخلي. نو خپل آس د کور ته دوا ستوي
بیاد (چر ګی) او د قبر آس چې دده ملګری دی وارسي دا ځکه چې د دوا ډو
قبر وسره ورته آسانو وار روی. نو لمړی د (چر ګی) وار وی (چر ګی) آس
په منډه کې له سکان ځنځه کم ندی. نو ځښتن یې باندې سپور سي. او په ډېر
سو که قدم یې بر میدان باندې د دهواره تیر کړي. نو دا چې دغه (چر ګی)
آس په منډه کې نر ډېر و آسو تیزوي ځښتن یې هم بدغ و کړي چې زما آس
بیوا که منډه لري نو له میدان ځنځه دی دسیل خلک ځه پر شاسي بیا به حو بد
سي. نو سانګه واخلي. چې د میدان دسر ته ورسي. نو د آس شا د میړوی
وخواته راو ګرزوي چې ډېر خواشني سي نو د منځني پښې بورته کړي او د
شا بر پښو ودریږي نو بیرا ایله کړي او سانګه په لاس کې الډوي چر کی
چې را ایله کړي په دغه وخت کې بې ځښتن ناره وکړي. او ډول هم په ډېره
تیزي سره ورته وهي چر ګی ښکاري خو پښې یې چه ډېر تیز راځي نسه
ښکاري. چې بر مېزوي باندې راسي نو دا چې دی تیزوي سانګه تر میړوي تیره
کړي" تر دا یې بدوي. دغه د دو قبر د مشران د چر ګی د ځښتن ته دوالی چې
چې د جان آس تیزوي ددهسانګه یې تر مېزوي دا بدوله. نو بیا دار ورته
ور کړي د چر ګی ځښتن د میدان وسر ته بوزي خو (چر ګی) لا په تندی کې
دی ځښتن زړه یې قرار نه سي. نو ګي د منځي میدان ور او بد کړي. له لیري
ځا یه ځنځه را ایله کړي د چر ګی ځښتن چې د مېزوي ته رانږدې سي نو لبه

بيا تکيه کړي پر مېږوي باندي ډار. وکړي مېږوي داخلي. نو له
شاځ ۲ په ځ پرشوق سره ځول پسې وهی. بیاوار (لیوني) آس د څښتن سی
لیوني هغه آس، دی چې له هر څه څخه تورېږي چې څښتن يې پر میدان
تېر وي او لمړی يې د ځاله داښتې وخواته د لیوني آس سر د پښسې تر څو
چې آس خوږ دوله کانه سي چې کښه خوږ دي ورته والي. بیا نو چې يې پر میدان
تېر ي وي نو له تورېږي. نو څښتن يې د میدان د سر ته بوزي. د میدان له
سره څخه د نورو آسونو ته ګډ را ايله نو چې څښتن يې مېږوي داخلي. د
لیوني څښتن او د کلي نور سپاره يې سره ووالي. لیوني هم پښه سور
مېږوي باندي سم ورځي د دوی مېړ ېغ وکړي. چې نن خود اختر او مېلې
ورو ستي ورځ ده او س نو دا سپو واردي. لمړی د (برلي) د څښتن ته ورېغ
کړي چې د زغلا او سانګي واردي. د برلي اسپي څښتن په خپله اسپه کوتي
وهي. په د غه وخت کې ځول پر دوو له په ډېره لښته ورته وهل کيږي. د برلي
څښتن سپور سي او خپله اسپه د وه واره د میدان د سرته بوزي. خو دا چې
د برلي د څښتن ته د برلي د منډې واقن لندې ښکاره سي. نو خپله د غه زوره
وره اسپه او ېده بوزي نو د برلي ټانګونه پښه ټنیګه کړي بیا نو برلهډا
ايله کړي. د سپاره ورور د مېږوي پر سر باندي سور د سمالي ټيولي وي
چې پر مېږوي راسي د (ها) ناره وکړي او مېږوي داخلي بیاد (شرنګي)
وار سي. شرنګي هغه اسپه ده چې و منډې ته ځېره ښوا کهوي نو دا چې د
ځاله ېغ اوري نو خپل سرخنډی او له دړېږي. نو څښتن يې باندي
سپور سي او د میدان د سر ته يې بوزي. او له میدان له سره څخه يې
را ايله کړي چې څښتن يې مېږوي داخلي نو بیا هم د شرانګي څښتن ېغ
وکړي. چې زما اسپه په زور کي ده که اجازه را کړي چې بواري يې
بې سانګي او مېږوي زغلوم. نو مېړ يې بیا هم د زغلا اجازه وکړي چې
د ده د اسپي وار تېر سي. بیا د دوی مېړ ېغ وکړي چې د انورو اسپو او آسو
ته به پلمه مېله کړو او روکړو. نو مېړ د مېلې پر مشر ېغ وکړي چې-

مونږ څو. مشرورواني چې ان ز ماميلمانه پاست بوخو داچې د اختر ورو ستۍ ورځ او شپه ده. بوخو به ستاسو آسان هوساسی . بله داچې مونږ به پښې، پښې سندری درته ووایو. او دمیر له ځلی څخه آس بوزی پر کور ردېږ بو، بو کېږی نوچی ماښام ځوځی وخوری. او د کوراو کلی له خوا څخه څو ښځې او په زړه پوری کاکېږه لنډۍ ووېلی سی. چې د دغو لنډیو بو بوڅو دنمونې په توګه وښیو:

ګل می سپور دی پر نیلی      چې د جانان سلام ته ځی
بوار ی سپور پر نیلی دا سه      بیا که دی توره ځیږی لنګک یار بدی کېږمه
زه دی چار سم تر سنګی      لکه پر شنه آسمان سپوږمی
زه دی چار سم تر پر یتو      لکه نمبر پسر کاغذ و
تا چې جوړه کړه ټنکی      په مادی اور و لګاوه
بوار را سه په غوزی کی      بیادی خره پنده بدی کړی
زه به در سم ته به په کړی      زما خاطر به ځیر ماندی کړی
که ته راسی زه به هو کړم      خو له به در ترشنو خالو کړم

بیا نو د رغولو کسانو له خوا څینی هغه فولکلوری سندری وو یلی سی چې څو سندری به یې دنمونې په توګه ووایو:

دا ستا واړه خالونه په لمن کی که راتوی
کمیس دی د خاسې دی      بدن دی معلو میږی
پېزوان دی مروارید دی      ما راوړی له اندخوی
دا ستا واړه خالونه په لمن کی که راتوی
سترګی دی خو ماری دی      سری او نافه داری
سپین مخ دی جلا دار دی      زه دی کړم پر یروی
دا ستا واړه خالونه په لمن کی که راتوی
طلا ګی د پښتان دی غوږکی      غاښونه دی رڼا کوی
لمنداز پېزوان دی قال خوری      درونه دی خوی

د استا واده خالونه په لمن کې که را توی

ته په سه قدې پره وده بې — او په رنګه هم ښایسته بې
جست جست قدم اخلې — په لاسو کې دې ګېډۍ

د استا واده خالونه په لمن کې که را توی

چې له کوره ځغلوزې شال پسر کړې — نو اوږد پرق ولوبل کړې
هر څوك د رته ګاته کړې — چه ئې بیا ده لیونی

د استا واده خالونه په لمن کې که را توی

شهبازونه دې قطار کړل — زموږ زړونه دې کباب کړل
پر تندې باندې دې قال خوري — رو پسې پسا غجرې

د استا واده خالونه په لمن که را توی

له رنګه پښو کې پسی — ته له کوره ځغله پردې بې
د کاڼو حساب دې پرېږدې — په لاس کې پسې ده کړې

د استا واده خالونه په لمن کې که را توی

موږ به تل سره لیدلو — یو تر بل به چسار پهلو
زه دې هلته وم ویشتلی — چې ته لا وې کوچنۍ

د استا واده خالونه په لمن کې که را توی

تر دیوالو دې وکتل — زما زړه کې دې کړې جل بل
زما پرخوا چه دارهی سی — نو ته مه څه کړې اندې

د استا واده خالونه په لمن کې که را توی

چې د غه بدلې په کوټه کې ځوانان په یوه ږغ سره ووایې نو د کلي خلك له میلمنو ځخه رخصت واخلي او دا ووایې چه تر ټولې میلې پورې موږ په مخه ښه سپارد میړه له وخپلو کوروته راهی سی سره ووائي چې بیا به دوی را وځواندو د اسوسوارده چې وخپلو کوروته ورستانه سی . نو داچې د دوی آسو نه ستړی وی د کورو ځنو څینو هلکانو چې د آسو خدمت به یې کاوه آسان به ئې تر ځلوانو ونیول او دبې ګرځول ترڅو چې د آسو ستړیا ورکه سی

او هغه کسان چه ملك نه ولري، نو بې آسان آموخته کېږي وي جلو بې څښتن
و نیسي او آس پر دا گرزي ترڅو چي بې سټې یا وړ که سي . نو د آسو
څښتنان و خپلو آسو ته ښه ؛ ښه خواړه ور کوي ترڅو چي آسان بې بیاهم
پر خپل حال سي او هغه آسان چي ښه منډه بې کېږي دي او یا پر مېږوي باندي
سم ور غلي وي نو له هغو آسو څخه څښتنان ډېر خوښ وي څښتن بې و خپلي
مېرمېنې ته وو دا اسي ما خو خپل آس د ونه نه وُ گڼلی
اوس چي زموږ د آس مېړانه راته ښکاره شوه نو اوس د ده د خوړ د
شیان له پخوا څخه ور بو پېدده کېږي داسې چه چي دا متل دي چي آس خپله
دانه په خپله ډېره وي يعني که ښه منډه وکړي ؛ او یا څښتن څخني خوښ
وي نو د آس دانه او د خوړ لو شیان بې ور ډېره وي.

دژمي په ساړه موسم کې چې دمځکې پرمخ هم سپیني واوري،
پرتې وي ځوانان او هلکان چې په خپلو بېکار یو او ناسیتوستېږي سوي
وي دوي له درمندا نو او د باغچو پرشقو له راوړلو بې غمه سوي وي نو
دوي د خپلو د دغو بازیو د پاره چې واقن لندي ښکار لري له واوړو له
څڅو څخه دغه ډگرته داوړه پاکوي . او داوړي د بازیو د پاره چې
داوره نه وي نو هغه د اوږده واقن بازي کوي . چې اوس به د دوي
داوړي او ژمي د موسمو د بازیو نمونه او بیا به د هري بازي دا جرا
کولو طرز ونه وښودل سي .

## د بازیو نمونه

دلیوانو (گرد گان) بازي د (خوځې) بازي د (کوڼي کېږپ) بازي
د (شو تار او بازار) بازي د (کوډ کی چر کې) بازي د (ډوندچو گمې)
بازي د (ډبا له داد) بازي د (پوټ پوقا نې) بازي د (خولی) بازي د
(پنډي) بازي د (غېچ) بازي د (مېږدکو) بازي د (بیدیو) بازي

## دژمي د بازیو ډگر

دژمي دلندي واقن د بازیو د پاره د کلي هلکان او ځوانا نو په ټولو

سره دوه غښتلي او د بازیو په کار پوهه او بریالي ځوانان د (سرخانانو) او یا مشرانو په نامه سره وټاکي چې دغه دوه ځوانان تر څو چې د بازیو ډګر له واوړو او ختو څخه د کلي په هلکانو او ځوانانو پاکوي دوی دواړه د مشرانو په نامه بولي او چې په بازیو پیل وکړي نو بیا دغه دوه ځوانان د (سرخانان) بولي .

دغه دوه مشران د کلي پر ځوانانو باندې ږغ وکړي او ورته وائي چې سهار زموږ او ستاسو د بازیو ډګر له واوړو او ختو څخه پاکوو . نو تاسو د خپلو کورو له ضروري کارو څخه پر وخت ځانونه خلاص کړی.

د کلي ځوانان د مشرانو په ویلو د خپلو کورو له کارو او سبقو څخه ځانونه خلاص کړی او له خپلو کورو څخه د ډګر د واوړو د پاکولو د پاره پاروګان او کره هان او داسې نور سامانونه را اخلي او د بازیو ډګر په پاکولو پیل وکړي او دغه دوه مشران پر دانو رد ځوانانو باندې ګرزي او شاباسې ناړې باندې کوي .

په دغه وخت کې د کلي څه واړه هلکان هم سره ټول سي او د هغو دو مشرانو ته ووائي چې موږ د کلي هلکان به د بازیو د ډګر د پاکولو په کار کې به کومک در سره وکړو خو بیا چې تاسو په خپلو بازیو پیل کوی نو موږ به هم در ګډ وی . مشران و هلکانو ته ووائي چې په نورو بازیو کې تاسو له موږ سره برابر یاست یوازې تاسو خوشې نه سی اخستلی نو تاسو به د خوشې د بازې په وخت کې په (غوږ یاست چې مشران و هلکانو ته د بازیو د ګډون ډاډ ور کړی نو هلکان په ډېر جدیت سره به پاروګانو واوري لیرې کوی او له ځوانانو سره اوږه په اوږه د بازیو ډګر له واوړو څخه پاکوي او د ډګر واوري په ځولیو کې له ډګر څخه لیرې وړي او چوی بې چې ډګر له واوړو څخه پاک سی نو هلکان له خپلو کورو څخه ایرې راوړي او پر ډګر باندې یې وپاشي

تر څو چې دغه د بازیو ډگر له خوا او د بازیو وړ نه کیږي دغه هلکان ډېر زحمت او صداقت کوي چې په درو ، څلورو ورځو کې د دوی د بازیو ډگر وچ او د هلکانو او ځوانانو د بازیو د کولو وړ سي. نو د کلي هلکان سره ټول سي او هغو دوو مشرانو ته ورائي چې زموږ او ستاسو د بادبازیو ډگر وچ سوی دی نو دغه دوه مشران د کلي ورځوانانو او هلکانو ته ورائي چې زمونږ او ستاسو د بازیو ډگر وچ سوی دی نو تاسو ټول ځوانان او هلکان سبا د خپلو کورو څخه ضروري کارونه او سبقونه ژر پای ته ورسوي نو ژر تر ژره د بازیو ډگر ته راشئ او که څوک له مونږ هلکانو او ځوانانو څخه ژر نه راغی بایې له خپلو د کورو له کار و څخه ځانونه ژر خلاص نه کړل نو موږ هغه هلکان او ځوانان چې د بازیو پر ډگر سره ټول یو . هغه د ډگر ناره کوو بیا به نو گیله نه سر کوو د دوی د ډگر ناره داده .

پېری پسې پېری په ډگر کی څوڼه یدلی
که به ژر نه راشی نو موږ دی نوی میږه کړی

هغه د کورو هلکان او ځوانان چې دغه ناري واوري له خپلو کورو څخه راووزي او چې له کورو څخه راليري سي او د (ها ، ها) ناري وکړي او ډگر په هلکانو بې داوري مقصد يې دا وي چې موږ د رغلو خو تاسو نوري د ډگر ناري مه کوي د ډگر هلکان او ځوانان چې د پاتو هلکانو ناري واوري تر څو چې پاتي هلکان ورځي تر هغو پوري د ډگر ناري نه کوي چې پاته هلکان او ځوانان ورسي نو د سرخانان پر نورو ځوانانو او هلکانو ږغ وکړي چې لومړی به د (خوښي) بازي کوو خوښي د بازیو تر تیب او شروع او سره د دې ټولي کیدل (لپړی) په دوانه سره کیږي .

## لپړی

هغه دوه ماهر او په بازۍ پوه کې بریالي ځوانان د ټول کلي د هلکانو د مشرانو ، او د سرخانانو په نامه وي نو له دغو دوه هلکانو یو د یوې خوا ته ودریږي او بل د بلې خوا ته ودریږي نور د کلي ځوانان سره وورته ده‌و دوه‌ور (لپړی) کېږي دوه هلکان پټ سره وواني چې د چه غواړی که لنډه یو وچه و نیسي او هغه بل لنډه و نیسي نو د سرو خانانو ته سره ووشي له دوی د دوو هلکانو څخه یو د سرو خان ته وواني . خانه . خانه هری ، هری خان ورته وواني سل د( اور بخیری ) و هغه بل خان ته وواني و چه غواړی که لنډه د سرخان وواني چې لنډه غواړم که د غه هلک هم لنډه نیولې وی نو د سرو خان ته وواني درغی بنده او که وواني چې د چه نو د لپړی هلک ورته وواني چې درغلم په یچه په دغه ډول ټول هلکان سره (لپړی) سي د سرخانان چې دوه دی ټولی یې هم سره دوې سي څنګ ځوانانو د غه خوځي د بازیو ورزش له ډېره وخته راهیسې کېږي وی او خوځي د بازیو په کار کې ډېر ماهر او چټک وی .

## د خوځي د اخستلو طرز

ځوانان د خوځي بازي په دا ډول سره شروع کوي . لومړی په بلا چې د خوځي بازي شروع کوي نو بیا پښه غبرګه کړي د ډ غې ښۍ پښې (بټه) ګوته په خپل کیڼ لاس ترشا ټینګه و نیسي نو بیا هغه یوه کیڼه پښه باندې غورځي . چه د خوځي دوال یو کیڼ لاس خلاص او یو . یې پښه خلاصه وي دوی چې د خوځي د بازۍ ډېرې کړي وي د خوځي په منډه کې هم ډیر تیز وي او په خپلو کیڼو لاسو هغو بل لوري له هلکانو او ځوانانو سره مقابله کوي .

## د خوځي پرېدل

که د هر یو هغه د ښۍ پښې (بټه) ګوته له لاسو څخه ایله سي او پښه یې و مځکې ته ورسېږي نو هغه ځوان پرېدی تر هغو پورې چې بیا هم بازي له

سره څنګه شروع کېږي دی په پېکاوه ولاړوي هغه دده ملګرو ته که
د شاله خوا څخه څو کسه ورځي او دده ملګري پېږدي نو دغه پېښه سوی
ملګر بې ناري پري کوي چې درځي .

## غوا او کوټۍ

دغه دوې ټولې هلکان یوه کوټۍ له خاورو څخه دخوښې له مخې ګړه لیري جوړه کړي او دغه بله ټوله یو ځوان دغوا په نامه ترشاه ودروي نو د کوټۍ هلکان هغه کوي چې دهغې بلې ټولې غوا پېره کړي او بازي د دوی په ګټه تمامه سي . او دغوا هلکان غواړي چې په خپله غوا د دوی کوټۍ ووهي او پري د دوی سي په دښه وړه دوی دواړه خوا وي دغه فعالیتونه کوي که دغوا هلکانو لس پلا په خپله غوا کوټۍ وو هله نو له ټاکلي ځای څخه به تر کوټۍ پوري پوسپاره وي او که دکوټۍ هلکانو لس واره د دوی غوا پېره کړله نو دغه هلکان به پوسپاره وي .

## دهلکانو دغوږ بازي

دغه دوې ټولي هلکان چې دخوښې په بازیو پېل کوي په دغه وخت کې دکلي هلکان هم سره ټول سي او دسروخانانو ته ووايي چې موږ هلکانو خو هم له تاسو سره اوږه په اوږه دخوښۍ ټکر له واوررا وخته څخه پاکاوو او س نو موږ هم دخوښۍ په بازیو درګډیږو . ځوانان وهلکانو ته ووايي چې تاسو دخوښۍ داختلو نه یاست نو تاسو به په غوږ باست دسرخانان پوغ و کړي چې دغه څه وایه . هلکان به غوږدي یعنې خپل خپل یو یو غوږ به بې په لاس نیولي وي که له هلکانو څخه خپـــل غـــوږ و نـــه دخـــو ځـــــی د اختلـــو پـــــه وخت کې خلاص سو نو هلکان پېره دي که له ځوانانو څخه خپلي دپښې ټټۍ ګوتي خلاصې سوې نو هغه ځوانان پېره دي دسرخانان چې په خپلو دخوښۍ په بازیو پېل کوي نو داسې نارې وکړي ایکه، نیکه یعنې ایکه مې خوړلي دي پردرغلم خوږ تر ژره خپل خوښۍ واخلي او په بازي پېل

وکړي . نو هلکان چې د مشرانو ږغ واوري نو خپل خوښي واخلي چې په بازي پيل کوي د خوښي هلکان هم داسې نادي کوي خوښي دي ؛ بولنيکي دي .

چې نه کيږي هغه سپي دي .

که د غوا هلکانو لس کوڼي ووهلي نو به د کوڼي وهلي ځلي د هغه بلي ځلي پر غواڼانو باندې له يوه ټاکلي ځايه څخه بيا تر کوڼي پورې پرسپاره وي په دغه ډول د غواڼانو د خوښي بازي هم د پای ته ورسيږي .

## شو تار او بازار

د شوتار او بازار هم هغه بازي ده چې هلکان او ځوانان يې د ژمي په ساړه موسم کي کوي دا هم بايد ووايو چې دغه بازي نسبت کوي چې د دغو بازيو واټن لنډ دی چې شاوخوا اووه پوړه تې وي هلکان او ځوانان په هغه ځګر کي چې دوی په خپله له واورو څخه نور کړي وي او له خټو يې وچ کړي وي نو دغه د لنډ واټن بازي پر کوي لومړی چې هلکان او ځوانان سره ورته، ورته لېږي سي نو چې د دوی مشران او سرخانان خپل، خپل ملګري سره بيل کړي . نو د يوه ځلی له هلکانو څخه د يوه هلک سترګې ټينګې وروتړي او يوه د خاورې کوڼي څه ليرې ورته چوڼه کړي که دغه هلک په بېوسترګو هغه د خاورو کوڼي ورانه کړله نو د دغه هلک ځله پر کوڼي باندې ولاړ دی او که دغه هلک کوڼي نه ووهله او څنګ ور که سو له بيا نو د ارد هغې بلې ځلي سي . د سرخان ګوري چې ښه هوښيار هلک يې په ځله کې وي نو هغه هلک ته سترګې وروتړي نو چې دغه هلک کوڼي ووهي نو دغه ځله پر هغه کوڼي باندې به ولاړ وي هغه سره ورته او سره ليري سوي هلکان ګړدو وړه دو دريڅي نو پرسپاره هلکان يوه خولي هغه دده پر څنګه هلک ته ور غوزاره کړي او ناره وکړي چې (شوتار) هغه بل ملګري چې خولي څنګ نسي هغه ناره وکړي چې (بازار) تر څو چې دغه خولي پر مځکه نوي څنګ د ليدلي

که د هر چا بیړۍ جګه سوه او د هغه بل هلک بیړۍ مېز ته او د بل هلک بیړۍ وزه ور د جګه سوی بیړۍ د هلک وار لمړی دی ور پسی د مېز د بیړۍ د څښتن وار دی دوزي د بیړۍ هلک نوم تا نغه دی نو دغه تانغه او وروستی هلک به یو لوی خط کاږي په منځ کی به یې دغه دو څلک بیړۍ جګی وي هغو هلکانو چی دژړو او سر پو څخه یې درانه بیړیان جوړه کړی وي له خط څخه دوه یادری ګامه لیري سر و نه وتا کی او په هغو درندو بیړیانو هغه جګی بیړۍ ولی او تر خط یې باسی او که یو هلک یوه بیړۍ له سره څخه وویشتله او تر خط یې و یستله نو ور پسی هلک خوښه کوی دا څکه چی سر یې ورو کړ نو ور پسې هلک به یې له از د ی خط څخه ولی او بیړۍ به تر خط باسی او ګټی به یې.

## سولی یا ینګی

د بیړیو د بازیو په لړ کی یو هم دینګی یا سولی بازی ده دغه د ینګی بازی هغه ځوانان سره کوی چه په کورو کی ډیری بیړۍ ولری دوی سل سل بیړۍ سره جګی کړی د جګو کړیو بیړیو په ما بین کی یوه په سر ، ر نګه سره سوي بیړۍ جګه پر ښکر انو ودروی نو له هغو تا کلو سر د څخه یې په هغو د نور بیړیانو ولی که هر یوه هلک دغه سره بیړۍ تر خط په خپلو بیړیانو ویستله نو ټولی دوه سوه بیړۍ یې و ګټلی بیا نو دی سره جګی کړی او که یې نو دی بیړۍ تر خط و یستلی هغه هلک یو از ی هغه تر خط یستلی بیړۍ و ګټلی بیا به هم سولی په خپلو بیړیانو ولی خو هره خوادا هغه کوی چی سولی یا ینګی تر خط و باسی او ټولی بیړۍ و ګټی.

## خرساپ

د خرساپ هم هغه بازی د چی هلکان او ځوانان خپلی بیړۍ ټولی خره جګی کړی نو له تا کلی سر څخه خپل خپل بیړیان نزدی ور اچوی که د هر هلک پر وار اچول سوی بیړۍ هم خرسو نو دغه جګی بیړۍ

## د کړکې چرګې بازي

د کړکې چرګې بازي له خندا ډکه ده چه بازي ده او په هغه وخت کې چې هلکان او ځوانان دغه بازي کوي . او د کلي ځنې سپين ږيري سړي په خپلو پوستينانو او په چوپانو کې د دوی د دغې بازي د سيل د پاره ودېوالو ته ورته ناست وي او مېړي دوه دوه هلکان سره لېږي سي او دوي دوي ډلې سي او د بازي د ډګر په منځ کښې يو کړۍ د خطو کاږي او يوه کوڅه لېري ورته جوړه کړي او دغه دوې ډلې هلکان ځوانان يا پڅه سره اچوي او يا (سوچه) سره کوي او که هره ډله له پڅې پاته سوله هغه ډله به د خط په مابين کې پر ځلو دو يو کرزي او که تر خط د باندې هلکانو د خط د ننه هلکانو سره ورته لاس وروړي او ناره وکړي د سر د هغې لېري کوڅې ته بې قول ملګري ځانونه ورسوي . او بري تر خط د باندې هلکانو په برخه دي او بايي د خط له هلکانو څخه يو تر پښه نيولي تر خط په کشيدلو راو يوست بيا هم بري د د باندې هلکانو دي او که د خط د هلکانو پښه تر خط د باندې هلکانو او ځوانانو له لينګو څخه ونيولي . او بيا به هغه د باندې ډله هلکان په دغه خط کې پر ځلو دو د کړکې چرګې په نامه ګرزي او هغه نور ځوانان او هلکان به د باندې ورته ګرزي . يو لوی او غښتلي هلک ګوري چې په خط کې هغه کمزوري هلک وي او تر پښه يې ونيسي او خپل لينګي لېري ځنې ساتي غواړي چې تر خط يې وباسي خو د خط د هلک ملګري يا د خط د باندې هلک له لينګي څخه خپلي پښې ايله وي او يا خپل ملګري يې خپل د خط ملګري په غېږ کې نيولي وي او د خط وخوا ته يې د هلکانو او ځوانانو چې پر دغه ډله بازي باندي (او دې سي) .

او هغه سپين ږيري سړي چې هلکانو او ځوانانو ته د کړکې چرګې د بازي د سيل د پاره ورغلي وي دغه سپين ږيري سړي د بازي پر هلکانو باندې ناره وکړي او داسې ورته ووايي . چې د کړکې

چرګی بازیو د ګرموځپرتوددی خو تاسو پام کوی چی سره خوږ نه کړی که ترخط د باندی له هلکانو او ځوانانو څخه یو هلکی یا ځوان د خط پرڅنګ باندی غوزاروسی د خط هلکان او ځوانانو ترلاسو او پښو او ترسر یې نیولی وی وخپل خواته یې ور کشوی چی په خط کی یې له لینګی څخه پښه د نښلوی او د غور ځیدلی هلکی ملګری خپل غورځیدلی ملګری تر پښو نیولی وی او د خط له هلکانو څخه یې خلاصوی او ترخط د باندی یې را کښوی په دغه ډول د دوی بازی جاری وی که ترخط د باندی هلکانو (لس) واره په خط کی د ننه هلکان پرسرو باندی وو هل او ځانونه یې د سرو کوټی ته ورسول نو بازی دغو د باندی ترخط هلکانو یووړه او که د ننه په خط کی هلکانو د باندی ترخط هلکان پر لینګی باندی وو هل او په خط کی سول او په خط کی یې (لس) پلاوسرو ته لاس ورووړ او خپل ځانونه یې د کوټی وسرته ورسول نو بازی دغو هلکانو یووړه له هری ډلی چی بری یوووړ لو د بلی ورځی د پاره د دوی مشر کوښښ کوی چی بیا هم دغه ملګری دده ملګری سی . او هغه بله ډله او مشر هڅه کوی چی غښتلی ملګری له هغی بلی ډلی څخه د ځان ملګری کړی . په دغه ډول دوی د کړکی چرګی بازی هم پای ته ورسیږی .

## دکونی کړپ بازی

دکونی کړپ و بازیو ته چی هلکان او ځوانان سره (لیږی) کیږی نو هغه سره ورته برابر هلکان دوه ، دوه سره لیږی سی چی هلکان او ځوانان سره دوې ډلی سی نو دیوې ډلی هلکان دیوه دیوال له هغی خوا کښینوی نو د هغه بلی ډلی څخه یو هلکی و دروی او مشر یې د دیوال له هغی خوا و ناستو هلکانو ته ږغ ور وکړی او ورته و وائی چی دا څوک دی که هغو هلکانو و نه پیژندنو بیا به دغه بله ډله هی . او که یې دغه هلک و نه پیژند نو نه پیژندلی ډله به دډګر په ما بین کی پرڅلورو پراته وی او ستر ګی به یې پټی نیولی وی . دهغی بلی ډلی هلکان په سوکه ږغ سره



ACKU

وواېي او يو خپل ځير چابکه او په منډه کې تېز ملګری ورمنځ ته کړي دغه چابکه هلکه د يوه پټ سترګی هلکه پر سر باندې ګوته کښېږدي هغه پټ سترګی هلکه نارد و کړي او ووايي (کوني کړپ) دده ملګري هغه بل هلکه وواېي (څوک دی) پر سر چې يې ګوته وي دغه هلکه دهغې بلې ډلې د يوه هلکه نوم واخلي چې (بلانی دی) او که يې دغه نامه سره هلکه ؤنو هغه نوزنه زغلي او وډرېږي او که يې ونه ښودل نو هغه ځله زغلي او سرته ځانونه څنې رسوي او هغه د پټو سترګو هلکان پسې زغلي که يې وهغه سرته نارسېده بو هلکه ونيولو پسه هغه ځله سترګی پټوي او هغه د پټو سترګو هلکان د دوی په څير ورځي او د

کوني کړپ ناري به باندې کوي . نو که هري ځلې درې واره پر له پسې د کوني کړپ ناري وکړي او هغو پټ سترګو ته ښودل او دوی وهغه سرو ته ځانونه ورسول نو د کوني کړپ بازي يې څنې يووړه له ·نو هغه ځ له هلکان دهغې بلې ډلې پر هلکانو باندې په داوړه سپاره سي دهغه ډلې د هلکانو سترګی يې په خپلو لاسو ورپټې کړي او دوی باندې سپاره وي .

## کڼه غوږی

پر سپاره هلکان چې پر هغو نورو باندې سپاره وي نو سر بېره پر دې چې سترګی يې ور پټې کړې وي په غوږو کې په داوړه ناري هم ورکوي مقصد يې له ناروڅخه داوي چې دوی برابر دهغه ټاکلې ځای ته ورتهسی او دوی باندې سپاره وي او کړ دوډه د يې د بازيو په ځګر کې راګرزوي.

د دوی د غوږو ناري دا دي .

چپه ولاړې ، ، راسته ولاړې .

ته په يوه خوښې ، شپله ولاړې

څنې هغه ناترا نه هلکان چې په غوږو کاڼه او سترګی يې پټې وي هغه بل هلکه باندې سپور دي خو دي ستړي سي نو داسې بدغو کړي .

## تو مېچه

د تومېچې بدرغ چې و کړی نو قول سپاره هلکان څنې کښته سي او پر سټرگو یې هغه سي لاس ونه ور نیولی وي چې دوی د خپل ځا کلی سر لیاره ونه ځاکی چې د پټو سټرگو هلکان بیا بدرغ و کړي. چې ملگرو کوښښ و کړی. پر سپاره هلکان بیا هم هغه ناري په غوږو کي ور کوی او پټ سټرگی هلکان په خپل ځا کلی سر پسې گرزی. تر څو چې هغه ځا کلی سر ته یو پټ سټرگی هلک ورسي. نو هغه خلک ناري کړي چې د سر ته ورسیدل څنې کښته سي. دغه هلکان چې د پر سټرۍ سوي وي نو د کونی کړپ په بازیو کي ډېر فعالیت کوی.

## د بېلېو او مړدکو بازي ځوانان او هلکان او لوی سړی کوی

د بېلېو او مړدکو بازي هم دژمي په وختو کي چې ډېر ساړه وي ځوانان او هلکان د سړو په نسبت لوډی دغگر بازي نسی کولای نو د (مړدکو او بېلېو بازي کوی. چې دغه د بېلېو او مړدکو بازي د (روژې) په مبارکه میاشت کي بېښی ډېر رواج پیدا لري چې د روژې په مبارکه میاشت کي چې روژي بي وي او خلک کار و نه نسي کولای نو د روژې ورځي د بېلېو او مړدکو په بازیو سره تیروي. د بېلېو او مړدکو په بازیو کي زاړه سړی، ځوانان او هلکان د خپلو روژو د تیریدلو دپاره هم گډون کوی. چې اوس به د دوی د بېلېو د کړن او د بېلېو ژور نازور او د ولاړو او ناسټو طرزونه به وښودل سي.

## د بېلېو دڅلورو خوا ؤ نمونه

بېلۍ چې څنگه سي یوه خوا یې (آس) بولي دغه بله خوا یې (خر) بولي او چې څنگه نه وي نو یوه خوا یې (مېږ) بولي او بله خوا یې (وزه) بولي چې اوس به یو پر بله خوا زدر و لری خوا دی و ښودلي سي د آس خوا د (وزې) پر خوا باندې زوره وره ده او د خره خوا د (مېږې) پر خوا باندې زوره وره ده. او که بېلۍ آس سي او هغه بله یې وزه سي د آس



ACKU

د بیړۍ څښتن یې اخلي چې د دغه وړ ن ته چوټ وایي د بیړیو د ګیړن نمونه دا دی .

## د بیړیو د بازیو نمونه

د بیړیو په بازیو کې هغه بازۍ چې په ناستو اجرا کیږي په هغو کې لوی سړي او ځوانان ګډون کوي د ناستو د بیړیو نمونه (جکه چکانی) (اڼونه) او (یر) او (ارام رمه) (اودګر) دو لاړو بیړیو د بازیو نمونه دا دی ،وچ ټکه ) کلا ،) خرساپ ) اوسولی)

## اوس به د بیړیو نمونه وښیو

هغه بیړۍ چې کوچنۍ وي او بیخ یې هم شین وي وهغه ته (بېزی) وایي چې هلکانو په دغه بېزی پورې داسې نمونه جوړه کړې دی . چې وایي .

بزی په بدراخی      اوه ښځی یې وکړې

دی لاندی ـ په راضی .

چله هغه بیړۍ ده چې هلکانو په دانزدی وختو کې له غوښو ځخه کښلی وي وهغې بیړۍ ته غوټه او هغه بیړۍ چه د مخې (سونګان یې دغوښو د پریکولو په وخت کې پرې سوي وي . وهغې بیړۍ ته هلکان (کوړ لیړ) هم وایي او (لیړ) هم ورته وایي او سونګی هم ورته وایي ځنې هلکان چې د بیړیو شوق ډېر لري نو هغو په خپلو کورو کې د بیړیو خزانې ایښې وي له خپلی خزانې ځخه د غوښو بیړیو د آسانو او خرو خواوې پرې ډبرو باندې وسولوي نو هغو بیړیو ته چتله یا چتلې وایي

چې دغه ډول بیړۍ چې چتلې سوي وي نو ژر ژر جګیږي او ډېرې بیړۍ ګټي د مقابل لوري هلکان هڅه کوي چې دغه چتلې بیړۍ لاس ته ورووړي . که نوري سره ورته بیړۍ وي او نخښه نه وه لري نو هلکان هغه بیړۍ پر ښۍ او ګټې سره معلوموي . ښۍ وهغې بیړۍ ته وایي چه د خره خوا یې د هلکانو د ښۍ لاس ( ښۍ ) ګوتې وخواته برابره وي ګټې وهغې بیړۍ ته وایي چې د آس خوا یې د هلکانو ( ښو ) ګوتو وخواته وي .

## بېړيان

بېړيان تر بېړيو يو څه لوی دي نو چې هلکان دولاړه و بېړۍ ته کوي نو په دغو لوبو بېړيانو بيي ولي. ځينو هلکانو لا د ژړه و بېړيان يا له سرپو څخه يې هم بېړيان جوړه وي.

هلکان او ځوانان چې د بېړيو شوق اخستی وي او د بېړيو شوق لري نو لمړی څه خټه ښه جوړه کړي نو د خټې په مابين کې يوه غټه بېړۍ ښخه کړي وروسته له څو دقيقو څخه هغه غټه بېړۍ و کاږي او سرپ يې و يلي کړي وي د دغه بېړۍ په ځای کې يې په خټه کې توی کړي. دا چې خټه د بېړۍ په شکل وي نو د سرپ کټ مټ لکه بېړۍ داسې جوړه سي. تر سهاره پورې په هغه خټه کې پراته وي تر څو چې يو ښه درو ند بېړۍ له هغه څخه جوړه سي او د ژړو بېړيان يوازې د غه په کلو کې زرګران جوړه وي چې پر ځوانانو او هلکانو يې پر غنمو سره خرڅوي چه په هر کلي کې د هر هلك د بېړيو خزانې د خپلو کورو په داسې ځايو کې وي چې له مخې و تلې وي او په زړو منګو کې يې اچولي وي او په هغه له نظره وتلو ځايو کې يې ږدي که په خپلو کلو او يا د باندنيو کلو څخه د يوه بل هلك ملګري سره ورځي نو هغه د کور هلك لمړی پلا خپله د بېړيو خزانه ورښکاره کوي چې اوس به د ناستو د بېړيو طرزونه بيل بيل و ښودل سي.

## دير بازي

د(ير) هغه بازي ده چې ځوانان، هلکان او سپين‌ږيري سره پکې ګډون کوي چې يو ګردي خط و کاږي نو دوی ګرد و دور ته کښېني او يوه يوه بېړۍ سره واچوي چې يو و وائي زما بېړۍ دی هغه و بل و وائي چې زما خو غوټه بېړۍ ده بل وائي چې زما چټله بېړۍ ده بل وائي چې زما راسته بېړۍ ده او هغه بل وائي چې زما چپه بېړۍ ده نو دغه ټولې بېړۍ يو هلك د دغه ګردي خط په مابين کې واچوي که نوري ډنګې وي او يوه پکې آس وه نو دغه آس بېړۍ ټولې وزي بېړۍ يوړلې او چوټ يې کړلې هغه نوري چې يې موندې وي هغه بېړۍ په دغه خپله بېړۍ ولي او تر دغه

خطې باسي او يابې اچوي که يې واچوله او يابې ترخط ووېستله نو بې هغه هم وګڼلی. که نوري بدلنګي وي او يوه بېلېي پکې څرګنده نو هر څو چې موږې وي موږې بېلېې يې چوټ کړلی او نوري به ترخط باسي او يابه يې اچوي او که يوه موږه وي او نوري يې ټولي وزي وي نو چوټ خونسته مګر دغې مږې وار پر ټولو بېلېو سته چې يابه يې د وزې پر خوا باند اچوي هم وګڼله سوه او که يې ترخط ووېستله هم يې د ګڼله.

## د بېلېيو دارام رمې بازي

د بېلېيو دارام رمې بازي هم د ناستو بازي ده چې لمړی بوه يوه بېلېي سره واچوي که د هر يوه بېلېي جګه سوله او د نورو بدلنګي وي نو دا چولو وار هم د جګې سوي بېلېي د خښتن وي هغه وواټي چې دوې دوې به نوري پسې اچوي ور سره هلکان دوې دوې بېلېې نوري پسې واچوي هغه هلک چې بېلېې يې جګه سوې وي او دا چولو وار يې وي هغه هلک دغه بېلېي سره ټولي کړي او وا يې چوي که په دغو اچولو بېلېو کې مږان ډېر وه او يا آسان يا خره يا وزې ډېرې وي و هغه بل هلک ته وواټي دغه ډېر غواړم هغه هلک چې بېلېي واچوي که د لمړي هلک نيولي متا نه وه راغلي نو لمړی هلک وګڼلی او که راغلي نو دغه هلک ځنې وګڼلی هغه هلکان چې د هر يوه بېلېي ډېري وي نو دغسې هلکان ډېر ډېرې بېلېي سره اچوي او دګر بازي سره په دا سې ډول کوي.

## د بېلېيو دګر بازي

هغو دوه هلکا يوه بېلېي سره اچوي نو د هر يوه بېلېي چې جګه سي نو لمړی دا چولو وار هم د هغه هلک وي دوی دا سره وواټي چې لس، لس نوري به پسې اچو ژ نو چې ټولي دوه ويشت بېلېي سي هغه هلک چې دا چولو وار يې وي سره ټولې او وا يې چوي که په اچولو بېلېو کې څو آس او څو يې خره وي نو هغه د خر و به نسبت دغه بېلېي ګر سولې هغه لومړی هلک ځنې وګڼلی او که په بېلېيو کې نوري وزې يا موږې وي

او یوازې یوه بېړۍ یا دوې بېړۍ آس وي دغه د آس بېړیو ـ نوري که هر څو وزې وي هغه بې وګټلې بیا به یې هم هغه هلکې اچوي او که یوه یا دوې یا درې بېړۍ په اچولو بېړیو کې یوازې خره سي نو لکه خره د څو نه بېړۍ په نورې هم پسې اچوي او که بیا په بله پلا کې آس او خره سي نو بیا هم ګرسولې څنې وېي ګټلې.

مقصد که په ګر کې آس وي او ډنګې بېړۍ که هر څو وزې وي له آسو بېړیو سره د اچولو څخه نه یو ډولې او که خره و د خرو بېړیو په اندازه په د څو نه نورې پسې اچوي او که هیڅ جګه نسي د څو بېړیو نه هلکان نسي وا لی بیا به یې هغه بل هلکې اچوي.

## جګې جګانې

د داستو بېړیو کېږن په لې کې یوه هم د جګې جګانې بازي ده دغه سره تاست هلکان یوه یو بېړۍ سره وا چوي که نورې ټولې ډنګې وي او یوه پکې جګه وه هغې جګې بېړۍ نورې ډنګې بېړۍ ټولې وګټلې او که دوې یا درې بېړۍ په یوه پلا اچولو سره جګې سوې وې نو هلکان یې بیا هم اچوي تر څو چې نورې ډنګې او یوه پکې جګه وي نو په جګې جګانې کې موږه او وزه نه غواړي خو یوازې که یوه بېړۍ جګه سوه له هغه نورې یې ټولې یو ډولې او وېي ګټلې.

## د بېلیو داړوني بازي

د بېړیو داړوني هم هغه بازي ده چې هلکان یوه یوه بېړۍ سره اچوي نو که د یوه هلکې بېړۍ جګه سي دغه هلکې په خپله جګه سوې بېړۍ د نورو هلکانو بېړۍ ولي اړوي یې که یې هر څو اړولې هغه اړولې بېړۍ یې څنې و ګټلې البته دغه بازي تر خط د باندې کېږي.

## دولاړو بېلیو په لړ کې یو هم دوچټک بازي ده

دوچټک بازي هلکان او ځوانان ډېر کوي لومړی چې دوچټک کوي نو درې درې بېړۍ سره جګې کړي نو خپل (بېړیان) سره وا چوي

نو کە ترهرەوختە ژ خودفە هلکان بە پرهفونورو باندی سپارە وی . کەخولی پرمحکە باندی محنیولو یدلە بیانووارد سپر یدلودهفی بلی ڤلی سی . کەیوە دلمك تەیوضروری کاردر پیشسی نوهفەنورد تللی هلك ملکری دهفی بلی ڤلی لەهلکانو سرە (سوچە) کوی .

## سو چە

سوچە داسی یوشی دەلکەپچە . خوددوی پە بازیوکی (سوچە) مروچە سویدە نودوی سوچە پەدارپە سرە کوی. یوهلك هم خپللاس ترشا یوسی هفە بل بپ هم یوسی یوهم ووالی سوچە هفە بل هم ووالی سوچە کە دیوەدلاس بقە گوتەوە اودهفە بل دمنع گوتەوە اودهفە نود بقی گوڤی محنیتن محنی یودپ لەاو پرهفو نورو هلکانو باندی بە سپر بپی. او دشوتار او بازار ناری بە کوی اوخولی بە دیوە بل خپلو ملکرو تەورا چوی . پە دغەوخت کی محنی پر لەسپارە هلکان یاسرە وروژەوی او یاد کاکا گانو زامن وی او پانور سرەنزدی قرییان وی نوهفە هلکان یو پر بل باندی تەسپر بژی لەمحنکەسرە ورتە ولاپروی . اودشوتار او بازار خولی چی یی هلکری وراجوی دیهم دغە ناری کوی . پە هلکانو کی محنی محوانان شتەچی دهفی بلی ڤلی دسر لەخانەسرە ڤپر رفیق وی نود شوتار او بازار پەوخت کی هفە دسر خان ودغە خپل رفیق تە اشارە وکپی نوهفە هلك پە خپل وار باندی دشوتار او بازار خولی پرمحکە باندی واچوی بیانووارد هفی بلی ڤلی سی . دهفی ڤلی دسرخان هم گوری چی پە سپرو هلکانو کی یی یوهلك پەرپەپوری وی نوهفە تە اشارەو کپی هفە هلك هم دغە دشوتار او بازار خولی پر خپل وار باندی پرمحکە واچوی. بیا دسرەخانان سرەووالی چی دغەدوە هلکان بە دیوی ڤلی وی کە یو پە یوە ڤلەکی وی او بل پە بلەڤلەکی وی نودوی دخپلو رفیقانو لوری کوی نوجالی وی لەسرە سرە لیپری سونو بە دغە دوە هلکان پە یوە ڤلەکی سی .

یې ټولي وګټلي او که د هغو هلکانو پېټیان د اچولو په وخت کې آس
سي نو یوه پېټۍ به بله ور سره جګول دا د خرساپ بازي ده .

## د کلا بازي

د پېټیو په بازیو کې هلکان او ځوانان د کلا بازي خوښوي
او ډېر یې کوي د کلابازۍ هلکان او ځوانان خپلې خپلې پېټۍ کوټه
پر یوه ځای سره جګې کړي . نو خپل پېټیان سره واچوي چې د هر
یوه پېټیان جګه‌سي د جګې پېټۍ ځښتن خپله پښه پر د کلا باندې
کښېږدي او خپل پېټۍ د یوه دېوال ته وشکېلي هغه د پای یا و روسته
هلکه خپل پېټۍ پر د کلا باندې وشکېلي بیا هم وار د دېوال د پېټۍ
سي په هغه پېټۍ د کلا د څنګه پېټۍ وولي که یې د کلا د څنګه پېټۍ
وویشت ځیني وی ګټلی او که یې کلا وویشتله نو هغه ته وواېي چې وسو
بل ځلی و ګټلی او که د کلا د څنګه پېټۍ جګه سی او د هغه بل هلکه
پېټۍ د یوه دېواله ته پروت وي وغه د کلا د څنګه پېټۍ د پېټۍ ځښتن
کلا پر سر پرږوده وولي او خپل پېټۍ هغه د دېواله و پېټۍ ته ورور سوي
هغه د دېواله پېټۍ چې په خپل پېټۍ وولي هم ئې ځني وګټلی هغه د کلا
پېټۍ چې خپل څښتن د کلا د یوه بل اړخه سره شکېلي که دغه پېټۍ له
کلا څخه و نښت ده د پېټۍ د ښلېد و په نسبت وسو د کلا پېټۍ یې
ملګري ځیني وګټلی هغه هلکه چه د کلا له څنګه سره پېټۍ شکېلي چې
پېټۍ یې جګه سي او کلا په وولي که یې پېټۍ مړه ؤ او په ویشتلو
سو پېټیو کې چې هر څو موږي وي هغه پېټۍ یې وګټلی که هغه بل
پېټۍ وویشت نو ګټلی پېټۍ به هم ور کوي په دغه ډول پر کلا باندې
د دغو دوو پېټیانو د څښتنانو سره مقابله او یو پر بل باندې و از و نه
کوي تر څو چې کلا وګټي .

د درو پېټیو بازي چې د درې ګی په نامه سره بلل کېږي د غه
د درې ګی بازي په هغه وخت کې ترښځي او هلکان په هغو وختو کې

کوی چی لە پاسە دا دری لوری لە دبا ندی وەلکالو پش لو سەر و حەفە تو ی خلاس لە دەنە پەتودە (توخیانە) کی ناسەدی تو پە پر خە پر خەدغە دد دی کی بازی سەر ە کوی .

## دد ری گی بازی

ددری کی بازی پەدوو تتوکیژی لە بە تو تتوبی نهم کوی لەری دغە ددوی پیدی بو ا چوی کە دغە دری بو دی ددی لە لەمەمو لەی لە دی تو حەفە دری سو لە کەدری والە (دزی) سو لی هم دری سو لە کە دلی سر ە جکی سی هم دری سو دری سر سل ە یا پنکو س سر ە د تا کی لو چی ددری کی دری پیدی اچوی دا سی دالی دری د دری پر مەسلی پیاد لە دحفە بل سی چی پیدی بی دری سی تو پیا بی اچوی چی یو ە جکە سی پە حفە پیدی حفە توری ددی ولی لە دحفە دسلو پا پنکو سو حساب بو بو کوی هر چا چی دغە دسلو یا پنکو سو حساب بو ە کی تو پیا بە پە پا ی کی پیا هم دری کیژی توبی لە حفو تور دحفە برخی د کتلی بازی چی لی د کتلی دی حفە ور تە بی ناست دی حفە تور پا تە ملکری بە بی دری پلا پیا هم بسی اچوی پەدغە دری پلا کی بو ە دغە دسلو یا پنکو سو حساب بو ە . کی تو لە حفە بی برخە تە ە کتلی دما چام ددی پەوخت کی خو ە خوری تو د بازی کتلی ملکە بغ سی چی زما برخی را کری تو حفە کتلی برخی ور کری لە تول سر ە خاندی او دغە ددری کی برخی بو ە خوری . کە د بو ە کلی ملکە و بل کلی تەدبو ە چەزدتیری کر دو لاد هر هو پیر تە را تکە پە وخت کی دحفە کور دملکە مور و خپل پیژ ری تە دو الی چی چا ن خو خپل کورتە حی تو ستا لە پید پو [illegible] پیدیان ور کری دی پەهم خوپش شی او مور او پلار بە خوئی خوپش شی حفە د کور ملکە پیدیی ور کری دغە ملکە دغە پیدی پەخرانە کی دا چوی او پە خپلە پیر ە خرانە سر ە خوپش شی . چی دژمی وختو نە پا ی تە ورسیژی تو ملکان خپلی پیدی او دو پشتلو پیدیان سر ە یو حا ی کری او پە

منګو کې يې واچوي او د منګو سر ورته ګل کړي او د خپل لاسکي په
يوه کونج کې يې له منګي سره په مځکه کې ښخې کړي. ځينې
هلکان چې په خپلو کورو کې د خپلو د ښخولو (باور) نه لري او
يادغسې زوړ منګي نه ولري نو خپله د بېړيو خزانه وشمېري او د ګلي
له يو بل هلکه سره يې په يوه منګي کې د هغه هلکه په لاسکي کې ښخې
کړي. او بيا يې د بېړيو کولو په وخت کې سره وشمېري او هر يو خپلې
خپلې بېړۍ وخپلو کورو ته يوسي. او ځينې هلکان چې لوی شي او يا
وخپلو سبقو ته دوام ورکوي نو خپله د بېړيو خزانه زړه، نازړه وهغه
هلک ته ورکړي چې باندې ځلېږي يې دا وه د بېړيو د بازيو د کړن طرز.



# د ناویانو د لومړي شپې د مېړه په کور کښېنې

## ( پاریال )

هغه وخت چې ناوې د پلار له کوره څخه د مېړه د کور ته ورځي او ددې لپاره چې د ناوې پر مخ باندې د ناوې توب یو هغه خاص جوړ شوی ورېښمین دستمال وېړدی او بیا یې هغه ټکري چې گل مېخې (۱) پورې کوڅلې وي د ناویانو پر مخانو باندې وېړدي. دغه دوه ټکري به تر درو ورځو پورې د ناویانو پر مخانو وېړدي او تر درو ورځو پورې به ناوې پټ د مېړه د کور له خلکو سره نه کوي. په دغو درو ورځو کې که یوه ناوې پټ ونکړي او بیا هغه دوه ټکري له مخې لیرې کړي نو دغه ناویانې په ټول کلي کې په شپین سترگې سره شهرت پیدا کوي.

## د ناویانو پاریالونه

لمړی شپه چې ناوې د مېړه د کور ته ورځي. نو د مېړه د کور ښځې سره ټولې شي د ناوې د مېړه په خونه کې له هغه کونج څخه بیا تر بله کونج پورې مېخونه په دېوالو کې ټکوي نو څنې شالونه او یا ورېښمین ټکري پر دغه تنابو واچوي هغه د کونج وخوا ته یې دوره په شکل ورور جوړ کړي وي دغه ځای د ناوې پاریال بولي نو ناوې چې لمړی پلا د مېړه کور کې کښېني د کور ښځو ناوې ترلاسو نیولې وي او هغه پریاله ته یې بوزي د پریاله په مابین کې د (بڼو) نیالۍ او بالښتان او د ناوې د ناستې اسباب ره یې ښه ځای جوړ کړی وي نو ناوې چې په خونه ور ننباسي د ناوې خواښې یاد

---

(۱) گل مېخې د زرو څخه زرگران جوړه وي نو د ناویانو پر تندو باندې راوېړي او ځواله ندي وي.

مېږه خوړلي، هغوی اوږي پښېري پرې کړي چې او ناوې د پرېانه له تسه ورتهاسي په دغه وخت کې د ناوې به مېږه د کور يوه مشره ښځه هغه دوې پښېري ورو ورو د ناوې پاتو پر سر باندي په خپلو لاسو ور ماتې کړي او دا وائي چې زما د جان پر سر ژبه سي او دا پورې د بخت ناوکې سي په دغه وخت کې د ناوې خوا ددېا ور واخلي او هواسې پېداني وائي .

- خوږ وچلېدې ده غم يې مه کړي .

پلاري خو زما ښهان ده خوا په بده خوا يې مه کړي .

- چې ناوې په پړپاله کې ننوزي او د ناوې مور يا مشره خور يا د اکاکا ښځه يې چې له ناوې سره واخلي ددې هغه د ناوې ته دوائي چې په پړپال ترهغې پورې مه ننوزه ترڅو چې خوسر، خوا چې د ناوې پرشانه يا اشکه ورنکړي او يا ناوې ته چې ښکلي جامې ورواده خلي چې خو سر او خوا چې هغه ځه ورومني نو بيا ناوې په خپل پړپال ننوزي او ښکينوني له ناوې سره واخلي ښځې هم د ناوې پرشنکه ناستي وي .

## د ناوې پاتو ته مخانو ښکارول او خوني (۱)

چې د ناوې دراتلو په دغه وخت تېرسي بيا نو د کلي ښځې او پېغلې او نجونې ټولې د ناوې د ليکې ته ورسي او دوي ټول د ناوې د خواښې ته ددې د نږ ورنبار کې ور کړي بيا نو د کلي ښځې ټولې سره ناستي وي او له يوې بلې خوا هغه خبرې سره کوي په دغه وخت کې د ناوې خواښې ږغ وکړي او د کلي د ښځو ته مخ ور واړوي ورته دوائي چې زما د جان پر دغه ناوکې باندي د پرې پيسې خرڅې سولې او دو لوراخستلو په وخت کې مو ښکلی کړي کړي لې او س نو موږ او ددې لاس وخوازي سره پاتې سو او خو په دې مي زړه چې ددې چې زه لاړو نه يم چې دجان ته مې دا سې چې ناوې راوړله د کلي ښځې دې د ژړه دوادپاره د ناوې د خواښې ته

(۱) (خوني): هغه ميوې چې پر ناوې پاتو باندې پاشل هغه ته خوني وائي

داسې دوه وائي د پښه وسول چې ته لاړ شه نه یې او ودې مینه دې نو دا نه
کړه او داچې خدای پاک دې د یو دا لمن ژر خو نه کړي چې په خپله تنګي
خواله او په سې او دانه یې د برسې بیا نو د کلي ښځې سره دوائي
او د ناوې د خواښې نوم داخلي او داسې دوائي که ستا خو چې دي نو موږ
داخلي ښځې په ستا نږور د کور و نو د کلي ښځې لا ناستې دي د ناوې
خواښې د پرېیال ته ور ننوزي د ناوې د مور ته دوائي چې د کلي ښځې دي
لور کوري نو جان سره تول کړه چې د ناوې خواښې را ووزي نو د
کلي د ښځو ته دوائي چې اوس نو درسې او زما نږور د کوري په دغه وخت
کې د ناوې مور د ناوې ګانه په ناوې دعې دي او د ناوې مور د ناوې پر مخنګه
ناسته وي او د ناوې د مخ په ګوته یې هم یو د پښمین دستمال ور څوړند کړي
وي چې د ناوې پرېیال د کلي له ښځو څخه چې سي نو د ناوې مور پر ناوې
ږغ وکړي ژو په د کلي ښځې راغلي دي او غواړي چې ستا ننګ و ګوري
نو ته خپل مخ ور ښکاره کړه. ناوې خپل لاسونه پر خپل مخ باندې —
وايسي بیا د ناوې خواښې د خپلې نږور ته داسې دوائي ژو په ستا ر ننګ
خو ګوري او ته دې مخ دی ور ښکاره کړه بیا د ناوې مور د ناوې څخه
د دستمال له لاس د ناوې له مخې څخه لیري کړي د غه د لاس دا په خپله له
خپله مخ څخه لیري کړي دې د یلا مخ و ناوې ته ور پټ کړي او ددې
پلاوې مخ ور ښکاره کړي بیا نو د ناوې مور د خپلې لور مخ ور پټ
کړي د کلي ښځې د ناوې د خواښې ته ور دوائي چې د یره ښه نږور دې ده
که څه هم ستاسو د یرې پیسې لګیدلي دي خو ښکلې نه دي د کلي ښځې
چې ناوې وګوري په دغه وخت کې د ناوې مور و ناوې ته دوائي چې د
کلي ښځې خپل و کور ته څي نو ناوې هم د لاندې سي ناوې دلانده وي د
کلي ښځې هر یوه پر خپل خپل دا نقل او یا بیا دا م یا نوري میوې پر ناوې
بیا ندې پاشي چې په دغه میوې او د پاشلو ته (خو نسی) دائي دغه د (خو نسی)

میوې یوازې د ناوې په مور اړه لري چې هغه به یې ټولوي د ناوې مور به د کلي دهرې ښځې ته خوږې ورکوي بیا نو د کلي ښځې له ناوې څخه ولاړې سي نوري ښځې با به نورو کلو کې چې واده وي هغه ښځې هم د ناوې د لیدو د پاره ورځي . چې د کلي ښځې ولاړې سي نو ناویانې د چارو په غم کې پاته سي .

## دناویانو له خوا د انګړ جارو کېدل

د پښتنو د دودو په لړ کې یو هم هغه دود دی چې ناویانې د مېړه انګړ او شاوخوا ځایونه او مسجدشریف په جارو کوي . ناویانې دغه ویل سوي ځایونه په داسې وخت کې جارو کوي چې شپه وي او څوك نه وي نو ناوې د جارو دود داسې پر ځای کوي . ناوې خو نجلۍ وي په خپل پر یال کې ویده وي له ناوې سره دا غلي ښځې چې شپه ښه پخه سي نو جارو ور واخلي لمړی مسجدشریف جارو کړي بیا نو د مسجد مخه ښه جارو کوي چې له مسجد څخه خلاصه سي نو د خپل لور د مېړه د انګړ خوني او شاوخوا ځایونه د لور در وازې مخه او تر یو ځایه پوري د کوڅې ما بین ټول ښه جارو کړي او او به باندې وپاشي دغه ښځې چې له جارو څخه خلاص سي بیا نو د ناوې مور د سهار په وخت کې که ساړه وي نو او به تودې کړي په جلا جلا بدني کې یې پر (چوتره) باندې کېږدي نو د ناوې خواښې یا خوسرچې له خوب څخه را ویښ سي که ګوري چې دا وداسه د پاره یې ښې تودې او به پرتې دي هغه بدني واخلي نو له ځان سره ودا لي (نیکه پلوې سي) او ملاصاحب چې د مسجد ته ورسي که ګوري چې مسجد ښه جارو سوی دی نو ملاصاحب چې لمونځ وکړي او دوعا وي وکړي نو ودا لي هرچا چې مسجدشریف جارو کړی ده دی دوعا ورته وکړي د کوڅې خلك چې سهار مسجد ته ځي او جارو سوي کوڅې ته وګوري هغوی هم دعا ورته وکړي دغه د ناوې مور ښه کار و نه ټوله که څه هم

دناوې مور کړې دې خو دناوې په نامه سره تمامېږي او که دغه دوداو (بایده) سرته نه ورسېږي نو دکلي ښځې او پېغلې وناوې ته ښه نه وواني او په درانده سترګه نه ورته ګوري بلکې د ناوې و پلار ته پېغور ورلېږي .

## دناویانو نمونه ددوی دمیړو پر خوندو

پر هغو پېغلو باندې چې دخپل پېکې ساتنه او روزنه کوي هغه د تور پېکې په نامه بولي هغه پېغلوچې ښه (مزي) وي پر داسې پېغلو باندې ناویانې د ، پښتو نمونه ږدي او پر هغو پېغلو باندې چې ښې خاندې او ښې ښې خبرې کوي هغې د ، خوږې په نوم بولي پر هغو پېغلو باندې چې دسرو وریښتان یې اوږده او لوی وي پر هغو باندې دښېور د نمونه ږدي .
پر هغو پېغلو چې رنګونه یې ښه وي او ښې ښکاري پر هغو باندې د ، ښایسته نمونه ږدي . پر هغو پېغلو چې دناویا او په زړه پورې وي او ښه اخلاق والاري پر هغو د ګرانې نمونه ږدي . پر هغو پېغلو چې پر خپلو منډو باندې ګرانې وي نو دمنډو ، هسک ګویې ناویاوني ، دبابې په نامه بولي پر هغو چې په تندو کې شنه خالونه ولري پر هغو باندې دد خالداري نمونه ږدې او پر هغو پېغلو باندې چې پر زنې هم خالونه ولري او په تندو کې هم خال ولري دشین خالې په نوم یې بولي په دغه وخت کې دناوې پر مور دزوم مور ږغ وکړې او وواېي چې پر ما او زما پر سپین ږیري چې دزوم پلار دی ستا لور زما نږور پر موږ دواړو باندې ولې نمونه نه ږدې او که یې را باندې ایښې وي را ویې ښیه . بیانو دناوې مور ورو ستونه له ځه وخت ځځه له پاریاله ځځه را ووزي او په څه پیره مینه سره دزوم د مور ته وواېي چې زما لور پرتا باندې د (لوداد ا)
نوم کښېښو داوستا پر سړې باندې یې داغا لالا نوم کښېښو دا وس لو که ستا دغه نمونه خوښ دې نو ماته ووایه چې خوښ مې دی او که

او کەدیە دی خوبن هەم وا تەوو ایە چی ناوی لو زمونەدر باندی بودی
دناوی خواپی چی خپل د(لود ادا) توم و ادری لود ناو ی دمود تە
مخ دا وادوی اوورتە داسی ددانی. دناوی مور زە و خدای پاك
تەشکر کوم چی وما تەدخپل ذوی لە بر کتە خدای(ج) ازور را کی لە
او بیا هغی اپ ور پرما باندی دلودادا توم ایښی دی ما دغە توم دخپل
ځان د یادە او دخپل سری دپارە می منلی دی اود وا ند یە خو بن
بو. چی د ناوی مور د ناوی دخوابی اوخو سر لە نمونو څخە خلا صە
شی. نو د پریال تەورشی. بیر تەڅر راوو زی اود ناوی د خوا بی تە
ووانی چی ازور دی ستا پر نورو زا منوددی پر لیورو باندی باددوی
لەرنکو سرە بر ابر نمونە ایښی دی چی اوس بە لکە دپخلو نمونە
داسی بەدلیور د نمونە هم دښود دل شی.

## دناو یا نو دلیو ر و نمو نە

ناو یانی پر خپلو نز دی لیورو باندی بە نمونە بودی چی ددو ی څو
څونە بە دنمونی پە تو کە وښو دل شی.

پر هغە هلکە باندی چی بەپ پاك کالی اغو ندی پر هغو باندی د
خان لا لا نوم بودی:

پر هغو لیورو باندی چی بە پلن او دماغ بی لوړ دی پر هغو باندی د
خاتو ل نوم بودی.

پر هغو لیور و باندی چی ر نکو نە بی سرە دی نو بی ناو یا نی بی
دریدی پە نامە بولی.

او پر هغو هلکانو چی څخی لری اوو دلو تە اتوانو نە کوی پر هغو د
څنوو ر د نو مو نە ږ دی

پر هغو هوا نانو چی ځانو نە ښە جوړ وی او ښە ښە کالی اغو ندی د
خیا لور پە نامە بو لی.

ACKU

پر هغو لیورو باندې چې پر ناویانو د پندار ګانو په هر کړي جنګېږي پر هغوی خوارانو ټیکه نومونه ږدي

پر هغو لیورو باندې چې د کور ږوږ پوره کوي پر هغو باندې د ګران نومونه ږدي.

او پر هغو لیورو باندې چې پر مور او پلار باندې ګران وي او کوچني وي د بدو ګي په نامه یې بولي.

## د ناویانو نومونه د کلي پر خلکو باندې

ناویانې د کلي پر خلکو چې هغوی هم د ناویانو د لیورو په نامه سره بلل کېږي او چې په کور لیو کي پوښه هم هغې لیري وي نو پر هغو باندې پر عکس خو نه چې پوښه د خندا او ډم وي ږدي.

پر هغو خواناتو چې پوسرو باندې یې د پښتان کم وي پر هغو خواناتو باندې د هغیو ر د نومونه ږدي د کلي پر هغو خوا ناتو باندې چې په سرو پکان وي د هغې نومونه ږدي پر هغو سرو باندې چې ږغ یې ډېر ډډوي او دي د کوډي، ناموار. وي پر هغو باندې د نازکو نومونه ږدي او د کلي پر سپین ږږو باندې ده وي لهر انکو سره هم نومونه ږدي.

پر هغو سپین ږږو چې پوښه د مخې او د خولې ډېر کړې سړي وي پر هغو باندې د (خان لالا) نومونه ږدي او پر هغو سپین ږږو چې ډډ پر عمر وي او د پر سپین ږږي وي هغو ته (لالکو) وائي په دغه ډول. ناویانې په کلي کې ګوري که د هغو سړي د پوزي وي او پر دغه سړي باندې هغه سر خېل زوی پر ګران وي نو ناویانې یې پر دغه ګران زوی نوم ږدي نو که د دغه زوی پلار د ناوې د کور ته ورسي پر ناوې یې ږغ

وکړی چی زو یه ښکه‌یی خپه‌سوی خونه‌یی د اهم ور ته دوانی چی
د پلار له کوره ښځه‌دی احوال اری سره ښه‌دی نو ناوی خو دده پر
ګرانزوی باندی د (دلبرجان) نوم ایښی دی و دغه سړی ته دوانی هود
(دلبرجان) پلاره زه ښه یم د پلار له کوره هم احوال ارم سره ښه دی او په
دی نزدی نزدی وختو کی زما دمشرور رورواده دی لمړی داچی ماو واده ته
زما ور ور غوا ړی کړه یه که بی د غوښتم بیانه پوهیږم چی دا خلک به می
ور پریږدی که یه د (دلبرجان پلار چی د ناوی دغه خبری واوری نو
د ناوی ته دوائی چی زو په ستا پلار خو به (بابیړی۱) مثاله خو سرخیلو
ښځه نه وی اخیستی نو تا به ولی ستا خوسر ستا دور ور درواده ته نه
ور پریږدی تاچی زما پرزوی باندی ښه نوم ایښی دی او په ښه نامه دی بللی
دی زه به ستاو خوسر ته‌و وایم او تا به پریږدم . پر ناو یا نو
باندی نزدی لیورو ته او د کلی خلکو د (ورینداررو) نمونه بدی او
د ناو یانو د میړو د کورونو اړه او د کلی وادده ناویانی د (ناوی دادا) په
نامه سره بولی او یاداچی د ناوی میړه چی په هر نامه بولی نو دده ناوی
هم دده په نامه بولی مثلاً د لالا ناوی، یا لالکو ناوی یاد اغالالا ناوی
یاد خان لالا ناوی یاد جان لالا ناوی نمونه پر ناو یانو باندی بدی.

## ګاټی

د ګاټو هم هغه بازی ده چی دغه بازی و اړه هلکان نجونی او هغه ښځی چی
چی کوچنی میړونه یی په سفر تللی وی او ښځی هم چی د ماښام یا د غرمی
په وختو کی چی له نورو کارو ښځه خلاصی وی کوی یاد هغو بزګرانو ښځی
چی بزګران د ماښام په وخت کی دا بولکو او دپاره په شپه کی له خپلو
کورو ښځه ولاړسی نو د هغو ښځو خو بونه و تښتی نو په شپه خو دستی
کار و خراغ ته نه کیږی نو د ګاټو بازی په داوړه کوی لمړی پنځه دانی
کیږدی کړی د یه ټبری مونږدی کړی او د غو پنځو ټبرو ته ګاټی وائی د غه پنځه

(۱) بابیړی چه ولور د لور پلار وا خلی بیا ښځه نو ری پیسی
اضافه واخلی بابیړی ور ته وائی.

گاټي په خپل ښي لاس پورته واچوي او دغه لاس د شاخوا تر لاندي ونيسي
که دغه پنځه واړه گاټي د لاس پر شا پريوزي نو هغه څوک خپل
هغه لاس مچ کړي او دواړي چي ماخو گاټي پخي کړلي · بيا واړه دغه بل
لوري سي هغه هم هغه کوي تر څو چي خپلي گاټي په دغه ډول سره پخي کړي
بيا واړه دغي لمړي پنځي سي هغه پنځه پرغو کړي چي زه په يوه گي کي يم.

## يوه گي

پر لاس څلور گاټي سره جلا جلا پر دي او پنځمه گاټي پورته واچوي
ژر په هغه لاس له ځمکي څخه هغه يوه گاټي راواخلي او هغه پورته
اچولي گاټي په هوا ونيسي بيا يوه گاټي پورته غورزاره کړي او هغه
بله له ځمکي څخه ژر راواخلي او پورته اچولي
گاټي هم بايد په هوا ونيسي که هغه د هوا گاټي له لاس څخه
پر ځمکه ځني ولوېږي او ياد ځمکي گاټي نه واخلي نو واړه دغي بلي
پنځي شي هغه پنځه هم هغه يوه گي کوي چي له هغي څخه پورته اچولي
گاټي پر ځمکه ولوېږي نو بيا هم واړه دغي لمړي پنځي سي لمړي پنځه
چي يوه گي د کړي نو دغه لاس د شاخوا مچ کړي او دواړي چي ماخو
يوه گي خلاصه کړله اوس نو زه په دوه گي کي سوم.

## دوه گي

دوه گي دغه پنځه بيا دوي دوي برابري سره پر دي نو هغه يوه گاټي
پورته سره غورځوي او په هغه لاس هغه د ځمکي دوي گاټي ژر راواخلي
او د هوا گاټي په هوا نسي چي دواړه ځايه په يعني څلور گاټي په دغه ډول سره
ځمکي څخه پورته کړي او هغه د هوا گاټي هم په هوا ونيسي نو دغي
پنځي دوه گي هم پخه کړله بيا نو خپل لاس مچ کړي او دواړي چي زه په
دري گي کي سولم.

## درێ ٣ ی ه

ددرێ کی بازی مم داسی کیژ ی چی درێ کاقێ دیوی خواته بدی اوبو. کاقێ دبلی خواته پنجمه کاقی بورته فوزاره. کی ی نوژر به هفه لاس له مجکی ششه درێ کاقێ داو اخلی بیا هفه بله یره کاقێ راو اخلی چی خلور کاقی سره بوهای کی ی بیا تو لس بلا خلور کاقێ برمجکه بدی او پنجمه بورته اچوی به هره. پلاچی پنجه، کاقی بورته فور خوی او خلور نوری له مجکی ششه راا خلی تو داسی وائی مستپا بودی کلو مستپا دوه دی کلو مستپا درێ د کلو مستپا خلوردی کلو مستپا پنجه دی کلو مستپا شپژ دی کلو مستپا اوه دی کلو مستپا اته دی کلو مستپا نه دی کلو مستپا لس دی کلو چی تر لسو بوری مستپا او کی ی بیا نو دغه بنجه بدغ و کی ی چی زه په (دروازه کی) بم د کیێ لاس له بقی گوتی اود خنذی له گوتی ششه چی برمجکه بانه دی بێ بدی دروازه جوړه کی ی په دغه بی لاس ددروازی له مخی سره خلور کاقی واچوی نو مخی بلی بنجی ته ووائی چی (سپی) دی کمه کاقی بیبێ هغه بنجه داسی کاقی وبنی چی ددی دلاس تر دروازه نسی وتلای هغه بنجه یو. کاقێ بورته فور خوی په هغه لاس نوری خلور کاقێ دخپل لاس تر دروازه. باسی چی نوری درێ و باسی نو وار دسپی سی نو سپی به په یوه وار پر دهی که سپی تر دروازه ژوت او درێ او یستی نور هم بسی تللی ژ نو دغی بنجی بازی یوه له او میلمستیا بێ له مخی بلی بنجی ششه وگټله. د کاقو بازی هم پای ته ورسیدی.

# د هلکانو زوکړه

چې هلک لا نوی زوکړی خواښې یې د نږور ته ګوري که یې نږور په خاندې او ښې خپرې او ښه خوښه دی نو خواښې د کلي د ښځو ته وائي چې نږور مې خوښه ده نو خدای پاک به وما ته لمسی را کړی. او که یې نږور نه خاندی او تل خپه وی او د خپل کور کار و ته هم په مړه زړه سره کوی او په کور کې د ښځو او د کلي و ښځو ته سم ښه غږ نه کوي نو خواښې یې وائي نجلۍ یعني لمسی خدای پاک را کوي. د کلي ښځې وائي چه لور هم ښه ده او زوی هم ښه دی هر څه چې د خدای پاک دربا ندې حل ؤ ده غه مو قبول دی بله دا چې که دا پلا نجلۍ وه نو ددې (سنځلی) په ... نوه یه جوړه کړه نو به خدای پاک لمسی هم درکړی. چی ماښام هلک پیدا سی نو دد وی قول کور خوښی کوی د سهار په وخت کې خواښې د زوکړې هلک داسی نازه کوي.

## د هلک د زوکړی ناره

د هلک دا ناچي زړه ډیر ښه دی نو هغه د هلکانو د زوکړې مروجه ناره داسې کوي د ناوې خواښې لمړی پر خپل سړی د زوکړې هلک پر نیکه باندې زیری د کړی بیا نو زوکړی هلک دا نګی پر ځنو باندی و درېږي او داسې وائي (د خدای له داده ، د میړو له یاده د جان زوی وزو) د غه ناره چې درې پلاو کړی نو را کښته سی او ژر تر ژره تېښتی پر چپه خوا پر اور باندی کښېږدی او درې یا څلور مټه غنم ننی کړی چې دغه غنم ننی کړی نو درې ښې ښې میوی په نینو ګډی کړی نو د (نینو تال) د ملا له څنګه سره په مسجد شریف کې ږدی چې ملا له دوعاؤ و څخه خلاص سی نو ملا صاحب ږغ د کړي چې د حاجي صاحب لمسی زوکړی دی دعا

ورته وکړي چې خدای پاک دې ورلوی کړي چې دعاوکړي بیا دکلي یو سړی دغه ټینې په ځادره کې تړي کړي چې دځادره یوه خوا یوه هلک نیولی وي او بله خوا یې بل هلک نیولی وي هغه دکلي لوی سړی یې وروېشي چې د مسجد شریف له ویش څخه پېښه سي نو د مسجد ومخې ته یانې ټینې راوباسي او یو غو کړي د ده پر یوغ دکلي کوچني هلکان او وړې نجوني دخپلو کورو څخه راووزي او دغه سړی ټینې ورو ویشي که هلکان او نجوني د ده پر یوغ ته راووزي بیا نو د ټینو دویش سړی دزوکړي هلک پلار له مسجد څخه راوباسي ورته وواګي چه د نوي جان پر زوکړه څوټکونه په توپک وکړه دزوکړي جان پلار ژر تر ژره توپک راواخلي او دري ټکونه وکړي پر ټکو باندي دکلي ټول واړه هلکان او نجوني له خپلو کورو څخه دجان وکورته ورسي دټینو دویش سړی وټولو ته ټینې ورکړي. بیا نو دکلي سپین سري ښځي ورسي او دزوکړي جان مبارکي یې واتا او نیکه ته ورکړي اتا او نیکه یې نیپښې ورکړي.

## د هلک د ویښتانو کرکیالار

دغه هلک چې یوڅه لوی سي نو له هغه کلي څخه یې نیکه (اغا) راولي یوه ورځ یې میلمه کړي بیا نو یوه ټه خبره ورته وکړي هغه داچي زما دلمسي دسر په ویښتانو کي به دغه بیاتي یوه لار وروکړه ستالاسونه دبخت دي ګوندي وماته خدای پاک نور لمسیان هم راکړي (اغا) چي دزوکړي هلک دنیکه خبري واوري نو ورته وواګي چي تاخو پردغه جان باندي نشرح هم نده وېلي بله داچي که ما (آغا) بولی، یادا غا په سترګه راته ګوري نو دغه څو خبري زما په خوله وکړه هغه خبري زما دادي چي ته خو لا یوڅه د دنیاله خوا ښه یې ګذاره دي دغونه کیږي نو له تاسره ښاګي چه ته لمړی یو ښه مږ حلال کړي او میلمستیا وکړي چي په دغسي میلمستیا کې دکلي خلک سپین ږیري او ځوانان او د قبر ځېني مشران او ځوانان او ملایان راولي چي دوی ستا څو ډوډۍ وخوري

او دوی رخصت شی بیا به نو زه او ته د هلک د سر په کړک کی سره خبری
وکړو. چی آغا دغه و یل د جان و نیکه ته و کړی د جان نیکه د جان و انا
ته دغه د اغا قولی خبری و کړی او په پای کی ورته وو ائی چی اوس دی
څنګه خوښه ده دزو کړی هلک (انا) وو ائی چی که دغه د هلک د سر د
کړک دوه پرڅای نه کړ و خو دغه اغاڅی د هغه ټبر خلک راخبروی
او بر موږ به خاندی او که دغه دوه پرڅای کوؤ خو بوادی موږ ناوی
دو لور د اخستلو او ور کولو د پاره خپلی مځکی ګرو کړ لی بیا موږ
ټکری او نور دوده بری کړل اوس نو لکه شکیدلی (مرغیان) د اسی
لګړ سو لو اوس بیا دغه دود دی. دزو کړی هلک انا وو ائی چی دغه
دود به هم قرض کوؤ او پرڅای کوؤ به یې نو د هلک انا د هلک و نیکه
ته وو ائی چی بوڅو پیسی له چا څخه په ګټه واخله نو به د اغا له ویلو
سره سمه میلمستیا وکړو بو خو به موږ د جان د سر د کړک
دوه پرڅای سی بلبموږ دغه د جان پلار زموږ زوی له موږ څخه خو بس
سی او د جان موږ چی زموږ نیوورده هم به له موږ څخه خوښه سی. بیا
نو د جان نیکه و لاړ سی بو وادی پیسی په ګټه واخلی بیا نو میلمستیا و کړی
د کلی او ټبر ټول هغه د مخی او سپین ږیری او ملایان راولی بیا نو اغا
وو ائی چه د هغه بل ټبر څخه هم بوڅو هغه د نامه کسان را وله بیا دزو کړی
هلک نیکه په خپله هغه بل ټبر ته و لاړ سی او هغوی ته وو ائی چی زما
د ګران لمسی د سر په و پښتا نو کی کړک کوم نو می بوه سپکه میلمستیا
کړیده نو زه راغلی یم چی تاسو هم بودوه یادری کسان را سره
ولاړ سی د هغه ټبر څو څوانان د سپین ږدو سره و په بدل کی چی سپین ږیری
نسی تلای و د سره راسی چی دزو کړی جان د نیکه میلمستیا و خوری
چی ښه شپه پخه سی نو د دغه کلی څوانان او د ټبر ورغلی څوانان له دغه
انګړ څخه د باندی په مسجد کی او یا په بل څای کی سره کښینی نو

څني کشروته بدلې. او کا کېږي لنډۍ په داوړه وواڼي چې اوس به لمړی
دخوانانو هغه کشروته ووايو چې دوی نجونو پوری ویلی دی او په هره
مسړه کی دښو پېغلو ستاینه په داوړه سره کوي.

## کشرونه

ګرزمه ناترسی — نجلی ستا په انتظار کی
کله به می یار کړی
ښایست ته د بدر ی لري — خال د شاپېری لری
په پزه پېڅه نتکی لري
خواست در ته کوم چې ما د باغ باغوان کړي
کله به می یار کړی
غمی دی د نتکی داسی ځرکیږی
به لیدلو یې زما زړه کښا بېږی
به هر ځای مو د یاری خبری کیږي
کاږه چې راته ر کوړي نامردی ما په دار کړی
کله به می یار کړی
په هر ځای د ی صفت کیږی
باهو ګان دی پرنامی زرګر جوړیږی
د یار ی په حال بو ته
خبر خپل مور او پلار کړی
ګرزمه ناترسی — نجلی ستا په انتظار کی
کله به می یاری کړي

دمسړیو دویونکی سړی پرځنګه څلورکسان او ر اساتو دی
د هر ی پلا دمسړیو په پای کی هغه څلور کسان لمړی د کله به می یار
کړی دوه واره وواڼي بیا دغه هم وواڼي چې ګرزمه ناترسی - نجلی

ستا بەانتظار کی، ودالی بیاهم برادی ە گلەبەی یار کیێ دوالی بە دخواهەوەنەت کی دمرو ەوبلو دەری هاسمە سی بیاهم دمرد پە دیلو داسی پیل د کی ی.

تەچی ستر کی نوری کیێ
ادچە کچل پە بوری کیێ
وەرچا تەمپە کتل کیێ
تەدەولو دزەدە چکار کیێ
کلەبەی یار کیێ
ما لیند لسی دێ ودە
ستا بە غوز دە چە دەپسە
پەدەو دکوالی تەدولە لە دی چا پستە
کلا پتون دی دی پەلاس کی تەکو یوان کیێ
کلە بەی یار کیێ
چی لو پەسو ێ لجلسی
ولجکار و لەدی لتکسی
پەموں توب دی زەخبر کیں ؟
پرەرهای چی قدمەنلی لوی کذار کیێ
کلە بەی یار کیێ

بیاهم کثر چیان خپل کثر پەدیر و لوید ژ غو سرەوالی چی دمر بو دەری ساهم سمەصی اد نوری مسری ەور پرزنە کری او بیاهم پەخپل کثر پیل داسی د کری.

## هغه کثر دی

پەخولە دی ملا لە دە
سپینە لکە ژاورەدە.

ښکې دي په هر کېږي
ویښتان دي جوړ ماران کړي
کله یې یار کړي
پلوان دي جوړ کړي ډډې ډډې غوټې
سپینه خوله دې مشواني

په سترګو ړوند در پسې ته یم — لکه بادام سوري در پسې سومه

د هغې ښځې چې سړی یې په یو کار پسې تللی وي نو دغې ښځې خپل سړی په کاکړیو لنډیو کې داسې ستایلی وي چې بیا هغه کاکړی لنډۍ ده دعوا لانو له خوا داسې ویلې کېږي.

زما د کوټې غمی تور دی — ګل لاړی دهی سر تور دی
زما د کوټې غمی شین دی — ګل لاړی ده ما پښیمن دی
سترګې هیڅ نه تور ومه — د جانان لاری څارمه
ګاډی مه وهه چرلی — تر تا پردیسه ده چوري
دغه شنه کالي در ټول کړه — ستا په غېږ کې ځای را جوړ کړه

د غومبو ویل چې سره لیري دي

هغه مینان چې د مور او پلار له خوا اد بزي او نسې سره نزدې کېدلای دوی له لیري داسې سره وائي

کله مه کوه ګیلې — پر ما پیري د در پدې
شین دی خال تور دی ښکې — پر ما دي را وستی مرګی
پلار مې کور دی په کوټه کې — زه تا ستا په باغچه کې
کمې نه پسه ټکوې — ګرانه دلاسه له و یالې
زه تا نه په ټکوم — زه د پیکي سلام کوم

شین خالی

شین خالی په کاکړیو لنډیو کې داسې ستایلې کیږي او دغه مینان

خپلې ښایسته ښایسته مینا ئې پېغلې د کاکړو لنډیو په بدلو کې داسې ستائي .

ستر ګی توری په رنجو کړه    پلو پورته له خاشو کړه
دغا ښو تر پیو ستو    ژ به را باسه شین خالو
یو ار راسه فراری    وطن دی او د رالګوی
شین خالی خال دی عملیږ ی    یار دی دلی ته ګالیږ ی
ګاډی په پر پیچ ولاړه    ماته شنه خالونه راوړه
په کلی کی درېږ دی    دشین خالی ډلی پکښی دی
شین خالی که ستار ضا ده    ستاد کام بدی پرماده
شین خالی و کړه ناری    که رنځوران په جوړ ېږی
کاکړی لنډیه لاښې دی    دشین خالی ستا پل پکښی دی
دپلاله خوابږ لاس کړم    دشین خالی سره به راض کړم
ته کتل کوی و ما ته    زه به وو ایم بابا ته
ما او تادی خدای لری    خپرك به جوړسی سرکاری

د نازك پر نامه کاکړی لنډیه

نه آسمان ښوری نه مځکه    صدریه کاږ ی له نازکه
د نازك خبری ښی دی    له نز دی څښه خوږې دی
نا زکه که کښېنی    پښیلمی راځی درو ځ ي
نازك ولاړ ځ پر غونډ ی    په مابې اوروالګاوی
ماخو خوله در کړه نازکه    ته مانی کوی په کلکه

اودا هم د ګران په نامه لنډیه دی چی په کاکړ یو لنډیو کی داسی ستایلی کیږی .

ګرانه راسه په غوزی کی    بیادی خره پښده بدی کړی
ګرانه ښه تېږ ی لنګو    زه به هم درکړم ګیډ ی

گرایه ورك دی بی مانی .. له ماخو خو ش بی بشکوتی
چی ورفلی خلك خوانان خنی کژوته او بدلی اوخنی کاکری
لنی یه بدفه شپه ووالی دفه شپه به دفه کورکی تیرم کری سهلار نود
نوی جان له نیکه هفه وخصت واخلی اوخپلو کوروته ولادسی وبالاغا
بیاتی ورواخلی اودجان به سرکی بوه (لاد) ودو کری نو هلك دده
اتا د کوپاته دخپلی مورته ورودی اغاه هلك ونیکه ته و دالی چی
ماخو دهفه پرده جان دزدی به سرکی کرك ودو کرهغوی دوه دوهین
دسمالونه اوله جوهیوی هفه چك راکرل بوم بی به پهلوی لنگی دا
کره اوجو بی ددبی هم دا کرلی نو ماته دهغوی لهحاله هغه خبر
کرلی بلمدا چی زه لایه دفه راکری ځه قانع هم نهوم خو بیادهفه کلی
ملاصاحب راته دویل نوماقناعت دکر خو به زده کی هنی خوپن نهوم .

دجان نیکه چی داخلاو خوښتنی ته وگوری چی دهغه چی اغاغوادی
دفه شیان خو موږته لرو نو ادس به هغه کوم او له کمی خوابه دغهشیان
زه تهیه کوم چی دجان نیکه به خپله اندیښنه کی ورکسی نو اغا خوبر
خنگه بیغمه وته پروت وی دجان نیکه دجان وراتلهاودجان د مورته
ورسی اوورته ددالی چی ادس به آغا خنگه له خپله کوره هغه ولادو
داغا خو ښتنی چی دهلك وراتلاو مورته ووالی نوهغوی درو ستهله دبره
فکره هغهه والی چی اغاته وایه بیا به راسی نومږ بدی به خوښ رضی
کرد .

چی آغا ودفه کلی تهورسی نودنوی جان برپلار بانده ی زغ دکری
اوورتهووالی چی زماد کرکي (خوده) دی هغه کرله بایده خو ماڼ چی
تاسو په خپله دجان دسر دکرکي (خوده) وماته راوړی دای ادس چی
زه ورته دراغلی یم نو خوله یی دته کړ بیاهم چی زه ورته راغلی یم نو

هغه زما او زما د نیکه خونه وه چې موږ او تاسو ناکلې ده او ته هم پوهېږې
وماته را کړی اغا وا هم ووائي چې زه په يوه کال کې وده پلار خپلو
(درو يه پلاو) پسې لسدې گرزم او دغه مې د کال اخيري کښت دی نو
ستا که هغه دا منلی سوی شي هير سوی وی خوزه بيئی اوس دريوزده
کړم او که ستا زما هغه شي پرزده وی نوبی را کړه . د جان پلار واغا
ته ووائي چې ته هغه منلی شيان را وښيه چې زه يې له خپله کوره غخه ورته
راوړم بيانو آغا د جان و پلار ته ووائي چې و ماته مو د وه مشهدی
دسملو ته او هغه دواړه دسملو ته له ډول ډول ميوو غخه ډك او زما
پکړی ده او دهغې په وختو کې چې دالاندو مړان حلالي دوې ښې ښې
برخې چې يوه زما پر نامه ده او بله برخه زما د نيکه پر نامه ده را کړی د نوی
جان پلار و خپل کور ته ورسی او د اغا شيان سره پوره کړی او آغا ته
يې راوړی په دغه وخت کې د نوی زوکړی جان نيکه و آغا ته ورسی او
ورته ووائي چې لمسی مې نوی زوکړی دی د گلی تاويز غواړی.

# د ګلې تاویز

ګلې هغه ښځه پېرۍ ده چې د ونډو هلکانو پر هغې کو باندې کښېني چه دغه واړه
هلکان ژوبله وي نو د ګلې د تاویز د پاره ځینې اغاګان یا ملایان په داوږده
تاویزان ورکاږي بیا نو دغه آغاګان کال پر کال د دغو خپلو (درو ډیانو)
ته ورځي او خپلې خوږې ځنې اخلي نو که د کال په اوږدو کې پر
درو ډیانو باندې ښې خوښې او یا یې څه نودي کټې کړې وي نو دغه
شه مال د اغا د شناخت په نسبت په نیکه مرغي بولي . هغه واړه هلکان
نارو غه سي او یا د مور (تې) ته روی او یا ډېر ژاړي نو دواړه هلک مور
او پلار سره وواي چې زموږ د واړه هلک پر هغو باندې (د ګلې پېرۍ)
ناست دای ځکه دغه زموږ هلک وده هم نه کوي بیا د واړه هلک مور د هلک
و پلار ته وواي چې ته و اغا ته ورسه او یو اری اغا و خپل کور ته را وله او میلمه
یې کړه نو اغا چې زموږ میلمستیا و خوري نو بې زه او ته په دواړه و خپل هلک
بر اغا باندې (وکر یوډ) (۱) د جان پلار هم دغه ویل ورسره خوښه کړې او د
اغا و کور ته ورسي نو د جان پلار چې د اغا لاسو نه خوکول کړې په دغه
وخت کې د جان پلار و اغا ته وواي چې زه خو خپل کور او ځان ستاو
(نفری ته) (۲) دراچوم د جان پلار و اغا ته وواي چې ته او ستانز دي
خپلوان مې سبا ر ته و له میلمانه یاست اغا و وواي چې سبا شپې ته دی موږ
میلمانه یو خو ته نوا دس خپل کور ته ورځه او د میلمستیا شیان سره
بوره کړه د جان پلار د اغا له کوره په منډه د خپل کور ته ځي په لاره
کې که څوک وملای ته ورسي نو هغه سړی پوښتنه ځنې وکړي چه خیر
څه در پېښه ده چې منډې وهې د جان و پلار وواي چې اغا مې سبا د میلمه

---

(۱) کریډل سپارښی ته وایی.
(۲) مریډ یډلو ته وائی ه

دی نوژرو كورتەعجان رسوم چەلەاغاسوە بنائی دغسی میلمستیا ور تە و كیم دجان و پلارتە دغە پەمخە ورغلی سپی ی ووائی چی كە حەهم زە خودمفە بلقەبر سهی یم كەدی زە دمرستی دپاە رپە كاریم نو ز ە بە هم درسرە ولامسم اوهلتە بە كار درسرەو كیم دجان پلار داو وا ئی چی زمونز دخپل قبر خلكە قیردی پەمخەدی بنەاودجان پلارو كور تە عجان ورسوی او یوبنە مز حلال كپی اونوری وریچی اوبنەخو ا ند ە سرە سم كپی بیانو دجان پلار ووائی چی یوبنە اوپەزنده پور ی شی پەوروستە لەچوچی‌حخە داغاجان پەمخ كی‌ز دونو بەاغا لەموز حخە بنەترا خوبن سی اودجان دگلی تاویز بە هم بنە ورو كاژ ی او كو بنبن بە پر و گپی ی دجان مورهم دغەقولی خبری ورسرەخوبنی كپی ی . سها ر كە گوری چی اغالەحو نورو ملگرو سرەدجان دكور پرلوری وردهی سی اغاسو كەسو كنە پرلاری حی . داغالەملگرو حخە یوسپی ی چی لەپښو او چتە وی نودغە او چتە سپی ی تر مخ د جا ن د كو ر و لو ر تە پە منـڼ ە و ر ســی ا و دجـــا ن پــر پـــلا ر بـا نـــدی ژ غ و كـــپ ی چی آغا پرلاری دی راحی بیانو دجان پلار اوحنی نور دكلی سپین ږیری داغاو مخی تەورسی . آغاچی دجان پلار ووینی لە آس حخە ورتە كښتە سی آغاغوادی چی پرپښو ولاړسی خودغە سپینږیری ئی پرخپل آس باندی سپور كپی اوددی لەحنكوسرە ورسرەراحی چی كورتە داسی نودكلی دسپین ږرو پەگډون دجان دپلار میلمستیا وخوری او هغە بنە بنی هم ور كپی ی نووائی چی‌زە بەد(گلی) تاویز دنوی‌جسان د پارە درو كاژم خویوە غوښتنەدرحخە كوم هغەدا چی زماد(گلی) تاویز بە نە (خورندی) كوی كە لە ستاسو حخەدنە خبر یدلو پەوخت كی درحخە (خورندی) سونو بیاهغەتاویز تاثیر نەكوی بیا بە تاسو گیلی كوی چی آغاچە تاویز نوی راكښلی . خوزەدونە درنەوایم كە زما تاویز خورندی سو نو ماتە راسی .

## د تاویزه خوړندې کېدل

آغا وواېل چې زما له تاویزه سره ډېر احتیاط وکړی ی بیا هم د
تاویزه د خوړندې کېدلو په وخت کې وما ته هغا نو نه راوړسوي چې زه بل تاویز
ورکړم د بیاد تاویزه خوښتونکی له آغا څخه پوښتنه وکړی چې
تاویزان په څه ډول خوړندې کېږي چې موږ له هغه تاویزانو سره کوښښ
وکړو او را څخه خوړندې نه سي آغا وواېل که څوک بې او داسه وي او
د غه تاویز په لاس کې واخلي نو د غه تاویز خوړندې کېږي او تاثیر
بیا لمړی، بلې داچې که تاویز پر مځکه پروت وي او بل څوک تر هغه تاویزه ګام
واړوي نو زما تاویز خوړندې کېږي او وړیو هلکانو ته بې تاثیر
نه لري ؛ او بیا که د ګلې تاویز په اوبو کې ولوېږي او د تاویزه تو دی
سره ګډ وړ سي نو هم د غه تاویز خوړندې کېږي او له تاثیر څخه
پاته کېږي آغا وواېل چې د تاویز له خوړندې کېدلو څخه د خپلو کورو
ښځې خبرې کړی چې هغوي د تاویزانو له خوړندې کېدلو سره احتیاط
وکړی . بیا نو آغا د ګلې تاویز ورکړه او د تاویز د ورکړې وړونکی ته
وواېل چې دوه سپین پوښونه د تاویز ته ورکړی او یو پوښ له هغه
توکره څخه ورکړه او نور دوه پوښونه له سره توکره څخه ورکړه
او په د غه وخت کې آغا دا هم وواېل چې زما تاویزان به هر وخت په هغو
ښځو کښېږي چې ښه لمنځونه کوي او د آغاګانو قدر ورسره وي بلې دا
چې که د کښېږلو د ښځو نیت د موږ آغاګانو ته سم وي نو د غه ښځې چې
تاویزان په او د اسې سره وکښېږي نو هغه تاویزان هم ژر تاثیر کوي او
او وړیو هلکانو له هغې کور څخه د ګلې ډلې پیرې لیرې کوي د واړه و
هلکانو پلرونه چې له آغا څخه تاویز راوړي بیانو ګوري چې د آغا له
ویاو سره څومره ښځې مو ندې کړي هغه ښځې د جان موړ یې میلمنه کېږي
وروسته له ډوډۍ خوړلو څخه د جان موړ و د غې ښځې ته وواېل چې ما

وخێل واڕێ زێدی تە لە آغا ھەنە د گەلی تاوێز داوەری وەی ئەو آغا ھەم تە
ڕا بوو دلێ بێ چی پەدفێ بچی بە دخێل زێدی د گەلی تاوێز گەنجێ بوو دا چی
لەبەر خوا آغا تە ڕا تە بە گوتە کری ئەو بلەدا چی نەچەوا بیاکە بچەبێ
بو تە زما دجان د گەلی تاوێز ڕا بوو بچە بوو چوو لو سقا لاسوو تەپر (ئیك
شا کوم) (١) ئیوالی دی بلەدا چی کە دجان گەلی ور کەسوو بوو بیا بە دجان
سندلی بەھم بە تا جوو ئەو ھەنە خوو چی زەبێ و بل چاتە ور کوم ھەنە
خوو بە بوو تا تە در کوم ئەو د سندلی غەوقە چی قول خەلکێ بێ بوو بیفلو
بیا بیتە کوی ھەنە دستی ئی فوقە بەھم ستا لود چی بیفلە دو بە بو (مر یو)
ڕا بلیتە کری کە زە دخە دسندلی خوتە نە کرم خو بیا بوو د گەلی بچی
قوالی قول دول دول بیفر وتە ئەو خبری ڕا بێ کسوی ئەو والی چی
ھنکە بچە دە خدای پاك بە ئەو کلالی زێدی ور کری دی خو دا بێ بو
دودھم تە پر ھای کوی .

## د سندلی جوھێدل

سندلی چی ڕا بوو ملکان یا نجونی بێ ھندی بە ئەو نی کسی کیدی ئەو
پر بیاسی ئو ئەونی چی لە بوی ئەو بلی خوا ھنە پر ڕا بوو بانەی ڕا بوو دی ئو بە
ئەونی کی دوا بوو لاس بو لە بوو ھنکە سرە بە ئەو نی کی بوو دی ئەو بل لاس
بێ لە بلی خوا بە ئەونی کی ور سرە پێ دی بیا ئو ئەونی لە بوی ئەو بلی خوا
د ودو پر ھنکو بانەی ڕا ڕا بوو دی ئەو بە سینی بە ئەو بوو سرە تێری
لمری ھنە بچە چی دجان د گەلی تاوێز بێ ور گەنجلی وی ڕا و لسی ئو د
جان مورو ھفێ بچی تە ئەو والی چی زە دخێل و ئەو جان تە سندلێ
ور جو بوو م ئەو خوا ئەو چی سندلی بێ ھم تە ڕا جو ئەو کری دا ھکە چی
سقا لاسوو تە بە ما بوو دی د ئاویز بە گەنجلوی کی بە سول ئەو س ئو تە دو نە
و کەرە بو ما تە چی دجان مو دیم دە سندلی د بارە .

---

(١) ئیکێ شا کوم . و ئیکێ مرغی تە دانی

چې هرڅه خوښتونکي وي راوښيه چې زه يې در کړم او د جان د پاره سندلي راجوړه کړه دغه ښځه وواېي چې ښې سندلي خود و زو له وزغنو او د سندلي غوټه يې دوزو دوزغنو له هغو پټو څخه جوړه ېږي او اوس وزغنې را کړه چې زه يې وور پښم او د جان د سندلۍ د جوړولو په کار په پيل د کړم بيا نو زما د خوړې په کار نه شه پو هيږي بيا نو د جان مور د وزغنې د کلي د ښځې ته ور کړې هغه ښځه وزغنې د ټکو کولو او د وزغنو پټ پيل کړي او له وزغنو څخه ايښې جوړه کړي او اوه پنډې سنۍ له وزغنو څخه وورېسې نو دغه اوه سنۍ سره يو کړې بيا يې نو پرهره يوه يوه لو يښت باندې؟ هغه رنګه ور چمبين ټوکران ورو ګنډې چې دغه د سندلي اوه پنډې سنۍ سره نيولي وې او د سندلي د سر غوټه هم د دغې ښځې ته چې دوزغنو له پټه څخه جوړې سوې وې د نهايت د باره يې ور کړې او هغه ښځه دغه د جان د سندلي غوټه د خپلې پيغلې لور ته ور کړې او هدايت ور کړې چې د سندلۍ پر غوټه باندې د وړو وړو (مريو) ليکې شاو خوا پر وګنډي او د وړو وړو (مريو) په ما ښنين کې سپين «ګوجې» هم وګنډي او چې منډې خپل خپل دا ړه وپه وي نو سندلي خوا ږه وه وي او منډې څلور پلا د سندلي د غوټې د سر له خوا څېرګه کړي او پر منځکه يې کيږدي نو سربيره پر هغه څېرګه شوي سندلي باندې (اوډنۍ) راچوي او پر ديې يې کړي نو خپل ماشوم پر دغه ډېر سوې اوډنۍ باندې پر باسي په دغه وخت کې ماشومان چې پر ژاړي نو منډې ژر ، ژر له څنګلو څخه اوډنۍ پورتا اړوي او دوا ړه لاسونه يې اوږده يې له دوا ړو اړخو سره کيږدي او هغه د سندلي غوټه يې پر ټټر ور کيږدي د هغه پل اړخ له خوا څخه هغه څېرګه سوي سندلي پورتا راوړي او ولي يې په هغه ښايسته سوي غوټه کې راچوي بيا د هغه بل اړخ له خوا څخه د سندلي ولړا ډانډ وي او دغه ول هم

دەسندلی پەخوقە کی واچوی پەدخە دیەخلور سرەو لونە قول دەسندلی
پەخوقە کی واچوی بیانو میندی دوا یە دیبو و خوا تە خە پر شا
دخکیزی اودوایە پەورنوکی د سخو ریی واچوی پە د خەو خت کی
وایەمنم خوبەدی نو مندی خپل ماشو مان پر خنکنو کسیدی او
(تی) ورکوی دماشوم تی پە خولەکی دیمو ریی ژر، ژر (انجلونی)
را واخلی اویوە ستر گە یی ورتورە کری چی ماشوم دخپلی مور دخە
بوتی وروی نو یی مور دخپل بل تی تە ماشوم واچوی ماشوم هغەتی چی
لەشدو خهەدك ویروی موریی دغەستر گە همدر تور دی چی ماشوم
دمور پە شدو مودسی او پە خوابە خوب ویدە دی نو مندی خپل ماشوم
لەخپلو خنکنو خهپر مشکە کیدی اودایی خانگی ورتە سمە کری ی
نوچی مورخپل ماشوم پە خانگو کی یدی او لەمشکی یی ور واخلی
نولەیوە بلە خنکویی مندی پر مشکە باندی خپل لاس ونە تکوهی بیا
هغە لاسونە دماشوم پەخکر پوری دموبنی مقصد دمند و دا دی چی
ماشوم می لکە پر مشکە داسی ویدە دی او چی ما شوم پە خانگو کی
یدی نو مندی سو کە لە خان سرە ودالی زماجانە لەخدای (ج) غغە
دیغو بنتنە کوم او غوابم چی پە خوابە خوب ویدە یی او لە هری بلا
اومرخو خغەدی ساتلی غوابم نو خپل ماشو م پەخانگو کی کیدی
اودخانگو پەلرکی کی یی اویدی سنی اچولی دی نو مورهلتە ورتە
ناستە دی او دغە دخانگو نی راخکوی اماوشوم خنکوی اودخانگو
دخنکولو پەوخت کی مندی پەخپل نری او باستەیغ سرە خپل ماشوم
سرەخپل ماشوم تەداسی وائی (للو، للو موردی تر تاخارسی زماجان
للو، للو ) چی اوس بەد مندو داللو للو دمینی چك ویل بەیوە نمونە
وبدانەی کرو .

الله هو للو للو
خوب دې درسي پر ليمو

زما ژوندون ستا په خبر کي دي    زما خوبي ستا په سوو ښکي دي
ماشکو به موده جوړه کړي په لوړ تملو
الله هو للو للو زما جان للو للو
خوب دې درسي پر ليمو
ستا چې بيلا ته له نارو غي سي
زما هم درد پر ښتي شي
ستا دارو دوا د پاره ګرانه ګرزم په کو رو
الله هو للو للو زما جان للو للو
خوب دې درسي پر ليمو
خلکث خوب کوي په شپه
زما خو ستا ساتګو ده وظيفه
ستا د پاره مې ځان خلاص کړ د ځپل کور له کارو
الله هو للو للو زما جان للو للو
خوب دې درسي پر ليمو
ته ناروغ دې پيکني
ما به دوا هو تنه ي
ناروغي دي کالوه د غريب زو
الله هو للو للو زما جان للو للو
خوب دې درسي پر ليمو
ستا د پاره د هر چا بابائي د چم
د ځپلو او پردو کا روته کړم
موري ځادد پاڼو ګالو ترد پښتو
الله هو للو للو زما جان للو للو

خوب دې درسي پرېمو
چې ستا د زړو کړې کال ږو
له خوارۍ زموږ د ورېږه حال ږو
چې ته ځوان سي زموږ کاته ستا د ورېتو
اله هو للو للو زمان للو للو
خوب دې درسي پرېمو

دغه ملکان چې لوی سي که دغه ښځې چې د دوی سنه لی او نور دودونه یې پرځای کړي وي او دغه ملکان د دغو ښځو لکه خپلې مندې داسې احترام یې کوي او که هغه ښځې مړې وي او د هغو ښځو زامن یا لونې یې پاته وي نو دغه ملکان د هغو ښځو د خپلو الو د ور احترام کوي او کورونه ورځې پوښتنې باندې کوي.

## د ملکانو کېنول

ملکان چې لمړی پلامندی کېنوي او ودونه د ملکانو منه ی هغه مشرانو ښځې دخپل واده. ماشوم د کېنولو په نسبت مېلمنې کوي مېلمنې ښځې چې د جان د مور په خوښتنه ملته ورځي او له ځانو سره دسملو نه، یا څو نقدې پیسې او د جان مخ پوټی چه د جان پر لنده یې اچوي او په ډول ډول وریښو مو سره. چکن سوي وي او ځینې از دې خپلوانې ښځې لنګی خوادی او لنګی مېړي چې واده. وړي ور پسې وي د جان د کېنستلو د پاره. ور ته را ولي بیا نو د جان مور خوا غانه لا پرو خت څوك و داستو لی وی افغانې را غوښتي وي افغانیا په کوږ ته کې ناست وي او یا په مسجد کې ناست وي او کوري چې ما په شه وخت و غوا ړی د جان مور چې د ښځو ور ورډی شپان سره ډول کړې بیا نو د کلی دور غلو ښځو ته وداني چې نن خو زما د ناستی دودودی او د جان د کېښېستو د ښادۍ ورځ ده او زما د خپل جان د کېنولو د پاره. هغه افغان را غوښتنی دی چې و جان ته یې د کلی تاو یز ور کښلی ږ بیا د جان مور ور ائی چې زه به و افغانه دده تر راتلو لمړي

يو له ميوو ډك دسمال وا غاته برابر كړم او تاسو د غه دسمال د كوري
د جان مور يو ښه دسمال سره جوړ كړى او د خپل واده ماښوم له خنګه
يې كيښود بيا او وا ماسته ښځو ته ووايي چې د غه دسمال او ميوه دا غا بايده
دى كه خنګه نا ستي ښځي سره و كوري او د جان و مور ته و وايي چې
ډير ښه دسمال دى او وړه دا غادى بيا نو د جان مور اغا وغو اړى او
اغاته ووايي چې زه خو خپل جان كيښوم او ته مي د دې د كيښو لو د پاره
دا غو ښتى يې اغا ووايي چې زه به جان كيښوم خو تاسو د جان د كيښو لو
په ورځ ښه خيرات و كړى اغا د غه خبرى كوى او جان كيښوى او له خنګو
او د شاله له خوا څخه تل تكه پر كيښولي جان با ندى راو ګرزوى په دغه
وخت كى د جان مور ووايي چې زما د جان ته چا په واخ كى يو مېږ ور كړى
دى د غه مېږ د اغادى نو كه پخپله د غه د و ښځى مېږ اغا
غواړى او كه د غه ښځو ښځى بدل بل مېږ غواړى؟ اغا وو ايي چې زه د جان
د و ښځي مېږ نه غواړم ځكه چې د جان د و ښځى مېږ دى پر جان مبارك شى نو
د جان مور يو بل مېږ د آغاته راولي او اغا هغه خپل مېږ د كو رى او د
ښى غوږ څو كه څڼى پرى كړى چې د غه (درو يږ) مېږ د اغادى.

## دروېږونه

په كلي كى چې څوك لېږ يا ډير مال و نه ولرى نو هغه
دما لو څښتنان د خپلو مالو د ښى غوږ و څو كى پرې كړى نو كه بيا يو
وخت دغو خلكو يو پسه ورك شي او ډير د نور و خلكو په مالو ور ګډ شي
او څښتن يې له نور و خلكو څخه پوښتنه كوى نو هغه ور ته وايي چې
په كم غوږ د رو يږ شو يدى د و ر كي څښتن چې د خپل پسه
درو يږ و رو ښى كه د هغو خلكو و ما لو ته د د . پسه و ر غلى
وى نو هغه خلك يې ور و ښى او كه نو ژ و ر غلى
نو څښتن د خپلى ور كى پوښتنه كوى او له درويږه يې خبر وى چې يا يې
د ښى غوږ څو كه پرى ده او يا يې د كيڼ غوږ څو كه پرى ده چې ورك پسه په

بوقېر کې موندل شي نو لمړی دور کې له څښتن څخه پوښتنه کوي چې ستا
څه ډول پسه دی او څه انښې لري چې دور کې څښتن د خپل ورك انښې ښيي
بوره وواېي په دغه وخت کې نو د ده پسه هم موندل شي . مقصد له درویږ
درویږ سړی وهم وي او د پسه هم درویږ وي د سړي و درویږ داوي چې که له پوه
افغانانو څخه تاویز بوسي نو هغه سړي به تر پایه پوري له هغه ځایه څخه
تاویز وړي او دا افغانان کسان درویږیان شي نو که له افغانانو څخه
څوك پوښتنه وکړي چې افغانانو چېري تللي دي د افغانو ځواب به هغه ټېر
کې مي بوڅو وګلي د تاویز د درویږیان ژ هغو ته ورغلي وم څو ښه خوښي
ځني را غلم خدای پاك دی خیر ورکړي دا افغانانو د تاویزانو نمونه
به په لاندې ډول سره وښودل شي .

## د تاویزانو نمونه

د نظر تاویز چې په هر قبر کې یې خلك په خپلو افغانانو په ډول ډول
تو ګو بې کاږي د نظر هغه تاویزان چې وځوانانو ته یې ددې به لمړی
ځوانۍ کې ور کاږي او بایې وهغو پېغلو ته د نظر تاویزان ددوی د لمړي
پېغل توب په وخت کې ور کاږي د احکه چې دغه د لمړی ځوانی
د ښښتنا نو ته هر څوك ګوري او سترګې یې ور اوړي او ځني ښه ځوانان
چې رنګونه یې ښه وي نو که په غایبو لوی دي او یا ږدي څو چې ښه
رنګه او یا ښه کار کوونکي دي وهغو کسانو ته چې نارو غه شي د نظر
تاویزان ور کاږي د نظر تاویزان چې کاږي هغه واېي چې نمالي د نیا
نظر خوږ لي ده بله دا چې د نظر تاویزان وهغو وړو ملګانو ته او یاو
د غو نه وړو نجونو ته چې د منډو شدي روی او دغه واړه ډېر سپین وي
او د نظر تاویزان ور کاږي نو دا چې د دغو واړو ماشومانو تاویزان
خوژر ، ژر خو رندي کېږي نو یې د منډ او پلرو ته هدایت ور کړل شي چې
د ماشومانو تاویزان مو به نور د پوښو کې و ګنډی بیا یې نو په (زرو)
کې دا چوی او تاویزه په خیر بې د ماشومانو په غاړه کړی . او یا وهغو

ماشومانو ته چې لمړۍ پلا په تتکۍ ژبه خبرې کوي دا ځکه چې د نفسي ودې
ژبې ډېرې چې ښکاري او هر څوك يې نازوي نو د دې د پاره دغه د نظر
تاويزان بې سود او پلار ضروري بولي او ده هر واړه او نوي ځوان
او نوي پېغلو او وړو هلکانو د پاره خېږي .

## خوري د نظرسوي چاد پلار

هغه کسان چې نظرسوي او د تاويزانو ته ژر نه ورسېږي نو د ژر د پاره
نظرسوي د کور ښځې له خوري څخه په ډانو که سره کار اخلي چې اوس
په د خوري د کار د نظر په باره کې وښيو .

## خوري

که په کور کې څني واړه يا ځوانان يا پېغلې نظر سي نو په دغه څپه
خود تاويزه د ځای ته د کور خلك نه سي رسيدلای نو د کور ښځې ژر ، ژر
د لرګيو او ډېرو کړي نو دغه خوري په او د اسې سره او اخلي او د نظر
سوي تر ځان يې د دې پلاو ګرزوي په پای کې دغه خوري د نظر سوي په
سترګو يې وروميږي بيا نو دغه خوري په هغه ډېر اور کې واچوي نو
بو کړي وروسته چې خوري له اور څخه راوکاږي نو که دغه ځان يا چا ته
نظر کړي وي نو دغه خوري هم کټ مټ لکه ښځه داسې جوړه سوي وي
او هر څه يې د ښځو په څېر جوړ شوي وي . او که نظرسوي څوك نرو نظر
کړي وي هغه په اور کې اچول شوي خوري د نرو په څېر جوړه سي چې قول
اعضا يې لکه د نارينه داسې جوړه سي او که هيڅ نظر سوي نه وي نو له
هغې خوري څخه هم هيڅ نه جوړيږي . چې د کورو ښځو ته د خپل نظر
سوي حال ور ښکاره سي چې ښځو نظر کړي دي يا نرو نظر کړي دي بيا نو
د کور ښځې سره دوا لې چې زموږ نظر سوي ځان څو ښځو نظر کړي دي .

نو بيا هم دغه د کور ښځې دوه درو خاشواره کړي او په دغه اوريو څه
ايري کېږي کړي چې دغه ايري ښې سرې سي چې د غني سره ايرو ته
(بوډنه دی) وايي بيا هم ښځې دغه او د او ايري سره ولړي چې سرې ايري
يا ته نه سي او ډولي (بوډ نه دی) سي .

## مړدکی

د کونډې ښځې پوخه (اوړه) وچلانده کړی او په یوه لاس کی دېښځو هغه لنده کړی اوړه اوددغه بل لاس په دوو ګوتو لې اوړه رابرېږي کوی او ګړدی ګړدی کوی یې او په هغه اور کی یې اچوی چې شل یا دیرش مړدکی په اور کی واچوی بیا نو ښځې هغه پوړندی سره لیرل وروسته له دوو دروو دقیقو څخه له دغو مړدکو څخنې یې دوه ټکان وکړی چې د توپنکچې وټکې تهورتهوی چې د مړدکو له ټکټکا نو سره دغه او راو (پوړندی) سره وپاشی بیا چې دوهم وار ښځې له اوړو څخه مړدکی جوړوی نو که ښځو نظر کړی وی نو داسې وائی .

نظر دی نظری یا پریان یا پرپیری
یا دپېغلې پر پېکی یا دناوی پر لکېږی.

او که ناوینه څوك نظر کړی نو د کوروښځې چې مړدکی کوی نو داسې وائی .

نظردی نظری یا پریان یا پیری .
یادسکاڼ آس پر تندی .

نظر مات ، نظر مات چې دري پلادغه رازمړدکی وکړی نو د کور د خلکو زړو نه بې غمه سی .

## د نظر اوړه

که یو ډېر وړ نظرسوی دی او یا څوان هلکې یا نجلی نظرسوی دی نو ددې د پاره چې د نظرسوی چا خو ډېره (بیلانه) دی او دده په (بیلانه) د کورټول خلکه ناراره دی نو د کور خلکه سره وائی چې زموږ جان خو ډېر (پلټینه) دی دا هم سره و وائی چې اوړه دا داخلی او د نظرسوی جان لکه مور یا بل نږدې خپل پردغو اوړو باندی څو واره بسم الله شریف د وائی نو دغه وچ اوړه له یوه پاکه دیوا له څخه ورلی او تر شا یا وروسته نه ورته ګوري تر څو چې د نظرسوی انګړ ته ورننوزی

او د نظر سوی جان ته دغه څوک چې اوده یې له دیواله ویشتلی دی داسې ښکاره ورکوی او ورته وائي چې اوده مې له دیواله وویشتل نو که ستا نظر ژ هغه به پر ماسې خو ته نو اوس ښکاره اوسه .

## و نظر سوی ته ښڅپړی اوبه

هغه څوک چې د ګلي په ما بین کې ویله واری او څوک نظر سوی وی نو د کور خلک وو وائي چې ښڅپړی اوبه له ویلی څخه و نظر سوی جان ته راوړی ده بیا هم د نظر سوی جان له ازدې خپلوانو څخه څوک له خپله کوره څخه یا کټوری یا بدنی واخلی او وویلې ته ورسی نو په هغه ووړی کټوری کی لږ اوبه رواخلي چې له کټوری څخه په ویلې کې اوبه توئه سی او یا دوهمه پلا له ویلې څخه اوبه ورواته خلی او هغه لمړی پلا چې یې اوبه په کټوری کې وراخستې وی وهغو اوبو ته ښڅپړی وائي دغه ښڅپړی اوبه چې د نظر سوی جان ته وروړی نو د نظر سوی جان یو خپل هغه اوبه ورواخلي او تر نظر سوی جان یې درې پلاو ګرزوی بیا نو دغه اوبه پر یوه پاکه ځای باندی تو کړی نو دغه وائي چې نظر دی نظری یا پر یان یا پر پیری یا د پیغلی پر پیکی یا د تاوی پر تکنی بیا نو پر نظر سوی جان باندی د کور تر یا ښځی هغ و کړی چې ښڅپړی اوبه می درته راوړلی او تر تا مو دری پلا د ګرزولې نو اوس به ښه سی خاطر جمع اوسه . بیا د ګلي سپین ږیری د جان د بوښتني ته ورسی د نظر سوی له مور ، یا خور ، یا پلار څخه پوښتنه وکړی چې جان ته مو ښڅپړی اوبه راوړی دی چې له هغه څخه هو واوری نو دغه سپین ږیری وائي چې دغه جان خوالی کړی نو د نظر سوی جان مور یا خور یو ښه لوی دیګه پراور باندی کړی او دغه دیګه له اوبو څخه نیمائي کړی چې اوبه ویشی لو یو دوه موټه شمشوبی و دغه اوبو ته ورواچوی چې شمشوبی ښه په اوبو کی جوش سی نو دغه دیګه د جان د پښو له خوا یې تر تلتګه

ور لاندې کړې يو څه د دغه اشېدلي د يګڅ وږم سي يو څه د جان ښېښې
تودې سي نو وائي چې خوله سو .

## خوړه

خوړې خوړول ړول دي چې يو خو هغه خوړې دي چې د کلي
د تاويزانو په بدل کې يې د آغاګانو او ملايانو ته ورکوي او څني هغه
خوړې دي چې د آغاګانو ته په خوړو کې لنګې غواوې ورکوي يا تو پکو نه
او داو پنډان او داسې نور د لوړې لوړې ښځې شيان د اغاګانو او
ملايانو ته ورکوي او د څنو خلکو چې مځکې ډېرې وي نو د خپلو مځکو
له جملې څخه يو څه مځکه د اغايا ملاصاحبانو پر نامه کړي نو د هغه د
داغاګانو مځکې چې بزګران کري نو له هغو مځکو څخه چې بزګرانو
کرلي دي د بزګر ته غنم و بزګر ته ورکوي د امځکه چې د اغاګانو د
مځکو و بزګرانو ته بادارانو وائي چې تاسو خو به هم د غو يو سره نه
په خاورکې نه وي پټې کړي خو پلار او نيکه يمو د راو دل نو په هغو
مړو پسې به خيرات کول غواړي هغه خيرات مو دادي چې د اغا مځکې
بيله بزګرې ورو کړه داچې موږ مځکې ور کړې دي نو تاسو هم د
خپلو بزګريو حق الزحمې تېر سي بزګر له ځان سره و وائي که زه
بزګري نه ورکوم خو زما بادار بياو ما ته د خپلې مځکې بزګري نه
ورکوي بلکه له بزګرۍ څخه مې باسي . نو وائي چې زه د اغا د مځکې
بزګري نه غواړم بزګر و بادار ته دا هم وائي چې وروسته له دې به
زما وزامنو ته هم اغا د کلي او نور تاويزان کاږي او ته به هم د اغا
ته و وائي بزګر دا هم وائي چې زه خو نو د و خوړه نه لرم خو يوازې
هغه د اغا د مځکې بزګري به کوم هغه زما حق دې دې په خوړه کې
مجرا کوي نو بزګر د هغه د بادار مځکې او د اغا مځکې کري او د بادار
له مځکې څخه اسمه حصه بزګري وړي چې په دغه اسمه حصه د خپلو کورو

انتیا وي هم پوره کوي او دخپل کور دپوښ انتیاوې هم پوره کوي او ځنې خلک چې لښکې څواوې په خوندو کې ور کوي نو واغاته ورسي او ور ته و وائي اغاچا ته زما یوه چیره ښه غوا ده او دغه غوا ما ستا پر نامه کېښې ده اوس نو واک ستا دي چې زه به هغې غوا څه وکړم که ته و وائي چې له سو خوندره سره یې راوله نو زه به یې در ته راولم او که و وائي چې خرڅه یې کړه نو زه به یې فوراً در ته خرڅه کړمه او بیه به یې در ته راوړم اغا و وائي چې دغه وماته مو را بخښلې غوا خو لښکه ده نو که یې زه له تاسو څخه راوړم دا به ښه کار نه وي دغه غوا تاسو لوسی او شیدې مستې او غوړي یې ستاسو دي دغې غوا نسل که هر څو کاله و وروسته له دې زما دي چې خرڅ یې نه کړې اغاچې د دروز غوا یا میږه یا وزه پر خپل نامه د دروز یا نو په کورو کې یو یاد وه کاله پریږدي نو هغه کال لنګېږي او ډېر پېږي بیا چې اغا د خپل درو ږ خرڅ اجازه ور کړي نو د ده پر نامه پسونه خرڅ سي.

او اغاته یې نقدي پیسې وروړي چې دا غادغه درو ږه هیر سوي یې او درو ږي یې بیه ترمخ ور ته کیدي اغا له یوې خوا ډېر خوښ سي له بلې خوا داو وائي چې زما دغه درو ږیان څو نه صادقان دي چې زما پیغې دغه درو ږه هیر ؤ او ده دو نه لوقو نه پر کور دا ته راوړل.

## نجوني په خوړو کې

ځنې خلک چې یا د اغا کانو درو ږیان دي او یا ځنې غریب بزگران چې په کلو کلو یې د باداړ و مځکې په بزگرۍ سره کرلې وي نو دغه خلک د اغا او د مځکې څښتنان نو د خوښېدلو دپاره د خپلو ودو لو زو د هو کې دسمال دهغوی په دروازو ځوړندوي او هغوی دخپلو لو زود هو کې په دسمالو خوښوي چې اوس به لمړی د اغاد کور د خوړي د هو کې دودو ښودل سي او بیا به د بزگر او باداړ د خوړي د هو کې دود وښودل سي.

## اغا او دروېزیان یا مریدانې

چې اغا او بوچاته په کلو کلو تاویزان ورکښلي وي او دروېزیان
بې هم دمر تاویزه په مقابل کې نقدې پیسې او ژوندۍ مالونه
ورکړي وي دروېزي بې ددې دپاره چې ددوی دغه دروېزي او اغا ګلوی
بې تر ډېر وخته پورې دوام وکړي نو دروېزي د خپلې ښځې ته وواېي
چې زه غواړم چې د اغا په کور کې ځان واچوم نو ځما لوپه داده چې که ستا
خوښه دې نو زه به د خپلې ګرانې لور (ګل ګیډۍ) د هوکې دسمال به
د اغا دزوی پر نامه ددوی د کورته ورووړم نو خو به داوي چې دا به ښه
مېړه دی بله دا چې نور قول د قبر خلک به د اغا په سترګه ورته ګوري
او دریمه خبره دا ده چې ددغې لور په نسبت به زموږ د غریبې
کور هم ښه او خلک به هم په ښه سترګه راته ګوري دد دروېزي ښځه
چې د خپل مېړه دغه خبرې واوري بیا نو له خپلې پلار کنې ځخه یا خپله
خور یا مور یا تورې ته راد غواړي نو لمړی د هغوی ته د
وژاړي او بیا خپله ژړا کې ووایي چې د نیستۍ
دی زوی د مرې پرې چې موږ نیستمن یو او زموږ د
د ګرانو خپلو لونو د هوکې دسمالونه وماړو خلکو ته پر کورو،
باندې په خپله ورووړ ودبزګر ښځه په دا هین ژړا کې د خپل نیم کړي
ژوند پر شپو او ورځو باندې داسې بدله وایي.

یوه دې بې را باندې وکړه.
بل په اور مې ګډه دې په وراد ی ځمه.

دغه ښځه دا بدله ددې دپاره وایي چې بو خودخوار سړي وړې
لور دسمال چوړېږي بله دا چې د هوکې دسمال بې بیله غوښتني د بډای
د کورته په خپله ورووړل کیږي دبزګر ښځه او بس د کاږي بله چاره بې
نه وي نو د خپل وړې او غریبې او ګرانې لور د هوکې د دسمال
په جوړ ولو داسې پیل وکړي.

## د هلکانو د پل اخستلو دود

د هلکانو د پل اخستلو په وختو کې ډول ډول دودونه خلک پر ځای کوي چې ځنې ماڼه او شته من کورونه د خپلو زامنو پر پل اخستلو باندې د غوړو خیراتونه کوي او ځنې کورونه چې تر هغه لوی بیای لږ (کې) وي نو هغه پر خپلو زامنو مږ یا وزه حلالوي او دغه حلال کړې پسه په یوه لویه کټو کې واچوي چې د مازیګر د خوا ته دغه پسه په کټو کې پوخ شي نو دغه کورنۍ دې خپلوان د مرستې د پاره ورسي او د کټوې غوښې د کوډي او ډوغ وکړي چې غوښې خوړلې دي نو د غوښو نښو ته راواخلي او یو لوی تال یې ورته ایښې وي په هغه لوی تال کې ټولې غوښې له هغې لوې کټوې ځنې راواکاږي په کټو کې ډېره ښوروا جوړه کړي او هغه لویه کټو پر اور باندې وي دوی هغه پخې غوښې سره وړې وړې برخې کړي نو په کلي کې که نارینه یا ښځې نار دغه وي نو هغه د تال غوښې بېلې او له هغو نورو غوښو ځنې د نارو غانو او سپین ږږو او سپین سرو برخې وړولیږي د کلي نور کورونه خبر کړي چې وړې وړې کټوې راوړي او ښوروا یوسي چې د کلي د ټولو کورونه ښوروا سره د رو ویشي بیا نو په دغه وخت کې چې د ماښام اذانګه کیږي نو د خیرات سړي خپل د غوښو تال و مسجد ته ور وړي او د ملا صاحب له څنګه سره یې کیږدي چې ټول خلک نمونځونه وکړي نو د کلي یو سپین ږیری سړی ډغ وکړي او ووایي ملا صاحب د خیرات و خښتن ته دوعا وکړي ملا صاحب دعا وکړي وروسته له دعا ځنې دو ځوانانو هغه د غوښو تال ورته ایولي دي او د خیرات خښتن دغه برخې د هر سړي په اندازه و تاستو خلکو ته ورویشي نو دی غوښې چې په هغه تال کې پاته سي نو دغه د خیرات خښتن له مسجد ځنې د باندې تال د او باسي په دغه وخت پر دغه ځای باندې د کلي ځنې د پوزلو کور وهلکان

ولاړ دي او د خيرات د څښتن لار څاري او هغه سړي يې په سترګه کې وي د خيرات څښتن چې د غه ملکان ووينې نو د يوې برخې پر ځای دوې دوې برخې ور کوي د يوه ملک چې غوښې لږ سي نو د خيرات څښتن هغه تش تال ور کړي چې زموږ د کور ته يې يوسه او کور ور ته ووايه چې نورې غوښې در کړي د غه بيوزله ملک چې تال ور وړي نو د ته وو ايي چې جان کاکا ويل چې يوه اومه يا پخه غوښه بدر کړی د کور ښځې چې د بيوزله ملک ته د کوري نوږ تر ژره يوه اومه يا پخه غوښه د دغه ملک ته ور کړي او د غه ډول ملکان خوښ شي .

## د هو کې دد سمال جوړ يدل

د هو کې دسما لو نه چه له لو يو کورو څخه جوړ يږي نو په ډ ير خيال يې جوړ وي او د غريبې کور نې د هو کې دسملو نه هم د غريبې په تو که جوړيږي چې اوس به د هو کې د دسمال ه پر جوړ و لو چې څه شيا ن څو ړ ندوي هغه به د ښو دل شي غنم ؛ او ړ بشي يو چې ګوچي مل غلوري ، مالګه او يوه لويه د سپينو زرو کو به ، او لو ښکه او د د سمال په څلو ر و کو نجو پوري ښه جوړ شوی د ټي او بو د (پنځوسو) افغا نيو نوټ هم په دسمال ه پورې وتړې نو د غه دسمال د نجلی مور د نجلی د پلار ته په جيب کې ور واچوي نجلی پلار هغه جوړ کړی دسمال ور وړ ندی او د اغا يا د ملاصاحب يا د مځکې د څښتن په و ر ه يې څو ړ ند کړي د د سمال د څو ړ ند يدلو په وخت کې له ځان سره ووا يي چې زما د غه ښه لور ځا نه خود دي کو ر ( بايده ) در لو دل نو ځکه يا د د غې ښې لو ري د هو کې دسما ل د اغا په وره د اغا د زوی چې ځان نوم لري ور ته راوړ يدی او په وره مې ور څو ړ ند کې . چې د لور پلار د خپلې کو چنۍ لور د هو کې دسمال په هغه وره ور څو ړ ند کړي چې د اغا يا ملاصاحب ته ووا يي چې ما خپله

## د گلی تاو یز

(جانه) لور ستا (وجان) زوی ته په خوښه کی ورکړېده . هغوی ووائی چی دا نجلی لو یه سی نو موږ به هم مرسته ورسره وکړو او داوس چی دالا وړه ده نو یوازی ددې پوښ به ور کوم.

خو اوس بزگر چی کورته راسی نو ښځه یې پوښتنه وکړی چی خیښانو یو څه پیسی درنه کړلی دی ووائی چی دغه لور چی زموږ لویه سی نو بیا به پیسی را کوی.

دغه ور کړلې سوې نجلی د پلار په کور کی تر منت لاندی وی چی هرڅوك ورته وائی چی ته خو بیکاره وی نو څکه زموږ پلار ته په خوښه کی ور کړلی . بیا چی لوسی نو ددی میړه هم په ښه سترگه نه ورته گوری ورته وائی چی ته بیکاره وی چه په خوښه کی یې یې را کړلې.



# کبي

پښتانه د لاسي صنایعو په لړ کې د خپلو کورو او غرځو لو د پاره ښه ښه قفرونه، کمبلې او د خپلو کورو د خورجینونو او (کوکو) (۱) د وېښو لو د پاره ښه گلیمونه جوړ وي چې د دغو گلیمو او قفرانو، کمبلو، او خورجینانو جوړول په ډېرو ځایو کې رواج لري چې د غه قفرونه او گلمونه او کمبلې او خورجینان ځني کورونه لږ (او ځي) چې د خپلو کورو یې بس کېږي او ځني کورونه یې د اود او مواد ډېر لري د خپلو کورو د پاره قفرونه او گلمونه او کمبلې او خورجینان و (او ځي) نور ډېر یې خرڅوي او د خپلو کورو نېمگړتیاوې په پوره کوي چې اوس به د قفرانو، او کمبلو گلیمو او خورجینانو او بیا یو چې قول له ډېر یو څخه او د ل کېږي قول مواد او د کنو جاړول او رنگول یې او ده څرخې دور پشلو او له ډېر یو څخه د لیځیو جوړول په وښو دل سي

## لیځې :

هغه ور گونه چې سړي یې له موږ انو د سکولی او میرمنې هغه ور گونه په و پله کې په او بو کې کښېږدي چې د ډېره یې ښې خښتې سي او د موږ انو خو لی له ور گو څخه ووزي نو میرمنې څو تاندې لښتې پرې کړي او د کلي څو ښځې نوري هم داشر په تو گه سره راغواړي کړي نو بوه خو نه چې هلته قفرونه پرغولي نه دي د بیري نو پر دغه خالي غولي باندې میرمنې ښې ډېري ډېرې شگې واچوي او شگې چې ښې وچې دي بیا نو هغه منځل شوي ډېره یو ور گې پر هغو شگو باندې وبیري کړي چې ډېره هم ښې وچې وي نو بیا په هغو تاندو لښتو په دو دو ښځو په داوړه ټکوي چې یوه

---

(۱) کوکو: په خونو کې لوړ ځای دی د خونو د ی ر ه په اندازه جوړ کړی گلیم پسرو بسې کښې ی او پسر گلم پسا نسدې کو ر و نه ږ د ی.

پیچه له یوي خوااو بله پیچه له بلی خواسره ناستی وی او ددو ی یه
دواڵ لاسو کی دمری یوي لبنتی وی چی یوه پیچه دخپل یوه لاس لبنته
ووڵ یو ته ورواچوی نو هغه لبنته یه وڵ یو کی راوشکوی چی وڵ ی یه
وڵ ی یه لبنته بوری وته نبلی چی دغه پیچه خپله لبنته له وڵ یو شخه
کا ڵ ی دمخا مخ د پیچی د لبنتی و ارسی هغه یي یه زور ووڵ یو ته
ورو اچوی چی د پیچو دغه یو یو لاس وچ سی بیا نو
دهغه بل لاس یه لتبنو وڵ ی ووهی ترخو چی دڅ یرو لبنتو چی وڵ ی یه ووهی
نو دوڵ یو ڠکو لی سوی وڵ ی وسرته راسی چی هغه ڠکولي سوی وڵ یو
ته پیچی دکل وڵ ی وا لی نودغه دلمری کل وڵ ی پیچی دلاس یه هغه لبنته
چی وڵ ی یه ڠکوی بیلی زدی بیا هغه باتی وڵ ي یه لبنتو ووهی له دو هم
یوڵ ووڵ یو شخه بیا هم هغه کل کل وڵ ي چی بنی ڠکیدلی هم وی بیلی
کړی بیا هغه باتی وڵ ی چی وڠکوی لههغو چی نوری وڵ ي باتی سی هغه
چه وڠکوی لههغو چی نوری وڵ ي باتی سی هغه باتی سوی وڵ ی چی دڠکیدلو نه
وی هغه وڵ ی یه پیچی (پښو یني بو لی دغه پښو یني (١) نهڠکیږی نو دغه
پښو ن يي پیچی بیلی ڵ دی یه دغه وڵ ه چی پیچی ڠولی وڵ ی وڠکوی او دهغو
پښو یني یی یر یوه ځای سره ڵ دی او کل کل وڵ ي پر هغه دڠکیدلو یر ځای
سره راوا ڵ وی نو دغه میرمنی د کلی یوه سپین سری او یوه پیچه راو لی
نو یو لنډی مېزوی هم مونده کړی نو د کور پیچه ولاڵ ه وی او دغه
سپین سری پیچه هغه مزوی ورواخلی او یه خپله دڠکیدلو وڵ یو له ځنګه
سره کښیږی او دمړ ی یوسر یه ڠکیدلو وڵ یو کی و یيچی سپین سری پیچه
لکه دسړی مړ وند دغو نه دغو نه هغه ڠکیدلی وڵ ي ورایله کوی او هغه
دیا ندی پیچه هغه مزوی یيچی او یرشا ځی ترخو چی دغه یو یادوه ورکه
وڵ ي تمامی سی بیا نو سپین سری پیچه ولاڵ ه سی او یيچلی وڵ ی یر یوه
یوه وازه یی اچوی او هغه دیاندی پیچه وروورو ورته رانزدی کیږ ی

(١) پښو ن یی هغه وڵ او دزغو ته والی چی نهڠکیږی او یږ ی و و لی

د دغې سپین سرې ښځې له پېچلو وړیو ډکې وي نو هغه د باندې ښځه ورته راسي او سپین سرې له ځنګلو څخه هغه پېچلي وړیه سره کښېږي کاږي او د دغو پېچلو وړیو پلو پړدا نو ر و ښه کلکې و پېچي نو هغه بې کښېږدي په دغه وړه هغه نوري وړۍ هم د ګکوي او د هغو ښو ښې هم پېلې کړي او ګکېدلي وړۍ لخې کړي او ښو نيسې پېلې له هغو او دو ښو نو سره ږدي بيا نو دا ښځه د ګکېدلو وړیو میرمن د غوا ړي چې دغه خپلې وړۍ و و ريښي نو لمړی پوه لو ښت ښه پښه ارګی موندہ کړي له هغو جوړي سوو ليځيو څخه يو څه وړۍ د رواخلي نو دي پر خپلو ليځيو پېچي د پېچلو وړیو يو سر دغه ښځه په خپل موټه کې و نيسي او هغه سر يې ترپلاس کړي ښکړي و کاږي بيا نو دغه ښځه ګوري که يو ښه اوچته هلکه موندہ کړي نو دغه ښځه د هغه هلك پر تلو باندي شروع کوي دا ځکه چې ښځې وائي چې د څرخي شروع کېدل بايد که د ښه او چته هلك پر تلو باندي شروع سي نو هغه څرخي به هم ژر تمام او پای ته ورسيږي او که دغې ښځې په خپل د څرخي په ور پښلو کې بې ځنډه وسي نو دغه ښځه تل و دغه هلکه ته وائي چې ته خو ډېر سوست وی چې زما څرخي و ځنډيدو په دغه وخت کې د کلي ځني ښځې دالته ناستې وي هغوی و وائي چې مو ږ د هغه جان د زوی پر مخ يا تلو باندي په خپلو څرخو پېل کړي ؤ په دوې مياشتې کې مو له څرخو څخه ځان خلاص کړ .

## د څرخي ور تل

دغه ښځه هغه پوه لو ښت پنډ ارګی چې ښځې بې (څرخلکی) بولي ورواخلي بيا يو بل کوچنی ارګی چې هغه کوچنی ارګی (غورځنډوکي) بولي دغه دغورځنډوکي په نامه ارګی دا ورلګيت د دانی په اندازه سره پوره وي او دا ورلګيت د دانې څخه يو څه اوږد وي نو چې ښځې له هغو

بر لیخو پېچلو وېدېو څخه څرخي (پوري) کېږي نو هغه (څرخلکی)
څرخوی او دموږه وېدیږه ازاز وراېږه کوی او لاندی څرخلکی څرخي
ښځه چې له پاسه وېدیږه د (ورتو) په اندازه سره ورابله کوی هغه تاو
اخلی او (ورتلی) کېږي . چې د څرخي (ورتلو) ښځې دخپلو کورو له
کارو او له پخولو څخه خلاص سي نو دخپل انګړ بڼه لوېږه زینه با ندی
کښېني نو څرخلکی وڅرخوی او له پاسه ژر ، ژر وېدیږه ورابله کوی
نو داچې دغه ښځه خولېده ناسته وی د (سنیو) واقن یې هم او ږدوی او
بله داچې دژمې اوږدي شپې سی نو د کور واړه یا نکلو ته سره کوی
یا نوری دناستو بازیو لکه کسی یا اکو بکو داسی نوری بازی کوی
او ددوی مور څرخي ورېسی نو څوچې واړه قول وېده سی بیا و ر و سته
له هغه یې مور هم وېده سی دغسی چه کی او او چته ښځې په دوې میاشتی
کی یو څرخي له ورتو څخه ځ کوی هغه څرخي اچوی بیا بل څرخي پوري
کوی چې یوه ښځه خپل څرخي ورېسی او له کلی څخه چې بله ښځه ورسی نو
د څـــر خــــی د ور یسـلــو ښځـــی تــه و و ا یـــې چــی
ځیر ښه نری ورته دی کېږي دی آفرین بر داسی ورتو او آفرین یې
بر داسی میرمن کېږي د کلی ښځه داهم وو ایې چې دغه ستا ورتلی (ورته)
خو وېدیږه (ګو ګو) د ګلیم دی داڅکه چې ستا ورته ښه نری او وېدیږه دی هم
ښې هنځلې دې څکه ستا ورته په قول کلی کی ښه دی دغه د کلی ښځه داهم
د څرخي له میرمنی څخه پوښتنه وکړي چې ته خپل کور دباره څه او یې
او کڼي په په کڼو سره چارڅو .

## کړیی

د څرخي میرمنی چې خپلی وېده وو ریسی بیا نو خپل قول څرخي سره
قول کړی نو دیوه څرخي دسنی یوسر په خپل یوه لاس کی و نیسی نو یو بو
وازه سنی بر لاس را الدوی او کښته یې ایله کوی چې درې څرخي په دغه

دغه سنی پر خپل لاس باندی راواخلی او چی لاس یې له سنیو څخه ټک سی نو ښځی وو ائی چی دغه نو بوه (کړ یې) سو له بیا نو دغې لمړی سنی سر ښکاره . په بله سنی پوری وتړی بیا هر وخت چی دغه کړ یې د (کڼی) دا ورد او په وخت کی سره غوړ وی نو دغې لمړی سنی سرمونده کړی نو نوری سنی له ترانه اوړی دغه کړی ښه خلاصېږی او ځنی میرمنی دغې لمړی سنی په سر پوری یو کوچنی ارګی وتړی چی دغه سنی ښکاره وی او بیا میرمن په هغه وخت کی چی بیا هم کړ یې رنګوی نو هغه ارګی د سنی سر ورته ښیی که د کړ یې بوه دمابین سنی بوپه وخوری او پریږدی نو میرمین چی خپلی کړ یې وګوری چی بوه دمابین سنی یې (بوبوډ) خوړ لی وی نو د ښځه میږه له د باندی څخه راسی نو داو خپل میږه ته وو ائی چی ما خو په ډیر اوږدو پوری ډیری خواری اوزحمت یستلی دی اوس اوس نو ته هم زما او زحمت ته وګوره او زما دغه ټولی کړ یی را ورنګوه بیا چی موږه پیسی مونده کړ لی نو په هغه وخت کی به دخپلو ورتو د کڼی فکرونه کووا اوس چی ډیری پیښی نه لرو نو یوازی به دخپلو کړ یو د رنګولو غم وخوری د کلی ښځی یې ورو دغې ښځې ته ووائی چی دغه کړ یی دی به خپل میږه ورانګولې بیا یی د نوورو مصرف چـــاره کوه او که ټول مصرف په یوه بلا دمیږه په غاړه کی واچوی مصرف ډیر و د ته ښکاری په دغه ډول مصرف به د ترته پر اته (۱) سی درو به یی هم نه رنګوی دغسی هم په سوکه سوکه دغه دورتو مصرف له خپله میږه څخه بیلاوډ ښځی ټولی دغه وېل سره خوښه کړی بیا نو د کړ یو د رنګولو په کوښښ کی سی .

## د کړ یو رنګول

د کړ یو دورتو رنګول په دوه ډوله دی چی یو ډول یې د (اورمو) رنګول دی او بل ډول یې هغی امه رنګونه دی چی د (اورمو) رنګول په وپښو دل

(۱) نغه پرته به واوری.

سی لورم یوډول (بوقی) دی چی وړې وړې د تخم دانې لري دغه لورم
په کندهار کی دانګور د جوړو په مابین کی د کندهار خلک کري
دا ځکه چی لورم واړه واړه شنه او سره ګلان کوی نو ځکه یې د کندهار
خلک خوښوی او ددوی تخم پیدا کوی او د جوړو په مابین کی یې
کری لورم په پسرلی کرل کیږی او په منی پخیږی او د ګلانو په ځای یو
کی یې د تخم دانې پیدا سی چی دغه دانې هر څوك سره وړې او په هغه
مړه ځکه کی یې کری لورم چی د جوړو په مابین په مړو ځکو کی کرل
سوی وي نو لورم په دغه مړه ځکه کی شا و خوا ډیری ریښی واچوی چی
دغه مړه ځکه ټوله د لورمو له ریښو څخه ډکه وي او د لورم ځنې
ښاخونه لوړ هم تللی وي د لورمو ریښې چی په ځکه کی تللې وي هغه
ریښې یې تازه پاتې وي نو ځنې خلک چی و کندهار ته د جوړو د کارولو
او غریبی د پاره ولاړ سی نو دغو خلکو یو شی چی ډیر ضروري بولی
هغه د لورمو ریښې دي دغه کار کوونکی چی دانګور و باغونه ته ورځی
نو د لورمو ریښی بیلی بیدی دوی د څو ورځو د مزد ورکړه په وخت کی
د خپلی اړتیا لورم پوره کړی نو دغه سره ټول کړی لورم چی و خپلو
کورونه ور وړی په ورو ورو لو سو لورمو د کور میرمنی ډیری خوښی سی.

## د لورمو رنګونه

هغه لورم چی ژیړ ګل کوی د هغو لورمو د ریښو رنګونه هم ژیړ وي
د هغو لورمو چی د ګلانو رنګونه یې سره وي نو د ریښو رنګونه یې هم
سره وي او د هغو لورمو چی د ګلانو رنګونه یې تور وي نو د هغو لورمو
د ریښو رنګونه هم تور وي د کورو میرمنی د تور رنګ ریښی بیلې کړی
او د سره رنګ ریښی بیلې او د ژیړ رنګ ریښې بیلې کړی بیا نو
یوه لویه کټو چی یوازی د کړی یو ورنګولو ته
جوړه سوی وي او د هر چا چی دغه کټو

په کار شي نو بیا وړی اوخپلې کړې پکې رنګوی د کړیو میرمنې
چې دغه کټو براوږ کښیږدي او بیا وروا چوی بیانو د سرو لور
موړ ښې وکټوی ته وروا چوی چې اوبه په کټو کې وا پشیو لوته نژدې
شي نو میرمنې د کټوی اور سو که کړي چې دغه د کټوی اوبه ښه ایشوی
او نه بیا سړه دی تر څو چې دلورمو دریښو رنګه ښه ووزي بیا نو
کټو له اوره څخه په دوو ښځو را کښته کړي نو لږ وخت ورته وګوري
نو په یوه لرګي کړي له کټوی څخه را پورته کړي ښځې چې
د خپلې کړې سوررنګه وویني نو سره و خاندي او ډېرې خوښې شي.
ټول غرونه یې ښایسته کړل          له نزدی څخه یې بوی نور

ګل دی دغاټول

غاټول ویلی سندلی          په شپه او په ورځ ولی یې خندلی
ماران دی په بوی مست شول          بلبلان کړی پر ما راټول

ګل دی دغاټول

غاټول ویل رپدیه          ګل دی غټ پر ملا تریه
بوراګان دی ټول زخمی کړل          یې د سکانی اسپی سپور

ګل دی دغاټول

بیا غاټول ویل ریدی ته          ولی ګرځی په مزغی ته
زاځه چې سره یو شو          نو په جوړه کړو کلی کور

ګل دی دغاټول

غاټول وېلي سپانځي    زه درځمه خپه ته راته خاندي
په سپين دي ګلونه    سپېلنی دی دی لا نسور
ګل دی د غاټول

غاټول وېل سپين سکيه    ته يې اوږد ګل دی کوچنيه
په بوټو کې شين کېږی    مرغی دی کته کوږ
ګل دی د غاټول

غاټول وېل ګلا به    قوم دی تللی پر هېواده
ته په رنګ ډېر ښایسته یې    ستا په یاد بلبل جوړ کړی بدی کچکول
ګل دی د غاټول

غاټول وېل ګلا به    ته اوبو ته یې ولاړه تر ما یې زیاته
که یو وخت اوبه نه وی    رېږ به وکړی لور په لور
ګل دی د غاټول

غاټول وېل بادامه    ګل دی سپین ډېر بې حسابه
عمر دی ډېر لږ دی    پر ګل دی پاڼی زور
ګل دی د غاټول

غاټول وېلې ګله د انار    په ښکاری ته د نجونو ای دلدار
په ونو کی ته ټال خوری    ستا بل کېږی لور پر لور
ګل دی د غاټول

غاټول وېل کشکه    ستا په ګل می زړه را ښه کړه
په ورځ یې غوړېدلی    سهار پر هره کړی کی سپور
ګل دی د غاټول

غاټول وېل بټونی    ګل دی نسته یې غوټی
غوټی دی درې څلور دی    بوی دی پسر موږ زور
ګل دی د غاټول

غاټول وېل پېروتکی    مه شرمیږه زما خور کړی
زما له خوا دی پلو وڼیو    خیال دی نور
ګل دی د غاټول

غاټول ووېل ګلابه ستا غوټۍ کاږه مزغۍ لري
په پای کې ډېر ازغي لري څوک چې د نږدې شي د ازغو باندې شور
ګل دی د غاټول

غاټول ووېل مخې په ګلانو ښایستی
موږ مېلمانه که ږې نو به درسره دری څخور
ګل دی د غاټول

غاټول ووېل ګلابه زما مینه تر تا زیاته
سهار پر آس داسپور شه زه به ګلان کړم غاټول د اغاټول
ګل دی د غاټول

چې دغه شعر خلاص شي بیا نو دغه هلك وهغه بل هلك ته ووایي چې وروره ستا خو ددرو ژبو بدله زده ده او راته ووایه بیا نو دغه هلك هغه ددرو ژبو بدله په داتوګه وایي چې اوس به یې د نمونې په توګه وښودله شي

په پښتو ورته وایي مېږه — په دري وایي ګوسفند
په اردو وایي د مېږی — ښاهو نمره ګړی
په پښتو ورته وایي وزه — په دري ورته وایي بز
په اردو وایي بکري — ښاهو نمره ګړی
په پښتو ورته وایي آس — په دري ورته وایي اسپ
په اردو وایي ګوهړی — ښاهو نمره ګړی
په پښتو ورته وایي اوښ — په دري ورته وایي اشتر
په اردو وایي اونټري — ښاهو نمره ګړی
په پښتو وایي هوسۍ — په دري ورته وایي آهو
په اردو وایي ببړی — ښاهو نمره ګړی
په پښتو وایي ساړه — په دري ورته وایي یخ
په اردو وایي ټنډري — ښاهو نمره ګړی
په پښتو وایي سترګی — په دري ورته وایي چشم
په اردو وایي انکري — ښاهو نمره ګړی
په پښتو وایي هګۍ — په دري ورته وایي تخم
په اردو وایي انډري — ښاهو نمره ګړی

چې دغه ټول ددرو ژبو بدله چې وناست سړین ډېری خلك بانده ی خاندي پای تې ورسېږي نو هغه سره ناست ډېر وو ځوانان رخصت سره واخلي او د خپلو کورونه ا و ډېر و تهولاړ شي دوی دا هم سره ووایي تر بلې مېلې پورې د خدای په امان په مخه مو ښه سره ووایي

# دکوژدې په باره کښې

کوژده: یوه ښځه چې کوژده شي نو هغه به ضرور په خپل کاله کې میړه
کوي که یې په هغه کاله کې دمیړه والي څوك نه وي نو بیا به بل هغه
کهول چه ددغه کوژدې دکاله په میراث ور کړه وي میړه به یې کوي
دنده په کاله کې او اختیار د کوژدې دی که زوړ سړی کوي او یا ځوان
دا ځکه هغه کوژده ښځه گوري، چه ښه ځوان وي ددې په زړه پوری ده وي پر
هغه هلك ټاره و کړي هغه هلك چه دغه کوژده و کړي د نو دغې کوژدې کا
له کیلې په هلك له یوې خوا پسې شي دهغه اصلي مړه میړه د کور والا سترگې
لا پټلي پسې کړي وي او په ښه ستر گه نه ور ته گوري ددغه کاله نور تر دغه
هلك مشران د هلك ته خوشکیږي (۱) چې هغوی داسې وایي چې ـ ی دا خـو
لو ښځه وه زموږ پر غاښ او عمر برابره ده نو دغه هلك ولي و کړ لـه
اوس نو ښایي چې ددغې کوژدې و پاتې خلکو ته یې ږودي ور کـړي
که هلك ږ وږي نه ور کوي نو موږ دمړه د پاتې کسانو ملگري
یو چې له دغه هلك څخه د کوژدې پور واخلو چې بیا بل څوك داسې
و نه کړي چې دی کوچنی هلك او د لو یانو حق تر پښو لاندې کـړي
او کوژده و کړي دغه هلك خو به زموږ هر یوه ته ننگه کساؤد اوس
چه دغه هلك شرم له و کړ او پر خپل سر یې دغه کوژده و کړ له و دغه
هلك ته زموږ دټول کلي دسړ و خو ځکې دی دمړه د کور وا لـو
سترگې پسې کږي دي په دغه صورت به دغه هلك هم دښادې پر ټر ی
نه خیږي یعنی د ښادي او خوښۍ ورځې به نه وینې هلك له ځان سره
فکر و کړي چې دامې څه و کړل له یوې خوا څخه دټول کلي په سترگو کې
از ځي سوم له بلې خوا دمړه د کور والو به تر مر که پوری ښه نه ایسم که مې اولا
دوشي نو د هغوی ته بلا هم څوك په ښه ستر گه نه گوري او ما ما او ښکه به هیڅ

---

(۱) خوشکیدل. اصلا یې په زړه کې خواشني نه والی.

نه لری دبلی خوا مخه همیشه پرما باندیڤولی‌او غوڤی‌جـوێ یژی چه‌تا كو ئێ‌ه كێ یده هلك داهم‌ووائی چی زما بردقی كـو ئێ‌ی باندی دوته پیـی مصرف شولی لكه دیوی پیغلی و لور كه مى به لو مێ ى وخت كى له‌دقی كو ئێ‌ی مخه لاس اخستی وای نو اوس بـه‌زه‌ولی چا ته بد تر نظر ور تلم اوولی به‌مـی خپلـو پیسو دكڼو ستر كو خوا ئێ‌ه اخیستل كه‌می لو مێ ی ویلی وای چی زه پیغله كوم دپیغلی هردود لكه یو واده دونه قدر لری مثلا دهو كی داوێ‌ل بیل خوند لری اودزوم ښكاره كول دحو سر په كور كی دژوند یو خوێ‌او په زێ‌ه پوری وخت دی هلكك داهم وواثی چه و رحم كه دمێ‌ه د كور دالو خوښه وه لوزه په‌دغه كو ئێ‌ه ور ایله كێ م دوی بـه له خپلو مانو سره فكرو كێ ی گوندی‌زما خرڅی شوی پیـی‌دا كـێ ی بله داچی‌د هغوی ستر گی به‌نوی داپـی كیڼی هلك دغه‌د ایله كو لو خبره و ځینو خپلوانو ته وكێ ی هغوی دهلك ته ووائی چی په‌دغـه باره كی له‌هغه ځینو سپین یێ‌یر وسره خبری‌وكێ ه نوهغه به‌لاښـه‌لار درو ښئی داځكه چی‌و هغوی ته له هره مایه مخه خلك ر احـی او خبری ځینی زده كوی ومویێ ته‌چی دغه سپین ږیری نږدی دی‌نـوته ولی نه ورځی اوپو ښتنه ولی نه‌ځینی كوی هلك په هغه كێ ی‌سپیـن یێ یرو سره ورز هی شی هغو خلكو دغه هلك ددغی كو ئێ‌ی دكێ ن ڤولی خبری وكێ ی مشران وو ائی‌چه هلكه دادی ښه وكێ ل‌چی‌دمویێ ته راغلی اوس نوچی موږ درته ووایو هغـی وكێ ه هغه‌داچی ته‌او دغه كو ئێ‌ه‌چی‌د اوس ستا ښځه ده‌دوا ئێ‌ه ماښام دمێ ه‌كره ورسی او خپله وینا درته وكێ ی كه‌دوی ستاسو په دغه وینا خوش شول خوښه ترښه او كه درڅخه خوش نه‌شول نودغه خپله ښځه ورایله كێ ه اوته ځینی ولایێ ه سه‌بیا به‌دوی سره خوش او دغه ښځه به‌دوی‌درولی هلك چه‌د سپین ږیرو خبری په غوێ كی نیولی او كور ته‌وررشی نو‌دخپلی ښځی ته ووائی چی ستا دپخوانی كورنی ستر گی په‌ما پـی كێ ى دی‌نو اوس زه له‌مخه اوته داپـی دننوائی په‌تو گه به‌ور شواودغه

نو او ښځې به دا ځکه خوش شي او شېرا به نه راته کوي هلك دا هم
ووائي چې ستا له پخواني کوره سره به مو د تنګ راتګ لار سره.
وشي دغه ښځه سپين ږيرو ته دغا وکړي او دغه هلك ته و وائي
چې زما به هم خپل زوی او لور ته ښه خلاصه شي نو دوائه سره رهي
او پخواني کور ته ورشي هغه ښځه ووائي زو به دا دي څو نه لوړ
فکر کړی دی چې زموږ خو دا نو کړ. راغلاست وروسته له ډوډۍ
خوړلو ځکه هلك ووائي چې زه د باندې ځم تاسو به مجلس سره وکړي
هلك ولاړ شي او دوی سره کښېني لومړی د دغه هلك ښځه ووائي
چې پښتانه متل کوي او دا ئي وامه وړی لومړی به پخته رامه شي
ورپسې پخته هغه لومړی بخت مي ډېر ښه وو اوس هلك ما په زړه وکي
شېري او د کونډې په سترګه راته ګوري بله دا چې که دغه هلك پېسې
مونده کړی نو به هغه کړی ښځه کوي پيغله وی پيغله غواړي
بیا د دغی پخوانی خوا شېي ووائي چې ته دا راته ووایه اصلا تا مېړه.
څه کاوو او څه احتیاج دی ومېړه ته درلود که ته پر خپلو زوی
او لور ناسته وای نو اوس به موږ ګول پر تا باندې راګرزېدلی وای
او په ګولو به مو ستا احترام کاوو تراتګه پخوا مو ښه را درته
کولی اوس چې کورته راغلی یاست نو شېرا به نه درته کوو او دا
چې تا ووینو نو زموږ پر زړو باندې لمبې وګرځې بله دا چې
ستا اولاد د وبی اوره شوی بود و نه ښه دی وکړل چې خپله ښه دی
راخلاصه کړله نو اوس که ستا د ډو ډېر موږ به تنګه کړ لو نو تاسا
په دیو څه وخت دباره دلته ورته راو غواړو دوی ګول سپين ږيرو ته
دعاوی وکړي دغه ښځې د زړه خواله سره کوي چې دغه هلك
ورشي بدغ وکړي اوس نو زما لار راوګا کې هلك دا هم ووائي به
هر ډول چې ستا شو زړونه له موږ څخه خوښېږي نو ز. به هغسي
وکړم دا ځکه چې به لومړی وخت کې هم نه وم پر خودی نارور ا
باندې وکړله بیا نو که ما نه کولای خلکو به ښه نه راته ویلای خو
ما دو نه پرې. وکړله چې تاسو مي خبر کړی وای نه به ښه وای اوس نو زه

خپل ځان په دغه نه خبره ولوسره بې بولم . نو اوس به زه ستاسو پرلاري هم د ښځې پښوا اې خواښې دوائي هلکه که موږ په رښتيا سره خوشحاله کوی او زموږ سترګی په ځان پسې نه ګرځي؟ او زموږ دوعاوي غـواړي نو ته او دغه ښځه زموږ کره راشي . ته چې يوه ورځ پر خپل کور نـه يې ښځه بدي خوندي وي زموږ به دغه يتمان له خپلی مور سره د پښوا په خبر په خپله مور خوښي بيغمه به وي بله دا چې موږ به هم دا فکر نه کوو چې دغې ښځې ميړه کړي دي بلکه دا به وايو چې د پښوا په ځير مې دغـه زوی دی هلک بيا هم سپين ږيرو ته ورشي او دغه خبري څيني و بو ښتې سپين ږيري وهلک ته ووائي چې يوه ورځ مه ګوره خو فوراً خپلی وتـري ورواخلـه او هلته ورشې دا ځکه چې له يوې خوا به ستا ښځه پادوي خـو اندي او ددوی به سترګی نه وي در پسې ګرځي او نور دوست او دښمن بـه هم ستاســو پر حال خوشې نه کوي . خو هلکه ته موږ سپين ږيري بو اې دغـه پـورته خبری مې به څوړ کی ونيسه او همسي وکړه هلک بيا هم ددوی خبـری ومنی په څوړو کی ټينګی ونيسی او خپل کالی ورو ړدی دی ښځه هم ورشي نو ميړه ياتی کسان ور ته په دماشي هلک چې له کارو څخه ستړی شي نه د کونډی غزلي په دا ډول سره وائي چې ددغه ډير غزلـی به پای کی وائي کونډه به ونه کړمه

د هلک د ارمان بدلی

کونډه کنډی دا له سوه      زما خوار يکي شپه شـوه
د خوږم دږو مچرو      پښه به يې زه څه کړمه
کونډه به ونه کړمه

کونډه زوړ تو يک سو      دی له خپله ځانه ډک شو
زه به يې بري نه يږدم      چې ځکه هک يې پورته نه کړمه
کونډه به ونه کړمه

کونډه زوړ تلتک سوو      له زړو پښوو ډک شوو
هيڅ به يې پري نه ږدم      چې ګيندې يې خيري نه کړمه
کونډه به ونه کړمه

کونډه زوړه کړی سو — دی له خېره لیونی شو
پرې به یې زه نه ږدم — چې صابون پراو به نکړمه
کونډه به و نه کړمه

کونډه زوړه خوابې سوه — له زړه تیادی لیونی سوو
پرې به یې زه نه ږدم — چې په زور یې زه سی نه کړمه
کونډه به و نه کړمه

د کونډی او لښتی دې — زه یې ګډ کړم په بدې دی
قول را ته خښمیږی — وائی چې د تیادی پردې نه کړمه
کونډه به و نه کړمه

داپور ته ویلی د کونډی سمه لاروه. د کونډی په دابل ښنګک کې به څو خبری و کړو کونډه چه له خپله کاله ښځه ووزی او کونډه چې خوا نه وی او د میړه په کاله کې میړه ونه کړی او په بل ځای که میړه و کړی د کونډی لپاره ونه ګوری چه اوس به ننواتی دا سی او د کونډی پور به هم زاوړی چې تر ډیره وخته پوری و ګوری او د هغی خواښه چی کونډه یې کړېده ور ته راته سی او د میړه کهول په کلی کې له چاسره جنګړه و کړی هغه جنګړه ولا په جنګړه کې ودخو د میړه و کور والا ته ووائی چې کونډی موږ بل چا و کړلی او تاسی تا مردان په کور کی ناست او پر نوستر کو ورته ګوری له دغه پیغور سره سم میړه د کور تراو ښځی کنډه و کړی ویو لری ځای ته ولاړشی هلته هم څو میاشتی او کلونه تیر کړی خود خپل کلی له خواښخه څوک نه شی پسی ولاړ نو دغه کونډی ښځتنان وروغلو کورو ته ماښام ورشی او « ننګه » پرواچوی او ورته ووائی چې زما د میړه ورور ښځه یې راښځه و کړه له ما وتاسو ته کنډه را وکړه له اوس نوستاسو خوښه چې څه په کوی هغه و و ائی چې سهار به موږ د خپل کلی سپین ږیری او تر ډیری سره کښېنو وتاته به یوه خبره په لاس در کړو سهار چې سپین ږیری خبری سره وکړی ورستی خبره ئی دا وی د میړه ورور ده ته په کنډه را غلی یی خو موږ په نورو خبرو نه پوهیږو دوه نه در سره کولای سو چې ته که په غدی ولاړه سی نوستا له کور او ښځی به

موږ درته ساتو او ګوره چې هلته څوك مړه نه کړي که تاڅوك ووژل
نو موږ به تاسته له ګوره سره دهغو په لاس ورکوو او نور د دنیا
تاوان که دی ورواندا او موږ بېغ نه درته کوو دغه سړي چې کله
راکړی وی کور به دغه کلي کې واچوي دی ولاړ سي ډېري شپې
وروسته دهغه سړي چې ګواښه یې څنې کړی وی یوواری په شپه
کي ورسي هغوی وډاردی نو بیا حویلي کې بېغ وکړي چې جایي
خو میراث خور درلود هغوی پوهه کړي چې د کوڼدۍ میراثخوردی
بیا یوڅو شپې تللي وي چې هغه خلك چې کوڼدۍ یې څېښتي کړي دي
احتمي نه ورته وکړی نودی بیاهم ورته ورسي او ددغو خلکو درمند
ته اور وروا چوي بیا ولاړ شي دغه خلك چې کوڼدۍ یې کړي وي د دغه
کلیوالو احوال ورکړي او داسي ورته ووايي تاسو دغه سړي چې له
موږ څخه د کوڼدۍ د کولو په نسبت خپه سوي دي راته ساتلي دي او هغه زموږ
دڅول کال خواري یعني درمندېي راوسوځ تاسو نه ورته وایاست دا ولي
سهار که دغه سړي څوك مړ کړ نو به دغه مرګ موږ له تاسو څخه انګېرو
داځکه چې تاسو راته ساتلي دی دغه سړي چې درمندېي سوي وي
غوږيي اېږدولي وي دغه کلیوال احوال ورته ولېږي چې دغه سړي
خوستا سوخپل سړي خو پر موږ یې ننګه اچولي دی نو موږ وده ته څه
نه شو ویلای اوداچې دغه خبره خوبه تاسو انده نلری نه که تاسو دی
وته غوانږي نودده به ورکه په برخه وي تاسو یاد کوڼدۍ پور
ورکړي یاداچې موږ سپین ږیري د دغي کوڼدۍ په باره کي
دروغوانږي چې موږ او تاسو د دغي کوڼدۍ په باره کي چې لازمه
د ګڼو هغسي به وکړو نو به ددغي کله سوي سړي د انده غټ ،نر،
اوبشکي پربوڅو پرغنو نه دی او پرخپل ځای به پروت وي پرموږ چې
د ننګ اچولی دی له بدی او بدرنګي څخه به یې خلاص سوو دغه
احوال د کوڼدۍ کړي وسپین ږیرو ته ورسي هغوی سره ټول سي او په
دغه باره کي خبري سره وکړي نو د کله سوي سړي وسپین ږیرو ته
خبر ورکړي او ورته ووايي سبا شپې ته تاسو څو سپین ږیري راسي
چې ددغي کوڼدۍ په باره کي څو خبري سره وکړو په سهار دکله

سوی سړی په ګڼو ښوښېن بړېږي ورسي خبرې او کليي سره شروع کړي بيا دغه سړی چې کوندېي ور کړي وي پېره ښکاره کړي او د کڼه سوی سړی چې درمنديې سوي وي د منځ ته را دا چوی چې دوا ئې سره وسنجوی د هرچا ته خپل خپل حق ورسپېږي .

## ګله وروڼه

په کور کې چې څلور وروڼه دېوي مور او د يوه پلار وي نو مشر د مشر پر ځای کښېږي کشر پر ځای په يوه کور نی کې ګډ ژوند سره کوي . دوی څلور وروڼو د خپل کوردداڼو لود پاره په ځول ځول کار و او فعاليتو سره بوخت وي ددوي څلور وروڼو مشر ودانور درو وروڼو ته د هر يوه له حاله سره سم کارونه ورو ټاکي ترځان وکشر وروړ ته د دوکانداری او سوداګری کار ورو سپاري ور پسي هلك ته د بزګری وظيفه ور کړی تر ځو لو کشر وروړ ته خپل مشر ورورو واڼي چانه ته په داوړه ي دري مياشتي شپنی کوي دمنی دری مياشتی به له بزګرو روسره په درمندانو او د واڼو په وېلو کی له هغه سره مرسته کوی د ځوږمنی دری مياشتی به د کور او کلی بوټی په بېړ راوړه ي مشر ورور چې دغه کارونه د خپلو کشرانو وروڼو ته ورو ټاکی بيانو مشر ورور و خپلو کشرانو وروڼو ته و وائی زما ګرانو وروڼو که تاسو په خپلو کاروکی ښه فعاليتونه کړی نو به په کلی کی زموږ د کور ته د هرچا تمه او اميد وي او قول به په درنه سترګه دموږ ته ګوري دا متل دی.
کور چې سره يوسی د کلی مخه نيسي او کلی چې سره يوسی نو د ټبر مخه نيسي نو زما وروڼو که تاسو و خپلو سپارل شوو کارو ته په ښه مړانه او جديت سره اوږه ټيټه کړه نو په دغه صورت کی به زموږ کور ټول کلی پولوی او دتمی کوروی بلمه دا چی تاسو چې په خپلو کار و کی فعاليت و کړی او ښه ګټه راوړه ي بيا به زه چه ستاسو مشر ورور يم ودو ته به په درو کړم او د هر يوه ګټه به د هغه پر نامه سره ټولوم او د هغه ورور پر کوزده به يې ور کوم او ستاسو په ګټلو پيسو به ستاسو کوروته

درجو ته کېږم اوس نو ورو ته تاسو او ستاسو کوښښ د مشرورو ته په خپل
منځ کې سره وواېي چې مشر وروردپلار په درجه کې دی نو له مونږ
کشرانو سره ښايي چه د خپل مشرورور قدر په ځیر وپېژنه نو که او مېرانه
سره وکړو او دته د مشر په سترګه وګورو د غه دری ورو ته وروسته له
خپلو خبرو څخه وخپل مشرورورته ورشي ورته وواېي ز مونږ ګرانه
مشره وروره مونږ د دروستا کشرانو ورو ته ستا د کار په باره کې مو
داسې صلاح کړې ده ته چې زمونږ مشرورور یې نو مونږ ته له ټولو کارو
څخه خلاص کړلی ته زمونږ د ټول کلي سپین ږیری او مشر شه او بیا مونږ
ورو ته بدی دوانی نظر ودی که په مونږ ورو ته کې یو ورور خپل ټپا کلي
کار ته کاږ نو ته به پر څه بېغ او څه وُ کار ته لیږل به ستا پر غاړه وی
بله دا چې که د بل ورور کار دیره روی او د څه زور ته په ورسېږی نو له
څه ورور سره به ته د مزدورانو یا د بل ورور په واسطه مرسته او کمک
کوی او د کلي د مېلمانه او دزیرمی کارونه به یې ته کوی د ورو ته مشر
وواېي هو ښه وایاست که مونږ د کلي کارونه وته کړو نو څوک به د کلي
دزیری او د کلي د مېلمنو کار کوی نو زه له تاسو ورو ته څخه ډیر تشکر
کوم چې وما ته د مشر کار ورکاکو نو زه به په خپل کار بخوت سم او تاسې
هم ورځې خپل کارونه کسوئی د «برکت خاوندان شی» د مشرورور
له ویلو سره سم کشران ورو ته پر خپلو کارو ودرېږی تجار و ر ور
خپل کار کوی بزګر هم د بزګری کار کوی شپانه خپله شپنی کوی
مشر ورور یې د نورو ورو ته د کاروزیرمه کوی او په دغه ترڅ کې
د کلي د مېلمنو او مسجدو د بوټو داشرو او په کلي کې د خوارا و
بیوز لو زیرمی هم کوی .

# د کوچیانو او پونده‌ؤ دودونه

کوچیان او پونده دغه دواړه د دوی نومونه پدې دي که خلک پونده د خپلو مالونو پوی په وخت کې وو یعنې نو یې هغه خلک پونده بولي او که څوک کوچیان د دوی د لیږد په وخت کې گوري نو هغه خلک (کوچیان) ورته وایي چه له غزنی بیاد کندهار د شاوخوا واسیمو او تر سپین بولدک پورې د دغو پوندو د قولو د ژمي (مینی) د ریکو پر غاړه د دوری پر یو بل څنگ پاندې یې کېږدي ولاړې وي چې د دوی د ژمي د مینو ځکې د (کلکی) په نامه سره بلل کېږي او د پوندو رمې د ژمي په ساړه موسم کې په (دوانده) و (کلیت) نومي ځای ته ځي چه د غه د (کلتي) په نامه ځای د پوندو د رامو د پاره ښه پراخ او د رمو د څړ د پاره ښه او برابر دي او د پوندو د اوړي (مینی) د هزاره جات د لوړو غرو په لمنو کې وي د پسرلي په وخت کې چې د دوی د ژمي له مینو څخه راولېږدي او سر که سر که د لنگو میږو د ځې په کام سره د اوړي د مینو ته ځي او پونده چې هر څوک سره نژدې خپلوان وي نو هغه خپلې خپلې کېږدي څنگ پر څنگ سره ولاړې وي داځکه چې که په دوی خپلوانو کې څوک د خپلو پسو د خرځولو د پاره وځنو بازار ونه ځي نو د تللو سره کورونه یې پاتو خپلوانو خوندي وي او کېږدی یې څنگ پر څنگ او دیوه بل د کورو زیر مې کوي .

بله دا چې ما د پوهاند په فولکلور او په دودونو د دوی د مالو دغو او د دوی دودونو او ښادیو او بدو کې مې ګډون کړیدی او د دوی د اوښانو د غږ طرز و نه دوبی او ژمې مې قول را قول کړیدی نو اوس چې د فولکلور ریاست جوړه دی او د پوهنې پر حال چا تر اوسه پورې څه نه دی لیکلی نو زه له ښاغلی د فولکلور له رئیس او محترم د فولکلور د مجلې له مسئول مدیر څخه هیله لرم چې زما قول کړی فولکلور او د پوهنږ دودونه پرله پسې د فولکلور په مجله کې خپاره کړی او بیا یې د رسالې په توګه را نه چاپ کړی چې د کوچیانو دودونه او فولکلور هم پدې روڼه دوره کې خوندي پاته نه سي . چې اوس په د پوهند وچې د وی د ژمې له مېنو څخه د اوړی د مېنو و لور ته د پسرلی په وختو کې ځالیږدی وچیو او بیا د پوهنږ د اوړی د غرو لورته او بیا بیا د ژمې ژوندا و فولکوری ژولوته تول پیل وخودلسی .

کوچیان چې د ژمې له مېنو څخه د اوړی د مېنو و لور ته را ولیږدی په دغه وخت کې د دوی مېږې هم په لنګوغ سر و کړی او وا ښه هم ډېر وی نو کوچیان منزل ل خو لا څه کوی پوازی هره ورځ خپلې مېږې نوی کوی او په ښو ښو کی اندی نو هغه مېږې چې په دغه ورځ لنګیږی نو دغه مېږې له رمې څخه را ګرزوی او د خپلو کږدیو په شاو خوا کې څری ترڅو چې دغه مېږې نو دغه مېږې د کږدیو په څنګو کې لنګی سی او ښځې دغه مېږې د لوسی او له کندا نو بی اوږه جوړه کړی او مابښام چې شپه او نور مېږې سره راسی نو ښځې هغه وریو ورته راولی او دوی خوری نو هغه د رمې شپه هغه لنګې مېږې په رمه کې وا چوی او څنی هغه د ژمې ډ انګر پسونه چې له رمې سره تنګه سی کولای او ډېر ډ انګر وی هغه پسونه شپه د کږدیو په شاو خوا کې د غږ دپاره بربېږدی چې قولو مېږې لنګې سی نو کوچیان چې

لە بوی مێنی ھەڤەو بلی مێنی تەكێە كوی ئوشپە دمێن دپە مابێن كی
پێروزی ئود كێن لوری ئێی مێری دبێی لوری پرمێن و باندی زاوادەدی
اوشپە د خپلی د ر می لە كێن اد خە سر ە و ی ئو ر مە سی پرمخ
باندی ھی ادچ برھی نە كوی دودوودو دلی تەچی او ئەوالی دڤە (اولە)
ھم چی سێرلی اوودری سرە كێدی ئووخپلودەو ھلكائو تەدمزریو
خپری پانی وامنێە كری ئوچی دكێواوبان چی ھی داوھائو لەڤنكو
سرە ددوی (اولە) ددوی ھلكان مێوی اودماھا ئاری بساندی وھی اوپە
لز لە رھی كری وی اوپڤی دكێو اوبان مێوی او ئارینەیی ھنی كساھ
لەرموسرمدی اوھنو كسانوھنی ھڤە دخرخ پسونە دخرخ دپارە و
كنج تەبیولی وی دڤە دكنج ئكوئی سری چی لەخپلو كوروھڤەھی
ئو لە خپلو بنھو سرە دپنھوورھود پارە ھڤەمێنی وقا كی اوپڤی و
خپلو سی و تە و و ائی چی مسو ز پە پنھمـــە و ر غ
چی ستا د راتلو و ر غ دە پر ( پلانی ) ھا ی پە ادونو تە
پەراھی ئو بنھی خپلی كێی پەچیرشوقی اومینە سرە لیندوی چی
پەدغو كێو پوری داسی بدلی و یلی كێنی.

پرقلات بیا كێی را پارسوی — مستە تجلی پەدسملو كێی دھێنە

جا ئانە زما لیڤل كە غوادی — دكێو مخ پەاجا رە واخلەمینە

یارمی كوچیڤ كوچ یی دكی — پرما لعنت كری پر كوچی مینەسوم

پەدغە ودە چی دڤمو دلوڤ پە وختو كی ددی دشا جوی پەشاوخو
ھایوترھاكی اودوغائی پوری سرە دا رسێری ئوچی ھڤە كوچیان
چی دژمی پەوختو كی یی مالونە چ یرچ ئكرسوی دی ئوددغو ھائی خلكو
چی لوڤنە پای تەرسولی دی ئودڤە پوندە لە ھغود مڤكو لە ھنھتائو
ھڤە دخپلوچ ئكرو پسو دپارە وچونە واخلی اوخپل ھڤەچ ئكر پسونە
پەھڤە پلالە كە پیالی پە دڤە وخت كی ھائی خلكە دوچوو ھنھتانوتە
ووالی چی دڤەوچونەدی ولی د كوچیانوتەور كری دی موزستا پە كلی
كی ژوند كوڤ ئووچونە یدیھم دموژتە را كی یوای دمڤكی ھنھتن

وواېي چې ما خپل ورځونه و پونده ته بدي نسبت ورکړی بدي چې کوچي خپله دمه زماد کال په شدياره کې پنډوي او زماد کال مځکې په امبار کوي نو ځکه ما دغه مرسته له کوچي سره وکړه هغه وخت چې زماد کال شديار په امبار سي نو په ژر تر ژره له دې ځايه څخه کډه کړو کوچياني چې ددوي ورځونه او پلاله په خپلو هغو ځنګرو پسو وپیائي نو بله کوچي خو دمځکې د څښتن په مقصد پوهيږي چې پرستر گوښه ته ورځم خو بوازي دامبارلو نيارلته نيولی دي نو بله ورځ وختي له هغه ځايو څخه کډې وکړي او داوږدې دمينو چې دهغو لوړ وغرو په لمنو کې دي ځاونه ورورسوي نو هغه ځنګري ميږي او (وچکولان) چې يې په رمو کې دي نو هغه ځنګر پسونه کوچيان راوګرزوي او دکډيو په شاوخوا کې يې پيائي نوري رمي دغرو څوکوته واستوي او دمال څښتن کوچي چې يې دغرو په لمنو کې کښېږد ته ولاړې وي درمو څښتنانو دخپلو کږديو په شاو پوري يو يو ځپر کې دهغو غريبانو کوچيانو دوولی وي چې دځپر کوپه نارينوؤ دوانډه وڼمو کاروته کوي لړ وپه هنځولي او له لير وځايو څخه پرسر وباندي راوړي په دغه صورت کې نو درمو څښتنان له خپلو کورو او رمو څخه ځاځوي نو درمو څښتنان وځاني کليو ته ولاړسي او په کليو کې دخپلو ځنګرو پسود پاره (رشقي) اوو چې بيدي واخلي نو هغه رشقي په شاو ځنګروته راوړي ښځې له لير وځايو څخه دا وبوزي له او بو څخه ډک پر خپلو سرو باند راوړي چې په دغو داو بوراوړلو په ښځو بوري کوچيان داسې بدلي وائي

پر ملا نری په پرو ډو وکوډ نګي
چې له گودره راځتی رنځور دي کړمه
دغـرو لـه سـره مـی صحـی کـړ ي
پري بدي نه ډدم درود يارژډيه کله

د ژبې سر دې په خوله راکړې
له ډېر خونده مې د زړه سرتنا کې سونه

دغه کوچیان چې راموښتنان دي د نورخه ته اړتیاوې دونه لري خوچې ناروغان سي او یا یې سړې تبې سي نو د ډېلواو به یې له ستر گو سره کتنه پورته کېږي او په پښو کې داغی چې هغه دویلی او به راواخله او ورایې کړه .

د دوی رمې چې په وانده ځي له هرې رمې سره دوه دوه غښتلي کسان او دوه دوه غښتلي (سپي) او له دو کسانو څخه (مچلوغزی) او یو یو کوندې او یو یو ټوونی ورسره وي دغه وانده رمې دوی دوې رمې سره څنگ پر څنگ د ځي و ځای ته سره ځي دا موسپانه و خپلو موته دشپې د یوځولو د پاره د دوی ده په غړو کې پر (اوډه) باندې شپول واچوي (اوډه) دهغې مځکې ته وایي شپله او نوري وډې ازغتې غونډي ته و ته لري نو پر دغه ځایو که له یوی یا بلې خوا څخه لیوان په شپه کې راځي نو یې سپانه او واره گري او سپي یې ویني چې شپانه رمې پر اوډه د ځولو ځکو باندې پنډیه کړي نو شپانه خپل ځانونه د لیوانو منځ نوی د پاره داسې چمتو کوي .

## ټوونی

ټول شپانه چې د ځي له ځایو څخه خپل خپلې رمې د شپې د پنډیدلو د پاره و شپلو ته را ولي نو شپانه گوري چې په رمو کې یې یا غی پسه وي نو هغه ټول پسونه شپانه تر غاړو تسې او هغه ټوونی چې له شپنو سره وي په هغه ټوونی د پسو پښي و ووټړی بیا نو د هغه ټوونی بل سر را واخلي په خپلو لاسو پورې یې وتړي نو واره گري چې د شپنو تر لاسو لاندې وې هغه واره گري درمې په یوه خوا کې ویده کړي او شپه په بله خوا کې ویده سي او له هر یوه سره یو یو سپی هم پروت وي نو که په دغه شپه یو لیوه راسي او درمې پرشاوخوا باندې ځار وکړي کله دغه لیوه

سپی یا رمه وتوریږی نو په شپانه اوواره ګری پوری تړلی پسونه چی منډه کړی نو شپانه اوواره کړي همداویښ سی او په لیوه پسی دماما ناري وکړی او سپی یی هم په لیوه پسی منډه کړی خو لیوه تښتور دیوی له رمی څخه ولاړ سی نو په دغه ما بین کی دري څلور ورځی تیری سی چی شپه په پیغمه سی نو بوهغه بلډ لیوه اودری نور لیوان ورسره ملګری کړی او چی شپه پخه سی شپانه او واره ګری یی په ویده سی نو لیوان چی څلور یا پنځه وی د رمی د شپانه وحای ته له یوی او بلی خوا څخه په رمه ور ګډ شی چی د رمی پسونه وبوی خوا ته نسی تلای چی شپه اوواره ګری یی له خوبه څخه ویښیږی نو لیوا نو څلور یا پنځه پسونه کړم کړم کړی دی شپه چی ډیر دار خطاوي نو بوازی دماما ناری وهی چی کړم پسونه شپانه دوینی اودپسوا و لیوانو حال چی دوینی نو شپه هغسی کړ کی چی له هغو اور دو رمو څخه شپانه او سپی ورته ورسی . خپل واره ګری وخپلو رمو ته برېږدی او د ما ما ناري ټول وهی لیوانو په دغه وخت کی له رمو څخه خو پسونه (کړم) کړي د دورمو شپانه او سپی لیوان له رامو څخه وباسی او دوی هغه کړم پسونه او لیوانو وژی اودا ځلی پسونه چی د حلالولو وي هغه پسونه شپانه حلال کړی او هغه پسونه چی د لیوانو دا ځدی لږ ورسیدلی وی او له ډاره دغه پسونه لکه مړه براته وي نوشپانه دغه پسونه هم له مځکی څخه راپورته کړی دغه شپانه اوواره ګری خولا خبری سره کوی چی دغه لیوان وهغی بلی رمی ته ورسی او په رمه ګډ سی داڅکه دلته خو شپه او سپی نه وی نو لیوان هم ډیر پسونه وخوری دهغی رمی دوار ه ګری ناری او (کرږی) شی دغه دوه شپانه او سپی ټول وهغی رمی ته ورسی او هغه رمه د لیوانو له خولو څخه خلاصه کړي نو شپانه خپلی رمی سره څنګ پر څنګ کړی نو هغه دا ځلی پسونه شپانه سره راټول کړی نو په دغو پسو کی بو په چاغ پسه شپنیان راواخلی نو ګوری چی په بو

ځای کې ډېره ډېره (شګه) وي نو هغه شپنیان سره واړوي نو په دغه ځای کې د لرګو اور بل کېږي چې شګې ډېرې سرې سي نو هغه پسه د شګو په مابین کې کېدی او له یوې بلې خوا څخه شګې باندې راواړوي او اژ وخت یې پرېږدي بیا نو شګې سره واړوي که ګوري چې دغه پسه پخه پوخ سوی وي نو شپنیان له یوې بلې خوا ورته کېني او په ماړه نس دغه پسه وخوري نو دې غوښې او هډوکي د خپلو ور سره سپو ته ور و اچوي چې دا موسپې هم په ماړه نس بیا نو شپنیان له دمو سره وي

او و و ا ړ ه ګـــــــر و تـــــــه هــغـــــه کـــــــې م

او لیوانو داړلي پسونه ور کېږي چې د کوډ و ته یې ورو لې هلته به د کږدیو په یوه بل څنګ کې په ځېږ کوی واړه ګرې چې هغه کېږم پسونه و خپلو څښتانانو ته ور ولي نو د رمو څښتنان سره وواڼي چې خیر دی مال خو له ماڅخه لړی نو که زموږ مال نه وای نو لیوانو به څه او له څه یې خوړل رامو څښتانان له دغو پسو څخه یو یا دوه پسونه نو دهم خیرات کړي نو واړه ګرې د خپلو رمو پر لوري دغر د خوا ؤ ته رهي سي او د خپلو رمو ته ورسي چې شپانه د خپلو بادارانو له خوا ؤ څخه بېغمه سي نو دوی په ډېر شوق او ذوق سره خپلې رمې د څېړو ځایو ته ور ولي او زړونه یې ډاډه چې خپلې رمې کرا دي بیا ئې نو شپنیان د خپلو رامو په مابین کې تیرشي او د کېن لوري نیمائی میږي د ښي لوري پر نیمائی میږ و باندې یې راواړوي نو رمه په ډاډه زړه سره څړېدی هم کوی چې شپانه راهي ناري پر خپلو رامو باندې وهي نو رمې لا په ډاډه زړه سره څرکوی شپنیان یوازې ناري وهي او بیا څنې بدلې وائي او د زړو له ښې څنګو سره په واړه ګام سره د مېږو په څنګو کې چې څنې نو کوډور پر زړه سي نو له ځانو سره د اسې (امو) و کاږي نو په دغه ډېره څو داسې دارمان بدلې ووائي.

چـې کـله کلـه لا پـه زړه شـي

کمې خوله ږ که له خنداوي په ژاشمه

گران مې د گنې رمې شپه دی
مخ یې سپېره دی د کچلو په دود لمدونه
ستا د رمې سمو څنگې چې وا ورم
کږدی مې اورسې پر سکروټو ژوند کومه
سترگې مې ستا لور ته کږې پېدې
لکه جنډۍ پر شپېلانو کږۍ شینه
تـور او نکیـن سپین دی جبین دی
یار دې شپین دی په منگول کې بدی وهینه
انجلۍ په بـاغ کـې سره مڼه سوه
داسې باغوان یې په ور بشوور کونیه

دغه شپنیانو دخپلو کورو دیاد په نسبت بدلې همدائی او یوه یوه بلا بیا خپل خپل تلونه په ډېرارمانو سره وهي او ددوی دا مو مېږۍ چې دشپنو تلونه او بدلی اوري نو په ډاډه زړه وسره څړ کوي.

## شیره

وشپنو ته خپل خپل باداران یوه وړه غوڅ کړ ورجوړه کړي نو دغږی په خوله کې یو سوری او لښتۍ ی تل ورکیدی نودغه غږ کی له مستو او تر دوخته ډ کې کړی نوشپه چې دشپې په نمائی کې یعنې په بر بحر خپلې رمې دځړ وځایونه بوزی دغه دشیروغږ کی ډکی د شپنو په څنگو څوړ ندې وی او شپانه چې په خپلو دامـو پسې یوی بلی خوا ته گـرزی نـو هغه غـږ کـی چې د دوی پـه غـاړه وی او دغـږ کـو مستی او شـدی چـې سـره وځـو دی اودغه مستی او شدی د (ڤکنډی) غرمې په وختو کې چې ډېره گرمي هم وي نوشپنیان هغه شیره لکه او په داسې وڅښي او نوره شیره بیا وی غاړی ته و اچوي او ورسته له لږ وخته څه نوره وڅښي نو بیا

شپنیانو باندی د غه د غرمی تود لمر تاثیر نه کوی او شپنیان په شپږو
هم مانځه وی او هم او به دی هغه نور ه شیره چی له شپو او سره په غږ
کوکی باته سی نو پرشاو خوا لاډو باندی چی لاروی تیر یږی نو دغه
لاروی خوږی اوږدی وی نو دغه خلک چی رمه و وینی نو له لاری
ورته راو گرزیږی او شپنیانو ته ووائی چی زموږ خو مزل اوږد دی
او اوس هم ستړی یو که ستاسو څخه چوڼی یا او به وی را بی کړه
شپنیان ووائی چی خلک په څوته ریبو واده و کړی او بیا هغه خپله ښځه
څوته پر گرانه وی نو په هغو گرانو ښځو و میلمنو ته چوڼی ښځی
کړی او و مسافر و ته یی ور کوی نو زما له مخه چی د شپونو میږ ورمه
څری او شیر ومی به غاړه څوړ نده ده نو زه به ولی و تاسو چوڼی
او شیره نه در کوم شپانه خپل خپل حال و نه په مسافر و کښ کړی.

## خریړی

که څنی شپانه د شیرو غړ کی نه ولری نو په یوه لوی گڼو ډی
کی مستی واچوی او له دمی څخه یوه وزه یا میږ په دغو مستو کی و لوشی
نو دغه شدی او مستی چی سره ښوری نه او تنگی سی ودغه ته نو خریړی
وائی که ډیو نده ؤ په کوړو کی څنی سپین ږیری سړی یا ښځی وی نو
و هغو ته د کږدی څښتانان او د کوړو وا کمن و هغو ته خریړی ور جوړ دی
خریړی د کوچیانو ډیر مو ا لو ته په هغو وختو کی هم دا ئی چی
د چارمه او او له سره گډ شی نو یو کوچی و بل ور یوغ کړی چی اوله
اومه سره خریړی سوؤ.

## د کوچیانو د غږکو تار بل

کوچیانو په خپلو اولو پسی د پوټی دپاره دمی کړی وی چی
دغه لیریانه خپل اوله چی ور سپار لسوی وی د کږ دیو په شاو خوا
ؤ کی تر یوی غونډی یی اوله تمام کړی دی نو چی دمی و خپلو کږ
دیو ته راسی نو دغه د څښتان او میرمنی یی چی ښځو ائی لانولو اوږدی

وندری او ټکوهلی وی او درمی لنګی میږی په دغو وندرو وتړی او
د کور دوی میرمنی دوه دیګونه پسی را واخلی او میږی ژر ژر لوسی
تو یو لوی دیګ هلته یی ورته ایښی وی نو شدی چی لوسی هغه په هغه
بل لوی دیګ کی تو وی چی بڅی درمی لنګی میږی ټولی ولوسی



نو میږی له ونورو څخه
خلاص کړی نو میږی
خو (راسی) او خپل
وری غواړی نومندی
وخپلو وړو زامنو ته
ورائی چی ولیر پښو ته
ور بوغ کړی او له
راولی او میږی خپل خپل
وری وویشی لیر به خپل
اوله را نژدی کړی
وای چی د میږو (ریا)
واوری او په ټیره
وار خستا ګی منډه و
وخپلو منډو ته راز غلی
تر څو چی اوله په رمه کی
سی به دغه وخت کی ټیر

.......................................

دوی کوچی پیغلی په داسی حال کی لیدل کیږی چه:
د کلیوالی او ځائی ژوندیوه اړخ ته په خیر انتیا سره ګوری.

وري له خپلو نورو څخه وړکوي دغه وړوکي وري تر یوه بله مېږ سره نه
لاندي کوي دوړو منډي دهروري لم بو بی وی او خپل خپل وري
غواړي چي ښځي خپلي لنګي مېږي ولوسي نوداچي شودي یې ډېري
وي نو یې په لویو دیګو کي تومنه کړي چي ښه
مستې سي نو سهار چي کوچیان .
که دغي میښي څخه کډه کوي نو لمړی هغه دغو یو له یوستو څخه چي یې
لو لو غړ کي پښې کړي وي له دیګو څخه مستې په هغو غړکو کیږاسي
نو ښځي دغه دوي غړ کي په مستو ډکي کړي نو چي کډه کیږي دغه دوي
غړکي یوه د اوښ له یوي خوا او بله یې له بلي خوا پراوښ باندي بار کړي
نو اوښ چي ځي غړکي شار بلي کیږي تر څو چي دوي وهغي بلي میښي ته
ورځي نو یې، غړکي هم شار بلي سوي وي چي کوچي یې بېل او شړومبي یې
بیلي شوي وي نو ښځي شړومبي په هغو د کورتو په پنځیو کي واچوي چي کورت
ځني جوړ کړي کوچي بېل په یوه ځای کي کیږدي نو چي دیوي میاشتي
یا پنځلسو ورځو کوچي سره ټول کړي نو یې ویلي کړي او غوړي یې په
ټیمانو کي واچوي او دغه غوړي یو نده دخپلو ښځو او خپلو کورو دپاره
دژمي دوختو ته ساتي که په کوچیانو کي څوك غوړي خرڅ کړي نو هغه
چاته ټول پیغور ونه ورکوي او ورته وائي چي هغه جان دخپل کور غوړي
خرڅ کړل نو په ژمي به څه کوي که درمو خینتنان شل یا پنځویشت ټیمه
غوړي وکړي ټول په کورکي تمامیږي او خرڅوي یې نه .

## پوځه

شپا یا د کوروال چي په غرو کي ګرځي نو دوي د پوځي دپاره په
غرو کي ډېر ضمه زوري وکړي چي ضمزوري دلړ منو دبادو دپاره هم ښه
دي کوچیان پوځي هم په جوړ وي چي په پوڅو بوري پو نده داسي بدلي وائي .

پـر ونړ کـي نجلـي میـن سوم؟

سپین پوځي لیلا نري بلو ځي

د کوډ کی لوټی په شاور سره وړمه
سپینی پو ځی لیلا ترې بلوڅی
ته دا خپل سهار ته راسه
سپینی بوځی لیلا ترې بلوځی
زه به د اسری منګولی پار ته ور کومه
سپینی بوځی لیلا ترې بلوځی
ستا له یاری نه منکر یږم
سپینی بوځی لیلا ترې بلوځی
که شنکی خال می د چېرو په څو کو ځینه
سپینی بوځی ایلا ترې بلوځی

## دغوړو ویلول

ښځو یوه کوچلانه د کوچو د ټولو د پاره جوړه کړی وی چی په دغو کوچلنو کی کوچی ټولوی نو چی د څورو ختو کوچی سره ټول کړی بیا نو یو لوی دیګ پر اور باندی کیږدی او لږ لږ کوچی پکی اچوی چی هغه لږ کوچی او به سی نو په هغو او به سوځ کوچیو کی اږ کوچی نور واچوی چی هغه هم او به سی نو په اورکی ښځی سپانځه واچوی چه سپانځه ښه دود وکړی نو ښځی سره ووائی چه غوړی کمی (بدبوغ) نه وهی ترڅو چی د غوړو د ویلولو میرمنو په اورکی سپانځه نه دی اچولی تر غوړو د ویلولو وخت یوله څوك نه ور پرېږدی دا ځکه چی د غوړو د ویلولو او میرمنی وائی زموږ غوړی په بدبوغ ووهی چی ښځی خپل غوړی ویلی کړی نو په هغو لوښو کی لا پراته وی چی غوړو ویلولو میرمنی ګوری چی په نږدی کورو کی بی ځنی (زړ تیری) ښځی وی او یا تاریڼه وی هغوی راولی او ورته ووائی چی نن موږ غوړی ویلی کړی دی نو تاسو زموږ میلمانه یاست هغوی چی راولی ورته ووائی چی ما خپل غوړی او به کړیدی او (پاخه)

کړي یې مینځي نو زه به خپل ویلي کړي غوړي هم پاخه کړم او په تناسو
ته (نغري) در پرې کړم دغه شحه خپل دغوړو دیګ پر اور باندې
کیږدي پوخه نور پنځه پاخه غوړي راواخلي پر بیل اور باندې یې کیږدي
چه دغه غوړي پنځه پاخه کړي نو بیا یو څه سپین اوړه لاندې کړي
وي او دغه اوړه وغوړو ته ورواچوي تر څو چې دغه اوړه چه پخه سپین
اوړه وي او په غوړو کې هم ښه سره سي نو دغه ته (نغري) وائي چې
(نغري) سره وخوري نو سره دوائي چې اوس نو شلومبې با مستې هم
راوړه چې غوړي موله زړو څخه لیري سي به دغو وختو کې چې
کوچیان خپل خپل پسونه دخرڅ دپاره وځنو بازار وته بیائي نو د
کوروښځې وخپلو میړو ته ووائي چې غوړي مو دغسې به‌قیما او کې
پراته دي او په خپلو دغوړو به زړ کې یې اسم اچولای چې دوپناه ارم
ددوی سړي چې خپل خپل پسونه په کنج کې خرڅ کړي نو دخپلو ښځو
ویل هم ور پر زړه سي نو ژر د ترژره ددې دري منه دغه ژبې وچ توت
واخلي او وخپلو کوروته یې راوړي نو د کور د ښځې ګوري چې له
نورو کارو څخه پیغمه سي نو هغه توت ښه پاك کړي او او به پکې
واچوي چې توت ښه خشته نسي نو ښې ډېري او به پکې واچوي او تر
خاصه ئې وچڅي چې دتو تو خځ خول بیل سي نو هغه دخیشتو توتو انځ خولی
وراوښانو ته چې د کوردو پر ښځو ګران وي ور کړي او دتو توا او به
په یو لوی دیګ کې جوش کړي وروسته له ډیرو ایشد څخه یې په یو
ځای کې دغه دیګ کیږدي چې دیګ ښه سوړ سي نو بیا میرمنې راواخلي
او له ویلي سوغوړ وسره یې بیا هم په یوه لوی دیګ کې جوش کړي
بیا نو هغه لوی ژبې چې یې خاص دخپلو خپلو کورو دغوړو دپاره
ساتلي وي راواخلي او دغه دودو ښا دغوړي پکې واچوي او نور غوړي
چې کوي هغه پسې خوري.

## د مېږو نمونه له نخښو سره سم

و هغو مېږو ته چه کېډۍ ئې سرې وي او غاړه او د سر شاو خوا ئې
یې هم سرې وي نو د کوچیانو د دغو مېږو ته (پوری) مېږې وائی او د هغو
مېږو ته چې په ملایانو او څانو کې یې تورې ټپې وي د هغو مېږو ته (توره
ټپی) مېږې وائـی او هغو مېږو تـه چـې ښکـر ان ولـري او
غـوږونـه یـې لـوی وي د هغو مېږو تـه (ښکـره وای)
او غوږ وای مېږې وائی او د هغو مېږو ته چې نرې وي او ملا کې یې
سپین والد څا یو ته وي د هغو مېږو ته (سپین ټپی) مېږې وائی و هغو مېږو ته
چې غوږونه یې په بیخ کې نه وي او ښکرانی هم و لري د دغو مېږو ته
کوچیان (کو کی ښکره وای) وائی او د هغو مېږو ته چې غوږ
ونه یې واړه وي د هغو مېږو ته (منډه) مېږې وائی او د هغو مېږو ته چې
لمان یې لوی وي د هغو ته لموري مېږې وائی د هغو مېږو ته چې اوچته
او چالاکه وي د هغو مېږو ته (څکی) مېږې وائی .

## د وزو نمونه له نخښې سره سم

وزې چې کوچیان برلاو دیاندې بیالی نو (تچه) ورته وائی او هغو
وزو ته چې کېډې یې سرې وي د هغو ته سور کېډې وزې وائی د هغو
وزو ته چې یو یو (تی) ولري نو کوچیان یې (بوهانی) وزې بولی او
هغه وزې چې ټولې تورې وي او یې یې نخښې تورې وزې بولی هغه وزې
چې منډه وي او په تندو کې یې سپینې نخښې وي د هغو وزو ته (چرګی) او
منډه وزې وائی او د هغو وزو ته چې د خپلو زامنو لینې (سیرلانو) ډېرې
مینې ولري او د ټولې دامو په مخ کې د کور ته ورځي نو د دغو وزو ته
کوچیان (مینی) وزې وائی .

## منګنی

منګنی ـ هغه مېږې یا وزې چې د ژمي په ساړه موسم کې بېوخته
لنګې سي و دغو سیرلانو او ورته منګنی وائی نو د پسرلي تر ورو او
سیرلو دغه منګنی غټ او مزي وي نو که یې پولده خرڅوي نو وائی چې
دغه وری یا سیرلی خو منګنی دی .

## داوړی په وخت کی دکوچیانو داوښانو پودنه

پونده ځنی هغه خپل خپل وان اوسره نژدی خلکیه خپل خپل اوښان
او اوښی سره ګډوی نو چی سل یا اتیا اوښان سره ګډ سی نو د هغو
اوښانو ته «ګله» وائی چه د هغو ګډون کونکو څخه چی هر څوک مشر
او د نامه څښتن وی نو دغه ګله د اوښانو د هغه مشر په نامه سره بلله
کیږی نو که د بلی «ګلی» څخه اوښ ورك سی نو دا چی ټولی ګلی
خو د هر چا او د نامه پر څښتنانو باندی بللی کیږی په دغه صورت کی
د ګلو اوښان چی د هری ګلی ته ورسی هغه اوښ به یی په خپله ګله کی
ساتی ترڅو چی یی خپل اوښپه ورسی او وخپلی ګلی ته یی ورجلا کړی
چه اوس به د اوښانو د خوړلو بوټی چی اوښان ورده په کوی وښودل سی.

## داوښانو دخوړلو بوټی

اوښان څوڅان ډېر خوری داځکه چی څوڅان تروه دی نو پر
دوی ښه لګیږی که څه هم دغه څوڅان ډېر تیره تیره ازغی هم لری خو
اوښان ئی په ډېره مینه سره خوری د اوښانو دخوړلو بوټی بل هم سارمه
بولی چی دغه سارمه تر څوڅانو لاتروه ده او اوښان یی په ورځ کی
یو ساعت ښه خوری بیانو په څوڅانو پسی ځی ترڅو چی ښه ګڼ
څوڅان موندل کړی نو هغه خوری اوښان دغزو ګلان او نورودګر
یی هم ډیر خوری هغه ځائی خلك چی اوښان ولری نو دوی داوړی په
وخت کی څوڅان وهی او بارونه بارونه ځینی جوړ کړی چی آخیر
منی سی نو یو ډاك لکه دغنمو درمندانو ورته جوړ کړی نو دغه دڅوڅانو
بارونه پر هغه ډاك باندی اړدوی ټول څوڅان پر درمندانو کوټی کړی
نو د ګلی ځوانان یوازی دیوه سړی څوڅان په ټولو سره واړه کړی
بیا د بل سړی څوڅان په ټولو سره واړه کړی د دوی دڅوڅانو دوړولو
طرز شپږ یا اوه اوده او ښځی ښځی لرګی موندل کړی نو ډاګ پر
شاوخوا باندی ورته ودریږی او څوڅان په دهی په دغه ورړه سره دوی

دغه ټول درمنډونه واړه کړې بیا نو چې ښه په زوره باد وي نو هر څوک
خپل خپل واړه سوي څوڅان باد کړي د څوڅانو ازغي او پاڼي بېل او
هغه پنډې پنډې «ټانډوري» «بې بېلېږي نو خلک د څوڅانو ټانډوري د خپلو
کورونو ته د سون د پاره یوسي او اور په بلوي او هغه تېره ازغي او د څوڅانو
پاڼې هم د خپلو کورونو ته یوسي نو چې ژمی سي هغه واړه څوڅان د اوښان په
اخوړو کې ور واچوي او اوښان يې خوري په تېره بیا چې دغه څوڅان
یو څه لانده هم سي نو بې اوښان ښه خوري او د دوی څښتنان یو څه
اورشبې ورته کړي نو دغه اورشبې لکه اوږده داسې لندوی نو کړدې ته کړدي
«نوالي» څېنې چوړه وي نو او ښان خود بانډې دا نکړي په مخ کې
«چوکوی» نو چې واوره اوري او ډېر ساړه وي د کوز مېرمنې هغه
چوړې کړي نوالي د اوښانو په خوله کې ور کوي او روښا یې تېروي
نو هغه وخت چې ډېره واوره اوري او یا ډېر ساړه وي نو مېرمنې دوې
دوې نوالي د یوې اوښې ته ور کوي او چې ډېر ساړه نه وي او واوره نه
اوري نو مېرمنې د خپلو اوښانو ته یوه یوه نوا له ورکوي او هغه
واړه څوڅان هم په اخور کې ور اچوي نو دغه اوښان هغه واړه څوڅان
چې په اخورو کې ور د لیډلی وي او هغه څوڅان خوري که په ژمي کې
یو درندشی په واوره کې له یوه کلي څخه و بل کلي ته ولاړ کېږي،
نو دا چې اوښان په واوره کې ښه ځي او هغه درو ندشي و ځای ته رسوي.

## داوښانو داوړي د څرطرزونه

دکلو او ښپانه خپل خپل اوښان په یوه ورځ کې یو ساعت په
سارمه کې بیائي یوه ورځ یې په څوڅانو کې پیائي داوښانو د څړ له
ځایو څخه څه لیري په کېیوځه مځکه مړه کړي چې د غه مړه مځکه
یوټې سي نو اوښان چې د غرمې خواسي او اوښان هم چې په څوڅانو ماړه
سي نو په دغه وخت کې د اوښانو یوټول لوی لوی مچان دي چې په غرمه کې
اوښان پرشا بانډې وخوري نو اوښان ورځې ته نه پریږدي او دغه مچان
چې اوښان پرشا یا مزغو بانډې وخوري نو اوښان ډېر نا توانه سي په منډه

و هغه پوهه ته ځانونه ورسوی او هلته رغړی تر څو چې بوټه ښه سی نو
بیا د څو ځانو د خوړلو و ځایو ته ځانونه ورسوی بیا و ار د هغه نو د و
اوښانو سی چې ګوډ کی له دغو مچانو څخه اوښان ډېر اذیږی او دغه
مچان چې اوښان پر شاو خوا خوړی نو د اوښانو هغه ځایونه ډېر پړسېږی
او منډې وهی نو اوښپانه هم له دوی سره ډېر پرېښنګه سی چې له لوی
بلې خوا څخه یې سره راګرزوی واو ښپڼو ته خو له کږدیو څخه
ډوډۍ راوړی نو اوښپانه هغو ته وائی چې داو ښانو د څښتانو
ته ووایاست چې اوښان د مچانو له لاسه څړنه کوی او ټوله ورځ
منډې وهی او ډنګر هم شول داو ښانو څښتنان چې د خپلو اوښپڼو
دا خبری واوری نو ژر تر ژره تش ټیمان منده کړی او هر څوک
و بازار و ته ولاړشی او د خپلو اوښانو دپاره د خپلو او ښانو په اندازه
سره «زرنې» واخلی او په هغو خالی ټیمانو کی یې واچوی او هرچا
د خپلو اوښانو په اندازه یې په خپلو کورو کی کېږدی بیا نو هغه
مشر چې داوښانو ګلې یې پر نامه وی نو هغه د خپلو اوښپڼو نه احوال
واستوی چې ګلې و کورو ته راولی چې په مچانو موږ خوړلی نو او
ښپڼانه یې مازیګر خپلې ګلې د کږدیو ته ور ولی په دغه وخت کی

د کور واړه او غټ چې دغه نر اوښان او اوښې چې یې پر نامه وی نو
هر څوک پر هغو باندی ګروی او نازوی یې او د کورو مشران هغو
د «زرنو ټیمان پراور باندی کیږدی چې زرنه تاوده سی نو بیا
بیا اوښ راولی او خیکوی یې او دغه «زرنې» په لاسو کی راواخلی

او د اوښانو مزغی او شاوی تتی یې په غوړوی نو هر اوښ چې په زرنو
غوړ دی او له غوړېدلو څخه خلاصېږی نو هغه اوښ و ګلې ته منډې
وهی او ځی بیا بل اوښ په دغه توګه سره غوړوی نو د څه د پاره
و بیدیا ته هغه غوړ سوی اوښان ولاړ سی او څړ کوی نو مچان چې
پر اوښانو کینی هغه مچان په زرنو پوری ونښلی او هلته مړه سی

اوداهم باید ووایو چې دغه «زرۀ» بدبوي هم لري نو پر غوماشو اومچانو چې د زرۀ بوي ولګېږي نو لمړي خومچان اوغوماشې اوښانو ته نه ورنژدې کېږي دغه اوښان چې په زرۀ غوړه سوي دي دغه اوښان چې پر هغه بوټي باندې ورغړي نو ددې خو په زرۀ غوړه سوي او نو هغه بوټي بوري ونښلي او بوري کلک سي بیا هم دمچانو اوغوماشو خولې داوښ ته نه جوړېږي چه اوښ وخوري نو اوښان هم په ډاډه زړه سره بوټي خوري او ودههم په کوي او اوښپانه بې هم آرام وي چې اوښان خپل ځېر کوي او منډې نه وهي چې ډېرې ګلې او اوښان په ځېرځېرکي سره لېري سي نو او ښپه پربوه لوي اوښ سپورسي اودهې نارې پسې وهي خپلې ګلې اوښان سره راټولوي اوځېنې هغه لوي اوښان چې مست وي نو پر اوښو باندې بورته کېږي په دغه وخت کې که اوښپه ورسي نو هغه مست اوښان يې خوري او پاباندې چر کېږي ترڅو چې شپه مه کړي نو اوښپانه د اوښانو ځلان پر خپلو ځانو باندې واچوي چې اوښان يې نه پېژني نو دغه مست اوښ دري ځلور اوښپانه په مابېن کې سره راګرزوي او ډېرېږي ودهې او که اوښ دغه خپل اوښپه چپ دي بې وهلي وي نو که هر وخت يې وار پر برابرسي دغه اوښپه ترسخې لاندي کوي او وژني .

## پاکړه او هوټی اوښ

هغه پونده چې ښې رمې او داوښانو ګلې او دورو «اوله» دمږانو رمه هم بېله ولري نو دغه پونده بوبو داسې ډېرچا بك «اوټی» اوښ ساتي چې پر هغه اوښ باندې خپل هغه څټکې كار و نه كوي او يا دا چې هلكان اوښځی يې دکړو بوده ګان هېيوي دغه دکا له مشر سره له خپلی سپین سری موري اويا بل ناروغ اويا بې ښځه وی له دغه مشره سره پرهوټی باندی داسې سر پرېږي پاکړه له ار کو ځخه



ACKU

جوړېږي او دري ځایه د درو کسانو ځای په پاکړه کي جوړ وي
نو که په مزله ځي نو هغه مشرو پاکړې په لمړۍ خانه کې ناست وي
او نور د خپل کور څوك بې د پاکړې په نورو دوځایو کې کېني نو
چې کله یې لېږي او ښه ډېر ولاړه سي بیانو دغه مشر خپل ملګري
په پاکړه کښې کېنوي او چې ډېر کرار کرار هم ځي خو تر کله
تېرسي او هغه نوی مېنې ته ځان ورسوی چې کله ورسي نو هلته واړه وي
هغه د کډو ښځې لمړی تر هر څه د مېلمنو خېمه ودروي نو دغه مشر او
د کور واړه هلکان په هغه خېمه کې ناست وي تر څو چې ښځې او به
لرګي څخه راوړي بیانو ډوډۍ تیاره کړي که مېلمه وي او که
نه وي خو دغه د کور مشر هلته هغه د مېلمنو په خېمه کې ډوډۍ خوري
دا ځکه چه اوښانه او شپانه او لېږبانه ورسره ناست وي او چې دغه
د هر کور مشران چې د یوی خواته ځي نو بې ښځې دده هوډۍ داسې
«کلې ټې» د هوډۍ یو مهار وي او بل بې اوسار دی چې دغه اوسار بې
ډول «وډۍ» او د اوسار پر پلنو، ډوبو باندې د کوروښځو زرتار او د زرتارو
تاویزان او نوری ژوندۍ بې هم په ډېر خیال سره باندې ګنډلي وي
او په غېر ګو مهار د پوړی بې لوی لوی وډۍ چې رنګونه بې سره ژېړ
تور او سپین وي په مهار و کې بې اچوي او د پاکړې پر یوه او بل
لوری بې واړه ؛ واړه د ګلمو ښه ښه ډولي رنګولي ګېډۍ اچولي
و د اچولي پر ګېډۍ باندې بې ډول ډول ددانو او وړه وړه و آهینو
ځایو پکې کېندي او د پاکړې په لرګي بې هم ښه او په زړه پوری
شیان ور ایښې وي تر چې د پاکړې کار او نوی چکن بې پای ته ورسېږي
بیانو وار د اوښ د شادور نوسي چې دغه ورته نو نه بې هم په ښو ښو
اټلسو چکن سوۍ په خپل، خپل هوډۍ او ښانو ځوړند کړی وي او
د هوډۍ او ښ لکه هم چې یو ښه ښایسته کوڼدۍ بې هم ورته جوړ کړی
وي او هلته بې تړلي وي او د اوښ په غاړه بې اټلس اغوستي وي، او په
غاړه بې یو لوی وډۍ ور ځوړند کړی وي او دوډۍ په ماېن کې بې یوه

دسپینو زرو کوبه هم ورا ښځې وی او داوښ به ښځو کې یې دزنګو لو تو کونه ورته لی وی نو ښځتن چې دخپل هوټې دبا کړی به لمړی خانه کې یې ای او یوه لیرې ځای ته چې نو دخپل هوټی مهار ورټینګ کړی نو هوټی هم هغو نه چابک ځې هوټې چې لمړی پلا ولاړ بڼ ی نو ښځتن یې مهار ورټینګ کړی نو هوټی خپل سر د خپل ښځتن به غیږ کې کیږدی نو لکه بادی اوښ چې یې بولی هغسې تنګ اړی او ځی چې خپل ښځتن وهغه لیرې ځایو ته ژر رسوی او ډیر ښایسته هم او پر ښځتنانو باندې هم ډیر ګران وی .

## ؤر اوړ

پونده چې اوړه ی دیوه غره په لمنه کې تیر کړی نو دوی خود منی په وختو کې خپل ، خپل ځینې مزان خرڅ کړی اودژمی دپاره اړه او ځینې نورشیان واخلی اودخپلو اوښانو دپاره اوربشې هم وا خلی نو دغسې لوی کورونه دخپلی لو کږ دې پر ځنګ چې څوک ډیر غریب وی او څه نلری نو خپل څپر کی وړوی نو که ما ښام دغې کږ دې څه لنده ډوډۍ زیاته سی او یا دڅپر کی ښځتنان لهدوی سره دو ی دلیږ دو په وختو کې مرسته وکړی نو دلوی کږ دی ښځتنان یو څه زاړه کالی او ډوډۍ ور کوی او که دلو کږ دې څه هم سی هم یو څه غوښې ور کوی په دغه وختو کې نو پونده د اوړه ی له مینو څخه دژمی د مینو پر لور باندې رهی کیږی نو داچې دوی خودډول ژمی خرڅې یې پوره کړی وی نو ددوی دکډو بوده او وښان خو ازوی ادداوړه ی اداوړه اندی او ربشې ډیری وی نو پونده څه چم دهغو دڅپر کی د کور په مرسته پوازی اوښان په شپه بار کړی پر هغه کې چې دوی پر اړه دوی هلته هغه کښته کړی بیا خپل ، خپل اوښان و یا نه کور ته راولی چې اوښان په او سا سی نو چې لمر ښه لوړ راسی بیا هغه نور کور بار کړی وهغه نور وړل سوځ کالو ته ځانونه او یاتې کور ورورسوی او په دغه ډول دوی دغه خپلی درنې کډی تر ځایو پوری رسوی .

## چې دوه کوچیان سره ملګري سي

چې دوه پوندې سره ملګري سي او یو لیری ځای ته سره ځي نو که یو د دوی ناندی او بل د دښتې ور پسې ځي نو هغه لمړی پوندې خو د ډیرا اندی دی چې لاری دوی سي نو دغه لمړی پوندې هغه خپل ملګري پوهه کوي چې پر دغه لاري مه راځه او پر دغه لار راځه نو د لاري له شا او خوا ځغه بوټي او ځل د اقول کړی نو پر هغه لاری چې نه غواړي چې دده ملګری د لاړه سي نو په هغه لار کی خلی قطار یودی چې هغه لار بنده سي او په بله لاری کی د لاری په اوږدو سره د بوټو خلي او یو د کیږدي دده مقصد دا وي چې په خلو بنده سوي دي پر هغه لاري مه راځه او په هغه بله لاري کي چې خلي په اوږدو سره پښودل شوي دالي چې پر دغه لار راقطار سه او راځه دغه کوچي او رهي سي او خپل مزله ته ځان رسوي او هغه بل چې دده ملګري چې راسي نو ګوري چې زما ملګري به پر کمه لار تللی وي چې د خلو ته بې فکرسي نو پر بنده سوي لاري نه ځي او هغه د خلو پر لار چې په اوږدو سره پښودل سوي دي رهي سي او خپل ملګري پسې ورسي.



یوه کوچۍ نجلۍ د خپل ژوندون د تامین په خاطر د خپلو میږانو سره میښه بنائی چه د کوچیانو د ژوندیو الهٔ خ تمثیلوی .

## د کوچیانو د لاندي حلالول

چې ټول کوچیان د غرو له لمنو څخه د کندهار د ډوډې پر یوه بله غاړه باندې دا ډې دي نو هغه بیای کوروته لاندې حلالول نو د لاندېو د حلالولو په ورځ یو بل ته ورپسې بل هم حلال کړی هغه د «څپر کو» د کورونو او ښځې یې کارونه کوي او ژړونه یې ښه وي په دغه وخت کې د لو کږدې څښتن د «څپر کی» کورو پر څښتانو ډېرغ وکړي چې زه خو ان خپله نوې کږدې پوځوم نو له ماسره کومک او مرسته وکړي د کږدې مراندې ته په مځکه کې شیلې جوړې کړي او په هغو شیلو کې د کږدیو د مراندو مږدې ټکوهي بیا نو هغو مراندو خټې واچوي او ټې یې کړي نو د کږدې ترشا او څنګو یو متر دیوال ورسره لوړ کړي نو د ژمي کږدې بولي او بیا نو چې ماښام سي نو هغه لاندې خو لاندې دي او هغه سپکې مږې چې یې حلال کړي وي او د خپلو نږدې کورو خپل خپلوان او د هغو غریبو کورو د «څپر کو» څښتنان او ښځې یې وخپلو کورو ته وبولي او ورته ووایي چې موږ خو ان لاندې حلال کړي او تاسو راوغوښتلاست او میلمانه مي کړاست د ماړه سړي ښځه خپل میړه ته ووایي چې دوی خو به دې میلمستیا غاړه نیسي او ووایي که د میلمستیا د لاندې وي نو موږ اشرڅه سوال که اشري نو د لاندې میلمستیا مې څه سوله بیا نو د لو کږدې څښتن ووایي رښتیا هم دا د ه چې یوه بله میلمستیا د دوی پر ما باندې ده او ور کوم به یې چې دغه د کږدیو د ټولو کارونه پای ته ورسېږي نو کوچیان په خپلو رمو کې ګرزي که یې په رمو کې ډنګري میږي وي هغه راجلا کوي هم دغه رنګه د وچو میږانو په رمو کې د ګورې که څینې وچ پسونه او ډنګر وي هغه هم جلا کړي بیا دغه پونده د ورو په رمو کې هم ګوري د ورو ډنګر پسونه هم راجلا کړي نو هغه او بشې چې په «اروړ» یې راوډي وي هغه او بشې او له ښار خوا څا یو څخه یو څه رشقې هم واخلي نو په سپړ و سپو کې یې د خپلو ډنګرو پسونه ته ورکوي .

## د ګل هټ نه د مېږو او رمو بیول

په دغه وخت کې چې کوچیان د خپلو کورو له کاره څخه خلاص سي
او دوی د خپلو رمو خوړی برابر کړی او چه تکړه ، تکړه شپانه
مونده کړی . او بیو چه غټ زی او به اداورده برېوه دا مې پر خره
بسا ندی ور بار کړی او د مېږو د رمو شپه بېل دی او د مږ انو او د چېلو
شپانه بېل دی او د . ېڅه بېل دی او شپانه له کوره څخه خپلی رمی ور موی در یکو
په مابین کې د ګل هټ پر لوری رهی سی . په ګل هټ کې چې رمی څړ کوی
د احکه چې په ګل هټ کې ډول ریګه دی خاوره نسته او په ژمی
او باران وسی په هغه ګل هټ کې یو ډول بوټی دی چې «خرونډ ک» بې
بولی دغه بوټی چې مېږی خوری او مېږی دېری په چاغېږی او هغه بوټی
له ابو هم ډک دی چې مېږی هیڅ او به هم نه غواړی او په ګل هټ کې
او به هم نسته او په دغه صورت کې د شپنو چې هغه بویوزی او به تمامی
سی او شپانه له تندی سره مخامخ سی د رمو د څښتنانو ته د شپنو د تندی
آخری اندازه معلومه دی او هره شپه بویوزی او په د لیږی
او شپه له تندی نه مری خو د شپنو ستر ګی په آسمان کږدی که د آسمان له
خوا باران وسی نو هغه واښه چې خړونډ که بې بولی هغه ډېر سی مېږی
مړ ی او او په سی شپانه ځینی بیغمه دی او د دوی خپل څړ کوی . په
ګل هټ کې یو ډول ځناوران سته .
چې کوډ بلې دی چې د غه کاډه بلان د ګل هټ په ریګو کې ډېر دی
نو که شپه لمونځ کوی په دغه وخت کې کاډه بلان په رمو ګډسی
او مېږی پر ملا وُ ماتوی او خوړی بې او ځینی کاډه بلان چې شپه
ویده شی نو دوی بې پر مخ ویده سی او تر هغو پوری نه ځنی لېری کېږی
ترڅو چه هغه شپه مړ نه کړی او که شپی درمې سپی ولری او هغه
کاډه بلان لېری ځنی کړی او دوی د رمو له سپو څخه ډېر ډېرېږی.

---

(۱) ګل هټ په کندهار پوری مربوط په ریګو کی یو ی ځای دی.

## د پوندو مچلو غزی

شپانه مچلو غزی د اوښانو له وړیو څخه په دا توګه جوړوی چې دغه د اوښانو وړیه ښې ومښځی نو بیا د کوړو ښځی پر څرخکی باندی پوری کړی چې ښې نری یې ووریسی بیایې نو دا غونډی وروسته له اغوښتو څخه وروسته‌د یوه لاس اندازه یې ؤ ویی‌په یوه بل سرکی یې یوه یوه ګوته چې په ښوزی دو ته ځایوله «دغونډیو» په نامه‌ځایو ورته جوړه کړی وی بیا یې نو لس ، لس ښنی په دغه «غونډیو» کی ور داچوی دواړو خوا کونډی چې ښوندوازی او په دا توګه اودل کېږی د یوی خوا کونډی چې اوږدی او تر پایه ورسېږی نو په هغه سر د کونډی د منځ د ګوتی د ګوتی ځای جوړ کړی بیا یې دا بله خوا یې دغونډیوارو کونډی واوړی چې دغه کونډی هم پای ته ورسېږی نو دغه کونډی په پای کی یو څه دوز ووزغنی هم ورسره ګډی کړی نو دغه سر یې نری او ډېر ټینګ ؤ وړی. نو شپه چې هغه دیوی خوا غونډیاسه په خپله دمنځ په ګوته کیباسی پسه مچلوغزه کی ډېر ه کیږدی نو د یوه لوری خو هغه غونډیاسه دشپانه‌د منځ په ګوته کی اچولې وی اودا بلی خوا ښری کونډی یې هم په دغو دردو دؤ ګوتو کی ټینګی نیولی وی نو که درمې مخـه ودې بلی خواته را ګرزوی درمې له مخی سره ډېره غوزاده کړی درمې مخه را و ګرزوی او یا دا چې درمې مخکښ چې هغه لوی‌اوښ کړی دی هغه دمچلو غزی په ډېره دولی نو هغه مخکښ چې پر هره خوا چی رمه ټوله ورپسی ځی چې شپانه دغه مچلو غزی ولری نو لکه یو ؤړ هلك چې ورسره وی‌شپانه لاس په خلاص وی او ډېر کاروته‌په مچلو غزی کوی :

## د کوچیانو دښځو ستن او سپنسی

دا چی کوچیان تل په‌غرد کی اوسېږی نو ستن‌سپنسی دوی ته

لري نو که د کوچیانو ښځې له غره څخه ښه ښه چاروګان ، او -
« خوږه ولې » چې د ټوخکي د پاره ښه ده او مولائي چې دچاینو
ځای ډېر او کلو کلو خوږېږي دهغه دپاره دغه مولائي ښه ده بل
کوري دي چې دا هم د ځان دد‌رد پاره ښه دي بل هغه دزړ الکو کښې
چې ډېر ښه کښې دي او د ځائي خلکو ښځې خپل دسر د وېښتان پـه
اوبو او دغه کښې و ته دهر څه دپاره دځائي کلو ښځې اړتیا ورته
لري نو کـوچیان چې دمني په وختو کې چې له غره څخه راکښته
شي او دځاینو کلیو په مابین کې چې تېرېږي نو د کوچیانو ښځې
ورځي او په ځائي کلیو کې ګرزي او دخپل وړ اړتیا وي هغه د
غره په بوټو چې ډېرې ډېرې فایدې لري اخلي او هغه ځائي ښځو
ته د کوچیانو د ښځو دغه شیان ډېر په کار ورځي او په ژمي کې کار
ځینې اخلي .

## د کوچیانو دښځو دوړو هلکانو ګنډلونه

دکوچیانو هلکان د خپلو منډو ته ژاړي او وائي چې موږ
هیڅ ګنډونه نه لرو او بل زموږ دخیال شیان هم نه لرو نو دا چې د
د کوچیانو ښځې خو درمو له کاره څخه د خپلو هلکانو وګنډلو او
چکن ته وخت وله نه لري نو دخپلو کو ر د د ریو له ورګو څخه پنځه
یا شپږ ورګوته او د کور له ترنو څخه هم دوه یا دری منه بیل کړي
بیانو چې دځائي کلو د ښځو ته ورشي ورته وائي چې زموږ کار
خو د ولاړ ودي چې ټوله ورځ یاد کېږدیو له مرانه او یا له ځالکرو
پـویاله او ښاتو یاله لنګو میږد سره منجوت یو دګنډو جوړ او ته
وخت نه لرو نو اوس را اخلي یو چې که تاسو دوړو هلکانو یا غټـو
ځوانانو د پاره ګنډونه ولري او یا دا چې که زموږ دپاره ګړیو
نو نه لري نو موږ به یې په مناسبه بیه در څخه واخلو ځائي ښځـي
وائي چې دموږ ته چا وربښم ندي را اخستي خو بیا هم موږ چې څه

پېښه مونږ ليده هغه مو پر وريښمو ورکېدي بيا مو هغه وريښم مږي
کېږلی او دژمي په لويو شپو کي مو په هغو وريښمو گنډلو ته او
گرېوانونه جوړ کېدي اوس نو راځه چې سودا سره وکړو بيانو
ځالي ښځي خپل ښه ښه گنډونه چې دوي دژمي په اوږدو شپو کي
جوړ کېدي د کوچيانو وښځو ته يې را واخلي او د کوچيانو له
ښځو سره خو د خپلو وړو اندازه ور سره وي نو په هغه اندازه سره
و خپلو هلکانو ته گنډونه ور واخلي نو چې سړی يې دمالو دخرڅو-
لو د پاره د بازار د ته ځي نو ښځي د هلکانو د کتانو او نورو
ټکرانو دراوړلو پر مايش ور کړي چې سړي ته

يې کتانونه ورته راوړي نو يې کوچۍ ښځي پر خپلو هلکانو کالي وايسي نو
هغه کميسونه يې ترڅنگ کړي نو دغه دځالي ښځو ته يې ورکړي او
ورته ووائي چې دغه جان خو پرما باندې ډېر گران دی دده کالي به په
بندکو او کڅږو بخيو به يې راته گنډې نو ددغو بخيو په بدل کي به زه چې
ته ورته ډېره اړتيا لرې درکړم بلکه داچې زما ځوان زوی گنډې چې
له تا څخه مې اخيستې دي په ډېر خيال سره ورجوړه وي دا ځکه چې زما
ددغه زوی کوژده هم نژدې ده نو چې دغسې گنډ او کالي يې نه وي
نو شرم دی د کوچيانو ښځي دخپلو وړو هلکانو کالي په ډېر خيال په
خپلو قرتو اوږدو پو سره جوړ کړي .

## دکوچيانو دلڼوودول

هغه وخت چې يو کوچی اجلي پيغله سي او دکډو د بار د لو او
داوښانو د کونډه کولو اود کډو دېږولو او دکږديو ددرولو
دټولو کارو تمامه سي او پرټولو کاروېې لاس لوړ سي نو دغسې پيغلې
دوادوونه کېږي او پلرونه يې هم په ډاډه زړه وسره وميږي وته ورکوي او
دکارو په نسبت يې له خپلو لونو څخه زړونه بې غمه وي چه دهلک له
کورڅخه ددغسې اجنو وپلرونه په مرکه ورځي او ورته وائي چې دلور

پلاره موږ چای خواړه نو د لور مور او پلار د پوهیږي چې د لور مړ که
مور، او له موږ لور غواړي نو د لور مور او پلار خپل و یل سره د کیږي
که یې خوښه وه او خپله لور یې ور کوله نو خوږ چای ور کوي او مړ کې
ته یې ور وړي که یې خوښه نه وه نو چای خو تریخ او هغه هم په تروه تندي
ور کوي نو مړ که و پوهیږي چې د لور هو کې نه را کوي او که هیڅ خلک
د مړ کې په دغسې وضعیت و نه پوهیږي نو د لور د پلار ته وواي چې موږ
مړ که خوسته د لور د هو کې د پاره راغلي یو د لور پلار ته ولي داسې
«بې سکه» پ اوښي خبري ته کوي د لور پلار د مړ کې په هواب
کې وواي چې د جاني زما د لور هو کې بې در کړ یوای خو دا چې زما
لور و ړه ده اوزه یې دا هو کا له نه ور کوم د لور پلار دا هم وواي
چې زه او تا دی ژوندي یو چې زه خپله لور دور کوم نو تا ته به احوال در و کړم



یوه کوچۍ پېغله په داسې حال کې لیدله کېږي چې
د کلي په وخت کې خپل اوښان له یوځای څخه بل ځای
ته د تللو په حال کې دي، د کوچیانو د ژوندیو بل اړخ ترسیموي.

وهغو چاته چې د نجلۍ د مور او پلار خوښه دی او خپله لور ورکوي او
څو وخته وروسته هغه د خوښې د سړي ته احوال ورولېږي او د هلک پلار
د خپل کور ته د غوا لېږدي ورته وړاندې چې ور ورځ اوس لازم او ته د واده
ژوندي يو نو دا چې يو څو داز موږ او ستاسو د ژمي ميږ دي او رمې مو
وکلهيږ ته تللي دي او نور داسې ضروري کارونه هم نه لرو او دغه هم
لوی کار دی بنائي چې له مخې يې د بيا سو بله دا چې
زما لور د يو ه ښه ملا تړلي سړي په سر کار کوي چې اوس ما او زما
د کور نورو خلکو د کور په کارو لاس نه دی پوري کړي قول کار
مودا کوي او دا چې ستا هم ښه او زحمت کش زوی دی نو که دې خوښه
وي دوستي به سره وکړو د هلک پلار ووايي ورو ره ډېر ښه او په
زړه پوري مهرباني دو کړه له خو دا چې هغه پلار چې د نجلۍ مهر دی که
زما ملا ماته نه کړي او زه يې يو لاى سم او دغه بار مې ملا را ماته نه
کړي بيا نو د نجلۍ پلار د هلک د پلار ته ووايي ور وره زما او زما
د لور او زما د ښځې که خوښه نه وای نو ته به ولي را غوښتلی چې راو
مو غوښتلي اوس به نو د خلکو مروج «د لور در څخه و اخلم» د هلک
پلار ووايي ورو ره پوهېږه خو نغدي پيسې نلري او که يې وهم لري
خو په ولور کې يوازې «ژوندي» ور کوي نو زه هم چې څه نغدي
پيسې لرم په هغو پيسو به هغه ددود او بايده شيان چې له بازاره څخه
اخستل کېږي وا خلم او د ولور څخه به په ژوندي وگرزوم د هلک
پلار دا هم ووايي چې اوس او د قول د لور اندازه راو ته که بيا نو
د لور پلار ووايي چې ما خو به له تا څخه هيڅ دلور نوای هو ښتلی
دولور پيسې اوس دونه مروجې سوېدي که دوه کسان دوستي سره
وکړي نو لور خلکه پوښتنه کوي که هغه سړي خپله لور وده يا ور
کړ يوې نو خلکه سره ووايي چې دغه نجلۍ ښه نجلۍ نه وه او يا دا چې
ډېره بيکاره وه چې وده يا يې ورکړه يده نو زه څکه دولور د پيسو په

اخستلو کې ټینګه، ټینګه کېږم د نجلۍ پلار ورو سره له ډېر و خپر و څخه
د هلکه و پلار ته ووائي چې زما د لور د لور «سل میږې» او شل ز ره
روپۍ چې به د غو سلو میږو کې د دې ډ وله میږې د ر څخه غوا ړم چې
د یرش میږې بې «ګېډ» غاښه چې د غو ګېډ د غا ښه میږ و ته کوچیان
هغه وخت ووائي چې نه زړې وي او نه ځوانې وي او د یرش بې بې غاښه
میږې د دې چې د بې غو ښه میږې کوچیان هغه زړې میږې بولي او
نورې د یرش میږې «پشیر لې» او «دوشیر لې» دي چې د غه نو لې
لوی پېسو له سې نو ر لس پسو نه مزان غواړم چې ټول یو سل پسو نه سې
او هغه پو ر ته شل زره افغانۍ خو دستنې او سپېنسی د پاره د ر څخه غواړم
د هلکه پلار ووائي چې زما خو ښه ده خو دو نه د ر ته وایم چې د د لور
دور کېږې په بای کې بیازه او زما مړه که سر د ر ته ګرځو او څه د لور
رابرېږدې په دغه وخت کې د نجلۍ مور هغو کېږې او وائي چې د لور
دود او بایده خو زما برغانه دې نو ښائي چې زه د خپلې لور هغه شیان
چې زه یې سره برابر کړم نو هغه وخت به یې
و ګورې د لور مور د و الې چې د غه شل زره
افغانۍ چې نغدې زما د ګرانې لورد لوردی هغه پسې یوازې په ما
اړه لري داځکه چې زه به د لورتک او توک په پوره کوم. بیانو د هلک
پلار هغ د کړی چې هو کی را کړی په دغه وخت کې د نجلۍ پلار و
خپلې ښځې ته ووائي چې ته ورسه او له نجلۍ څخه پوښتنه وکړه چې د غه
هلک یې خوښ دی که یه د نجلۍ مور د خپلې لور ته ورسي او ورته ووائي
چې زما ګرانې لورې که ستا له دغه هلک سره دواده کول خوښه وي نو
په مونږ هو کې ورکړو او که ستا خوښه نه وي نو مونږ به د هلکه پلار
ته ځواب ورکړو د نجلۍ چې خوښه وي نو ووائي چې ستاسو خوښه ده
نو زما هم خوښه ده نو د نجلۍ مور د خپلې لور ته ووائي چې ز و یه ته هم
راځه د خپل هو کې د ډ ډ یو او نورو کارونه به یې له ماسره کوې چې

ته کار کوی نو پلار بدی وو یني نو دده په زړه به دې ډاډه سي چې
چا ته خو د خپل هو کې کار په خپله کوی نو که یې خوښه ته وای نو کار به
یې هم نه کولای بیا نو د هو کې د پاره د لور پلار یو لوی مېږ حلال کړی
او د لور د کاکا او نورو انز د یوړ د کورنی ښځې او بولی هغه خپل کار د ته
او ډوډی او یو ه په ټاپن لوی ښځه واسنوی یو ځه میوه چې د دوی په
کوچیانو کی رواج لری هغه توت دی دغه توت راوړي ملا په دغه
د لور خبر کړی نو یې د کلی ټول کوچیان د خپل کور ته بللی دي
چې ورغلی خلک ډوډی وخوری نو د کلی مشران د لور د پلار ته مخ
واړوی او په خندا ورته ووایی چې له جان سره خودی دوستی وکړله
خدای دی ښه کړی د لور پلار ووایی چې لور نوره کټو ده نوزه ډېر
خوښ یم دی یم چې زما د لور هو کې په ټېر لی ټنی د جان کاکا وز وی ته
ور کوم او زما په دغه لور دی سل آفرین وی چې زه یې ټیټی سترګی نه
کړم نو زه هم که د دی پلار یم دا په دې په واده ښه و کلی یم چې د
نجلۍ پلار دغه وېل د خپل لور په باره کی وکړی نو وخت د ډوډۍ سی
او ټول خلک ډوډی وخوری او ملا دغه دوعا وکړی بیا نو د لور پلار
پر خپله ښځه بږغ وکړی او ووایی چې موږ خو ډوډی وخوړله او د
نجلۍ مور چې د کال په اوږدو کی د خپل لور د هو کې دسمال په ډېره
ښه توګه چکن او په دسماله په سر پوری چې شا دخوا د سمال سره چڼل
سوی وی او یو ه لو یه د سپینو ذرو کو په یی په سر کی وی تر دغه کو په یو
ښه پنډه سپن سی ورا باسی چې دغه سپین سی په ستن پېلی وی د دسماله
په څلورو پلوو پوری غنم او داره بشی او بچی چې ډول ډول رنګونه یی ور کړی
وی ور څو په ته کړی وی نو د لور مور یو لوی تال له میوی څخه ډک
کړی او هغه د هو کې ښکلی دسمال یی په هغه د میوی پر تال باندی
وېی کړی نو دغه تال د خپلو انو ښځو ته په
ما بین کی کیږدی نو د لور مور بږغ وکړی چې د جانی د هو کې د سما ا.

خو همغو لیرو کړ دیوته ځي او تاسو چې ددې نجلۍ د کاکا ښځې پاست
او پایې دوردور ښځې پاست د جاني دسمال د کوډ ئې او هغه ښځې چې ډېرې
ور نږدې ځای او نه بولي او په دسمال له پوري پنځه سوه یا دوه سوه یا دري
سوه غوټه کړي او دلور مور صرف پنځه سوه افغانۍ په دسمال پورې غوټه
کړي او اوري پيسې ټولي په خپله واخلي او تال ورورډې او دلور د پلار
په مخ کې یې کیږدي دلور پلار گوري که یې مشر ورور په دغه مجلس کې
وي او ولاړ سي او هغه تال د خپل مشر وار په مخ کې کیږدي هغه دسمال
تر هغه دستني ترسپړي نيولي او دملک د پلار په سر کې یې ور کیږدي بیا نو
ورته ناست کسان ټول دملک او پلار ته مبارکي ور کړي او ورته ووائي
چې دغه ښه دوستي مو مبارک سه او له خدای «ج» څخه مو تر پایه پورې
دغسې خوشبختي غواړم هرسړی پر خپل وار دغه مبارکي ور کوي دملک
پلار یې په ځواب کې وائي چې ما خو د خپل زوی ښادي په ژوندو لیدله
او له خدای څخه ستاسو دغسې ښادي او د ارمنو خوښي مو غواړم او دلور
پلار او د ناستو کسانو پښې ورسمې کړي بیا نو د زوی پلار دا ولاړ سي
او د خپل ور سره توپک خوله پورته و نیسي او ټک وکړي نو دلور مور په
یوه لویه کاسه کې ډېری او یه واچوي او دملک په پلار پسې یې و باشي
نو دملک پلار چې و خپلو کږدیو ته ور ښکاره سي نو بیا هم یو دتوپک
ټک وکړي د ملک مور ژرترژره د خپلې کږدۍ په مابین کې کالي
و یې کړي او د ا خوږې لا پخوا تردې سره سمې کړي وي نو دملک
مور یوه بدنۍ له او بو څخه ډکه کړي او په منډه د خپل میړه ومخې ته
ورسي او دغه او به پر خپل میړه باندي و باشي او دا و خپل میړه ته ووائي
چې مرغ دې را پورې ښه سي او د جان پلاره مبارک دې سه ددي میړه هم
وخاندي او ورائي چې کوزده خو مو وکړله که دلور په ښه توگه سره
ور کړ و بیا دملک مور و خپل میړه ته ووائي چې ښه خوښي را غلي یې او که
څنگه میړه یې د ژ ډېره ډېر کړي نو دملک مور د خپل کور ته ورسي

او پر هغو ورو سلو ښځو باندې بوغ وکړي چې زما د جان دغو کې
دسمال یې راوړی دی او تاسو که ناسټي یاست دا نو ولې دا وروغ دخوښۍ
ده نو یو ښه اتڼ راته واچوئ چې د مور او پلار زړونه یې په دغه ښادي سره
ساړه سي بیا نو د شاوخوا د کږ د یو ښځې ښه اتڼ واچوي چې د دوی دا ټغو
یوه نمونه به په لاندې ټول سره د ښود له سي او بیا به د دوی د ناریتوو
دا ټغو یوه نمونه وښیو .

## د پوندو د ښځو سوړ اتڼ

زمو به پر کږ د یو گل دی غوړېدلی
ماویل اوردی اوردی صاحب جانه غازی جنگ پر لاهور دی.
دد ښمن پر کږ دی د یر دی غوړېدلی
ماویل اوردی اوردی صاحب جانه غازی جنگ پر لاهور دی.
کاغی مو که کښته که لو تکه اخله
ماویل اوردی اوردی صاحب جانه غازی جنگ پر لاهور دی.
دجان هو کی مو راوړ له زړه زانگه اخلی
ماویل اوردی اوردی صاحب جانه غازی جنگ پر لاهور دی.
پر ملا نری پر او به و کوږ انگی
ماول اوردی اوردی صاحب جانه غازی جنگ پر لاهور دی.
چې له کو دره را ختې د نڅور دی کړمه
ماول اوردی اوردی صاحب جانه غازی جنگ پر لاهور دی.
موزی و هه په منگکی چخ کړه .
ماول اوردی اوردی صاحب جانه غازی جنگ پر لاهور دی.
پرتیو نه یې پر یده خوسکیان به په تې ونه
ماول اوردی اوردی صاحب جانه غازی جنگ پر لاهور دی .
پر کدر گڼي وني کېده
ماول اوردی اوردی صاحب جانه غازی جنگ پر لاهور دی.

د سترګو تورمې یې لا لیه
ماول اوردې اوردې صاحب جانه غازي جنګ پر لاهور دی.
د سترګو تور چې لیري کړم ډاډه به سمه
ماول اوردې اوردې صاحب غازي جنګ پر لاهور دی.
که به مې یو ساعت هیریږې
ماول اوردې اوردې صاحب جانه غازي جنګ پر لاهور دی.
زما د هیر شي دا د یلي کتنا بوله.

چې د پوندو د ښځو سودا اتڼ پای ته ورسیږي بیا نو د دې ښځو تود اتڼ په دا وډه اجرا کیږي چې اوس به یې د تاوده اتڼ یوه نمونه وښودله شي.

## د ښځو تود اتڼ

د یارې حال ما ته معلوم دی ای
ډنګه ښکه په تجلی ولاړه د یار له عشقه
لکه میرزا ته چې معلوم دی دفتر د ته ای
ډنګه ښکه په دا تجلی ولاړه ده د یار له عشقه
زه د جانان پر کوڅو دا غلم ای
ډنګه ښکه دا تجلی ولاړه ده د یار له عشقه
جانان مې نه ژوبه ژړا عشقي را تلمه ای
ډنګه ښکه د انجلی و لاړه ده د یار له عشقه
مخ دې په سپین کې سور خې واګی ای
ډنګه ښکه د انجلی و لاړه د یار له عشقه
لکه خاصه چې پر ګلاب و غوړو نیه ای
ډنګه ښکه د انجلی ولاړه ده د یار له عشقه
سر دې پر سر و لستڼو کیده — ای
ډنګه ښکه د انجلی ولاړه ده د یار له عشقه
ته یې د سرو لستڼو د پرادمان کاونه ای
ډنګه ښکه دا تجلی و لاړه ده د یار له عشقه

ددوی پیغلې تور داتڼ چې په ډېر شوق سره یې وائي یو ځلمو ته به یې وښودله شی.

ګودر ته ولاړه سهٔ خالداری ای
لاس پر تور ټیکی راوړه خالونه انګریزی راوړه
په لاس کی راوړه دعاشقو سوی زړونه
ای لاس پر تور ټیکی راوړه ټیکټ می انګریزی راوړه
که یاری کړی کور را نزدی کړه
ای لاس پر تور ټیکی راوړه ټیکټ د انګریزی راوړه
که می غوا لښکه سوه شلومبې به درکومه ای
لاس پر تور ټیکی راوړه ټیکټ د انګریزی راوړه

په دغه وخت کی د کډیو ځوانان سره د ګودی او د هلکټ و پلار ته ورائي چې ښځې خو خپل اتڼونه وهي او موږ ډول هم نسو موږ ته لای نو دوئه مهربانی وکړه یو مږ ته وراغلو خلکو ته چې له ډاله سره زموږ کورو ته راغلي دي ور حلال کړه نو د ډمږ دودی او نو دی څه پیسی که خرڅيږی هغه هم په موږ د کلی په ځوانانو اچه لری د احکه چې دغه ستا زوی چې اوس یې دهو کی دود پر ځای کیږی هغه زموږ د ټولو کډیو د ځوانانو وروردی نو له موږ سره ښائی چې دده په تادان کی ګډون وکړو. بیانو د هلکټ پلار د کلی و هلکانو ته وائی چې تاسو چې د جان د هو کی په راوړلو خوښی پاست نو زه په هم د ډاله دراوستلو او د مږه د حلالولو اجازه درکړم او نور که تاسو ځوانانو څه مصرف وکړونو د هغه پیسی به هم درکوم خاطر جمع اوسی چی د هلکټ پلار د ټولو کډیو و ځوانانو ته ددوی د ډاله اجازه ورکړی نو ځوانان ټول خوښ سی او یو تکړه ځوان په ډم او ډاله پسې وائېږي چې هغه سړی رهی سی نودانور کسان ژر ژر ره په رمه پسی ولاړه سی له رمې څخه یو ښه چاغ مږ راولی او حلال یې کړی او په کټو کی یې واچوی او پوخ

بې کېږي چاى او داسې نور شيان سره پوره کېږي نو ځوانان څوك سروته
منځي او څوك خپل خپل د سرو ويښتان بې منځوي او هغه ښه ښه
دګنډو کالي اغوندي او ستر ګي تور وي او د دغه هلکه مور
چې د ټولو ځوانانو لکه مور داسې وي نو داوټولو ځوانانو ته
هرڅه برابروي دهو کي د ښځو هلك خور ګوري هغه غريبان
کوچيان چې چېري پراته وي دهغوي خوندي منډي او پلرونه يې ټول
راوغواړي نوداچې دغريبو کوچيانو خوکالي او داسې نور او
دسملونه ده وي چې په اتڼو کي يې اچوي نو دغه دهلکه خور چې دوي
يې راوستلي وي په خپل خور جنه کي وګوري که يې دوروريا د پلار
کالي وي هغه کالي وهغو دخپر کور ځوانانو ته ورکېږي او لکه
دانور ځوانان دغسي سروله ورغونډ کېږي نو اراوښځي ټول د ټ الله
ولاړي ته ګوري په دغه وخت دغه انجلي چې دغريبانو سره يې مرسته
کېږي وي وايي چې دغه دخپر کي ښځتانان خودم زمو ږ ورو ته دي
خوداچې دوي غريبان دي نو دا بيله خبره ده او ددوي زړونه خوهم
دغسې ښه کالي غواړي دغه پيغله داهم وايي چې ما خود لالاز ما
ورور اوده پلار کالي مې ددر کړل چې له اتڼو څخه خلاصېږي نو زه به څه
نوري خوښي او غوړي او مستکي او داسې نورڅه به هم درکړم چې
د کلي هلکان او ځوانان دد غې پيغلې دغه مرسته او د دې ښې
مفکورې ته وګوري نوهر يو ولاړ دسې که هر څو د خپر کو ښځتنا ن
وي خوښي غوړي او کالي او اوږه او داسې نور شيان ورته راوړي
اوور يې کېږي په دغه چې دهلکه پلار خبرېږي نودي ډېر ورکړي چې
دهو دخپر کو وغريبو کوچيانو ته زما په زړه کي وچي زه بې غم
وخورم او ښه سي ورکړم چې د دوي د کور يو څه پرده په وسي په دغه
وخت کي هغه تللي هلکه له ډاله سره دا ښکاره شي نو ډېر خپل ډول
په ډير شوق سره وهي او دکوچيانو وګډيو ته ور ښکاره سي نو چې

ډول لا بو څه ليري دی دغه ځوانان چې درا غوښتې ډېر له په انتظار بې ځانونه سره جوړه کړې دي و مخکې ته ورسي او له ډېر له سره په څرخ راځي نو چې د ځوکې وکړ دې ته ورسي نو ډم خپل ډول پروده «وله» وائي دي چې دغه ددوولو ډول په زوره وهي چې ځوانان د کېږد پو ومخکې ته ورسي او دجان دښادۍ په کار کې ګډون سره وکړي په دغه وخت کې د هلک مور د خپل ګران زوی د ځوکې دسمال د کېږدې په پوره لوړاو ښکاره خوله د ځېږدي نو چې له پلمه ځای په څنګه ځوله دېر له پو ړغ ودغی کېږدې ته ورځي نوچې د ځوړند دسمال ته چې د ګوډي نو هغه ځوله ږغ د کړي چې مبارک موسه د هلک مور ځوړند دسمال ورښکاره او ځواب ور کړي چې خدای دې خپل دغسې په ښادۍ ور کړي نو د هلک مور و ډم ته ودانۍ ګرانه راځه چې چای وخوره بیا به نو خپل ډول له ځوانانو سره وهې نو د هلک پلار او ځېنې سپین ږیري په منډه د کلي هټ ته رځي سې چې ډم چای وخوري نو د کږدېو ځوانان خوور ته ناست د هلک مور او ځېنې نوری د کږدیو ښځې د دغه هلک د کږدې په مخ کې ورته ناستې دي او ډم ډول داسې په ډول وهي او ځوانانو او سپين ږږوسي داسې اچولي دي د هلک مور پو د «پنځوسو» افغانو لوټ په لاس کې دي او پوه سر ته یې ور کړي چې دغه پیسې ډم ته بخښښ دي نو ډم هم په ډېر تاوده زړه سره د خپل ډول له تال کې واچوي او هلک د کوچیانو هغه فولکلو ری سندرې په اتڼ کې په هاوده وائي چې اوس به د هرو دساړه اتڼ پوښو نه د ځو د لاسی.

### د ناريڼو ؤسو ړاتڼ

ما ول مړ نجان په جوړه ومه      لو نګ به پر پا پښـمه
ځو بل به د ځوانانو پر تې مه
د توت په ونا توره کنډ هاره      و دان سی کنډ هاره
ځلور دی درو اڼی ځلور بازاره

ماره شلور ایم وی دی ماره شلور ایم کنډه دی غاړه ـ ما به خولګی درکړه
دی ما رمزه وېرېږم ستا له زاره
دا هلکه د کمې پیغلې ورور دی      د هغې پیغلې ورور دی
اور بل یې اړولی لوړ پر لوړ دی
نجلۍ یې چې په پوزه دی ده نته      که دی مور نه وای ولاړه
د غه نته به دی نه وړه سلامته
ژاړه نجلۍ ژاړه      نجلۍ یې له دا خپله پښتنه ژاړه
هلته دی خواری شو چې خالونه دی وهل پر خپله غاړه
ګرد کمیس پر ګرده نجلۍ جوړه دی      ټوله شپه یاری کړی
سهار لوړه کوی چې پر ما ورور دی
که دوی دی په اتڼ کې چتی دوی دی      دیوی د چټ کمیس دی
د بلې ملتانی جوړه په پښو ده
اسپه یم بها نه نا دیزمی د سرو زورو دی په غاړه      په برخه دموزی یم
دموزی پر اخور تل د چه ولاړه
د بوند ؤتو داتڼ چې اوس به یې نمونه وښود له سی .
اصل ګلاب ر اشغه ورک دی      دا تور دلی تور دلی بندی دی
وی سر تور دلی
کمسل ګل که بو یوم ځک دی باغونه      دا تور دلی تور دلی بندی دی
وی سر تور دلی
د نجنو مهره یې واده کړه ای دا تور دلی زما جانانان بندی دی ای تور دلی
دریه به غوک وهی د ګوتو په سرونه      ای دا تور دلی ـ تور دلی بندی دی
دا تور دلی .

هلکه راسه آدم خان شه ای داتور دلی
تور دلی بندی دی ودا تور دلی

د درخانۍ مینه له ما واخله مینه ای داتور دلی
زما جانان بندی دی ودا تور دلی

که دی وطن دا سره پرېښود ای داتور دلی
زما جانان بندی دی وسر تور دلی

په سرو منګلو لوبدی تل چاپی کومه ای داتوردلی
زما جانان بندی دی وسر تور دلی

که چلم کښېږدي زما خوښ یې ای داتور دلی
زما جانان بندی دی وسر تور دلی

که نصواری یې نومی بد درښه راځینه ای دتوار دلی
زما جانان بندی دی وسر تور دلی

## داوښ لمړی پلاباری کول

اوښان چې واده وی نو یې کوچیان «جونګې» بولي چې دغه واده جونګیان پیله خپلو مندو دخپوڅایونه نه ځی او که په ځینو وختو کې دجونګیانو مندی یې ښېښتن بار کړی وی نو جونګیان یې د ډیری «غرغړې» وهی او خوراك هم نه کوی خویوازی یې دمندو مینې په زړه کی وی او دجونګیانو مندی هم چې لویوی خوا بار پر باروی نو تر بارو لاندی دډیرارمانو «غرغړې» وهی او پر لاری باندی تر بارو لاندی ځی چې کوچیان وائی چې تر انسانانو او تر نورو ټولو حیواناتو داوښ مینې ډیری دی او دوی داهم وائی چې که دیوې اوښې یوجونګی مړ سی او دمور یې یوځای «فرین» سوری سی او که یې دوه جونګیان مړ سی نو یې دمور هم دوه ځایه فرین سوری سی او که یې اوه جونګیان مړ سی نو داوښې هم اوه ځایه فرین سوری سی نو اوښه هم مړه سی دغه جونګیان چې ژوندی دی اوښه لوی سی اوښه ښه سی نو کوچیان هغه لویو جونګیانو ته

«کواټ یا کواټان» وائی او څښتنان یې په داوړه دغه کواټان چې کوچیان بار کوی او یو لوی اوښ بار کړی او کږدی څخه لیری یې چې د کواټ نه ور ښاره کېږی وډریږی بیا نو کوچیان دغه لوی کوټ «خپ» کړی او هغه پوټه پاسته کالی لکه کېږدی یا نور کالی پر چونګی یا کواټ باندی ټینګه کړی او کوچیان خپلې پټ سی کواټ چې دوړی دوړی وګوری هغه لوی اوښ هلته ودینی نو ولاړ سی او هغه کوی چې په هغه لوی اوښ پسی ورسی په دغه وخت کی چې کواټ ولاړ سی نو دغه کواټ خوا بار نه دی ورډی له پاره څخه یې بد کېږی او تره پکی اومندی وهی زغلی او څښتنان یې په دې نسبت خپلې پټ سی چې دغه کوچیان وائی که موږ د کواټ نه وډریږو نو دوی فکر کوی چې اوس به بار راغځه واړدی نو له خپله ځایه څخه نه ولاړیږی چې کواټ په هغه لوی اوښ پسی ورسی نو هغه نه ګوری هغه اوښ چې ولاړ دی نو دغه کواټ هم ورسره وډریږی چې ډیر وخت تیر سی نو یې څښتنان ورسی او تر ډیره ځایه پوری هغه لوی اوښ چې بار هم پر بار دوی پوزی کواټ ور پسې ځی په دغه وړه کواټانو ل باری کړی چې څو کاله کواټان په دغه وړه بار ونه یوسی بیا یې او څښتنان د څواړدی چې دغه اوښ ترخپل امر لاندی کړی چې هغه به هم په لاندی ډول سره وچودل سی .

## داوښانو مهارونه

اوښان دژمی په ساړه موسم کی چې دژمی دعلاپ شپی اوورځی دی نو اوښان «مست سی» داوښانو ددغه مستی په وخت کی که بل اوښ منځ ته کړی هم خولې په لګوی او که یې څښتنان ور نژدې کېږی هم دغه مست اوښان خولې ورداچوی دغه اوښان چې مست ښی نو ددوی له خلو ځغه سپین ځګ ونه راتو لیږی نو یې څښتنان په خولو کی یو چالی ور راچوی نو دغه اوښان خپل څښتنان اسی خوړلای او داوښانو دخولو په وختو کی یې څښتنان چالی له خولو ځینې وکاږی نو اوښان خوړا کو نه کوی که

دغه مست اوښ وبېل اوښ ته خوله وردواچوي او ښځینتان دغه مست اوښ یو یاد وه لرګي ووهي او دغه اوښ ګوري چې پر خپل ښځینتن یې واړ سم سي یا یې وژلي او یا یې ټپي کوي او دا اوچا او ښځینتان یوه د «ننې» په نامه چې خاص داوچانو دد یوه ود یاره جوړه یږي په یوزوکي یې یې داسي ور اچوي او دغه ته ښځکه جوړه یږي چې اوس په داوچانو دنتو جوړه یدل او په ښځوانو کي ښځکه مهار ونه ورواچوي ·

## د مړو دود او بایده

په اطرافي کلو کي چي یو سړی مړ سي نو چي دغه سړی څوك وه لري نو څیښي خلك و دغه مړه دود وله د مړه په پېسو سره داسي سر ته رسوي چي اوس به یې یوه نمونه وښودله سي ·

احمدجان کاکا چي په کور کي څوك ناریښه نلرلو او د احمد جان کاکا هم مړ سو او په کور کي یې یوازي ښځې پاته دي نو د کلي څیښي ښځه کسان سره ووائي چي احمدجان خو دڅولو سپین ږیري وؤ او ښه د نامه سړی ؤ اوس نو له موږ سره ښایي چي له ټولو قبرو ښځه خلك راوغواړو او د احمدجان کاکا جنازه په ښه ډول خاورو ته وسپارو چي د کلي ټول خلك دغه سره خوښه کړي نو یو تکړه هلك پر آس باندي سپور کړي او د هلك ته د کلي سپین ږیري ووائي چي لمړی به د صاحب زاده صاحب کره ورځي او هغه به راخبر کړي بیا به او د نورو ټولو قبرو چي شاوخوا د موږ ته رانژدي دي راخبر کړه چي ټول داسي · د کلي خلك پر څوانانو ږغ وکړي چي ژر تر ژره ورسي او د احمد جان کاکا کبر جوړ کړي

څوانان قبر جوړ دوي او د کلي سپین ږیري له هیدری ښځه وزي او هلته کړ دوږ د سره کیني او په احمدجان کاکا پسي ختم کوي له ها و خوا قبرو ښځه خلك راځي او له ناستو کسانو سره کیني چي د قبر د ټول خلك راسي بیانو ټول خلك د صاحبزاده صاحب ته انتظار دي دوی ټولو خپل خپل سر و ته پر څنګنو باندي ایښي دي یوادي یوا دي سر و ته

رابورته کری او دصاحبزاده صاحب دراتلو لاره گوری چی له بوی خوا ناست کسان لمرتاوده کړی بوی او له بلی خوا اوبدی دی له بلی خوا بادا او دوبدی دی پەدغه وخت کی داحمدجان کاکا د کلی ملاصاحب پربوبل سپین بدیری سری با ئەدی بدغ و کری چی د نزدی قبر و خلک قول سره راغلی دی تەورسه چی داحمدجان کاکا پشکوخه اور اوا و به سره گەی کړیدی که پەچی تورا غلو خلکو پوری موبد پیره اسوچی هغه سپین بدیری سری داحمدجان کاکا وکور تەورسی که گوری چی هغه پشکی ژاندی او پەژنا کی داسی سوتوته کوی .

تەدا غخەولاندی احمدجانه    موبدی سرتوری پر یشود لو
هوالان د قبر ته هوند بزی    لنگی بی کیشودی دهناختو پرسرونه

زما پر قبر سلام وایه چی خاوری ته کری داحمدجان کابده بریشوته پەدغه وخت کی پشکی پرتیر شوی وختو پسی داسی ازماتوته کوی او وائی

کەموږ خبروای چی بیلتون دی    موبد پەجانان تر لاس نیولی گرزاووته
پرون لاپەژچەدلی وی    نن دی پر شناختو بادوهی سره دسملوته

بیادغه سپین بدیری خپل شلزبدونه سره بو کری او داحمدجان کاکا وپشکی تەووائی چی لەقبرو خخه موبد قول سری را بللی دی نو تاسو پەاحمدجان کاکا پسی خه خیرات کړیدی که نه ؟ چی داحمد جان کاکا پشکی وسپین بدیری سری تەووائی موبد خو پشکی یو او پەکورکی پسی هم ئەلرو اوموږ پەغم کی یو پەدغەوخت کی سپین بدیری لەپشکو خخه رهی سی اوهغه اوروته ووائی چی پشکی خوپە هیخ هم خانو نه نەخبردی او پەخپل مییره پسی خیرات نەکوی دوی لاپەدغو خبرو کی وی چه ناری سی چی صاحبزاده صاحب راغلی دصاحب زاده صاحب ومخی ته دغه سپین بدیری ورسی او صاحبزاده صاحب تەووائی چی داحمدجان کاکا پشکو خیرات ئەدی کړی او خلک هم ډیر راغلی دی صاحبزاده صاحب فکر وهی بیا نو لمړی د احمدجان کاکاوپشکو

## دگو چیا نو دودونه

ته ورسی او څه تسلی ور کړی بیا نو صاحبزاده صاحب وو ائی چی یو څه خیرات خو یمو کاږ ښځی وو ائی چی موږ هیڅ نه لرل صاحبزاده صاحب وو ائی چه گانی خو یمو لر لې او اوس یه زماد خوندی دری لوی مزان دلی دی هغه حلال کړ و بیاو ماته هغه ستاسو گانی را کړی صاحب زاده . صاحب دغه تیرون له ښځو سره وکړی نو بیا دی ولاړ سی او احمد جان کاکا ښخ کړی چی دوی راځی نو ډوډۍ هم پخه وی هغه ډوډۍ وخوری چی خلک سره ولاړ سی نو صاحبزاده صاحب بیا هم و ښځو ته ورسی او هغه څه گانی او نور ښه ښه لوښی چی صاحبزاده صاحب خوښ سی د ښځو مزانو یه یورکی حیثی داخلی او د کور پر خوا ډی سی او دغه ښځی سره د کوری او وو ائی چی له یوی خوا مړ کی دی له بلی خوا دغه بی رحمی ته گوره چی زموږ به حق کی یې کوی د دو مزانو یه بدل کی بی زموږ قولی گانې را څخه یوو ډ لې .



# ځینی بچوانی هیر شوی شاعران د قاټ او تورپیکی ،

دغزنی د ولایت د ناوې په اولسوالۍ پورې مربوط د کوچینی ناوې د (زاډه) په کلی کې (قاټ) نومی ځوان چه دوغه ځای د (کروا له پښو) په کلی کې پر یوې پیغلې چه نوم یې (نازکه) او د ولی محمد لور وه مین شوی و چه له (قاټ) څخه د دنیا قول کار ونه د (نازکی) د مین توب په نسبت پاته و خو یوازی په د (نازکی) په اړه اندیښنه کی ورک وه !

پیغله تور (پیکی) هم د (قاټ) د قبر د (پیرو) د کلی او سیدونکی وه .

تورپیکی د قبر درانه او ښه خوی خاوند وه . خوداچه یوه ورځ په خپل انګړ کی دغرمې په خوب ویده وه د دغی پیغلې په خوب کی د چاڅ پر ښکلی مخ ، او چې ستر ګی ولیدلی . نو ددې زړه ، هم سوری شو او دغه درانه په قوله ورځ د هغه ښکلی مخ او ښو ستر ګو په فکر او اندیښنو کی ورکه وه د دنیا په ژوند هیڅ نه پوهیده . اوس به لومړی د قاټ ؛ لنډه سوانح د ښیو !

## قاټ

قاټ ؛ یو ځپر ځوان و او هغه خپل پلار پر ده باندی د قاټ نوم ایښی و د ولی محمد پر لور باندی چه نوم یې (نازکه) و مین شوی و . هغه ا رنګه (نازکه) هم پر قاټ باندی مینه وه د قاټ مین توب پر نازکه ؛ باندی او د تورپیکی مین توب په خوب کی (۱۲۹۰) لمریز کال په شاوخوا کی و چه اوس تقریباً د دوی (۶۰) کاله وشول د (نازکی) پلار دغه خپله لور (نازکه) (قاټ) ته هکه نه ور کوله چه له یوی خوا (قاټ) لکه د پر د لیونی سر ای پیر او پښی ای لوڅی او په کور کی ئی هم پیسې او لور نه ارل د (نازکی) پلار په (قاټ) خیال نه کیدو خپله لور نازکه ئی هم نه ور کوله د قاټ مین توب د قولو خلکو نه ښکاره او ځرګند و او ددی په دژمی په ساړه موسم کی چه له یوی خوا به واوری اوریدلی له بلی خوا به هغه واوره (دوړیدله) نو قاټ به د (نازکی) د انګړ و شاوخوا ته ولاړ پاتاست و .

په دغه وخت کی که به چی چا له قاتی، ځغه پوښتنه وکړه له چه قاته پهدی
باد وه . کی ځه کړی چه په داورو کی ناستلی ساده دی نه کیږی
نو قاتی په ځواب ورکړ و روره د نازکی د انگړو شاته ناست یم که
می د نازکی، د گانو شرنگی داوریدنو ځکه می ساده نه کیږی چه قول فکر
بام می د هغې خواته تللی دی ودوسته لهڅ بره. وخته ځغه د نازکی پلار
چه د قاتی داخلاص په مینتوب ښه خبر سوی ؤ نو لی په خپل کور کی
د ښځو ته وویل چه که قاتی پوورغ و کورته درغی نو ځه مه ورته وایاست
په دغه چول د ژمی سړی ورځی تیری سوی. بیا نو د قبر سپین پیری،
نود پیری، شته من کسان سره قول شول د نازکی و پلار ته په مر که
ورغلل لومړی د قبر شته من او سپین پیرو ( د نازکی) و پلار ته وویل
چه موږ قول وتاته په مرکه راغلی یو ته خپله لور (نازکه ) د قاتی ته
ورکړه موږ د قبر خلک چه تاته په مرکه راغلی یو ستا د لور په بدل کی
به دوی پیغلی لوڼی او نوری دو لور پیسی به در کړو خو ته خپله لور
زموږ په مرکه د (قاتی) ته ورکړه. د نازکی پلار د لور د ور کولو پر هغو
باندی نه راضی چه مرکی به هرڅوله خبری ورته کولی خو ولی محمد
به نه منلی چه د مرکی خلک و لاړل نو د نازکی پلار له ځان سره دا
فکر وکړ چه د(قاتی) له مرکوا د پولو ځغه نه خلاصیږم او تل به د قاتی
له لاسه پر ما باندی مرکی او قسولی چوپدوی . نو لی د نازکی، هوکی،
په پولیری ځای کی چه له قبر ځغه وتلی ؤ یوه سړی ته پر کور باندی
ورویه نازکی میږه یو ازی د قاتی په مینتوب خبر ؤ او د نازکی په حال
نه و خبر . بیا د نازکی میږه د نازکی په ودولو پیل وکړ چه د نازکی
د واده مراسم پر ځای کیدل او قاتی ورته ناست ؤ په دغه وخت کی
د قبر قول خلک نراو بنگی ودغه واده ته ددی د پاره ورتلل چه قاتی ځه
کوی او حال ئی ځه دی د شا د خوا سیمو خلک ولاړ ؤ او قاتی په
لوږ دغ ژ دل.

## ټاټ او نور پوکي

او خاوري یې پر خپل سر باندې بادولې چه دوا ده خلکو به د (ټاټ) د لویه غږ ژړا اوریدله نو ټولو خلکو به د ټاټ او نازکي پر حال باندې ژړل چه د نازکي د سپر یدلو وخت راغی نو یو سپین ږیری سړی ( ټاټ ) ته لاس ایولی د نازکي د سپریدلو ځای ته ایې ور ښودی کې چه د نازکي د کانړو شرنګی شو او سپر یدله د څه نو د ټاټ د مرګ وخت وه نو ټاټ داسې بدلې وویلې !

دژړه له سوځته به نارې کړم

په اسویلی به د آسمان ستوري تنې کړم

ستا دوا ده کاروان بار یږی

زما د سوی زړه کی دود ګوري را خېژي

په سوال ځواب چه ژړه ور کړم سم

زما د ټر به وړ ښکاره کړم ټول داغونه

او ټاټ پر مځکه ولویده و چه د نازکي ورا سره ټوله ولاړه وروسته له دیره وخته څخه ټاټ خپل سر له خاورو څخه راپورته کړ که ګوري چه هیڅوک نشته ټول خلک تللي دي د ټاټ مخ په خاورو سپیره او د نازکي پر انګړ باندې له یوې بلې خوا را ګرزیده داسې بدلې او شعرونه ایې ویل.

### بدلې

پرون لا چه ژ چه د لي وی

نن بدي چیري باد وهي ستا هیلونه

نازکي د یره مي یاد یږي

لکه سړی او به چه د څښمه نه مي هېر یږي

وا ده تمام نازکه ولاړه

زه پرانګړ ایې ګرزیدم په لمبو سومه

بخت خو که نه کړی یاری و کړی

د ازما لیدلی له نازکی سره وکړی

که لندن لوی بازار ئې لوی دی

قاټ ته لندن ژړ د نازکی شنه خالونه

انګرېزی تس زه دی کباب کړم

چه سپر یدلی زه دی ډېر خراب کړم

دعا شفی په باغ کی بند شوم

چه د کوټې کاب ترخروټی لوړ دی دیوالونه

قاټ ډېر بیوا که ژړل او پوبل دیوال ته په ناست ژ او د نازکی فکر او اندیښنه په وړ سره وه. نازکه چه د خپل میړه تر کوره پوری ورغلی وه ددې درسیدلو په وخت کی ئې پر زړه باندی درد شو داځکه چه د قاټ له غمه لیونی وه خو ژغ ئې وچاته نه شو کوی چه له یوی خوا دا ناوی وه له بلی خوا ئې ومیړه ته ویلی ژړ د چه زړه پر قاټ نه پسه میشه نو دا به په قاټ پسی په زړه کی سره خوږه کیده له ترخو شپږمه ورځ د میړه په کور کی دا مړه شوله ؛ چه د نازکی پلار نازکه مړه دا ورله . په دی وخت کی قاټ نه ژ کور چه نازکه ئې ښخه کړه بیا نو قاټ ئې د قبر ته ورغی نو دا پښه له ئې وویله .

شاپسته شوی ګورستانه

چه خاوری نه کړی د نازکی شنه خالونه

د قاټ دغه کارسو چه هر سهار او ماښام به د نازکی د قبر ته ورتو او ډېر به ئې ژړل

## پیغله تورپیکی

تورپیکی هم د کوچینی ناوی د ببرو د کلی اوسیدونکی وه او شاعره هم وه. دغی پیغلی وویل چه زه یوه ورځ به خپل انګړ کی د غرمی په خوب ویده وم په خوب کی می دیو چا ډېر ښکلی مخ او ښی سترګی ولیدلی چه له خوبه څخه راپورته شوم نو زړه می بند شو چه خوړل او څښل می هیر شول خو یوازی می هغه سترګی خوښتلی نه را مو ندی کیدلی چه وروسته له یوی میاشتی څخه می زړه ښه او پر پښوانی حال شوم او

شعرونه مې چادي شول . او ټاټ او تور پېکۍ چه دواړه د يوې سيمې او لسوالۍ د يوه ټبر شاعران وه او په ژوند کې ئې ارمانونه ډېر پاته ؤ نو دواړه دوړ دوړی ، او خوږی لاس سره ورکړي دي دواړه چه به هر شي ته وکتل نو په هغه پورې به ئې ، شعرونه به ويل ، او متلونه جوړ کړل . زوم شخه ئې ترڅنګ کلي د لور ډېرې پېسې غوښتلې او پلار ئې د بابيړې ، په نامه هغه زيات پرېکړې غځي کوله نو زوم به ئې د خو کسانو سره که د ټاټ او تور پېکۍ په ګډون سره جوړه کړه نو چه لومړي به پېغلې تور پېکۍ په خپلو شعرو د لور د پلار زړه ور پوست کې

## د تور پېکۍ د شعرو يوه نمونه

زه د مشر ته ورځم يو د غوښتنه غځي کوم
د لور پلار دې د قرار کړه بريت ئې بيا په خولې ټيولي دي
لوټونه ئې شيرلي دي

مو هڅول يو ستا دوستان رو پې مه غواړه مدام
ټګي مو تر له ګرد کړل پيسې ئې تا خوړلي دي
لوټونه ئې شيرلي دي

پلاره فکر وکوه زومخو اچې د لورمه دښمنوه
هغه دي ګرانه لور دی تا د لور پر سر نور څه کړلي دي
لوټونه دې شيرلي دي

د لور ډېر له موږه وړه خپل جيب په ډکوي
پيسې دې سوالې ډېرې اوس ټګي دي په ګرد کړي دي
لوټونه دې شيرلي دي

له ماهم واخله مټکري تاخوړلي با بيړي
پيسې دې سوالې ډېرې خو د لور شنغ دي وتلې دي
لوټونه دې شيرلي دي

زوم خودي هم زدي دي ښه وکړه زمونږ ډېل په ځه وکړه

قاتل او تورپیکی دې پوره تنګه    ډېر سختي ی سوي دي
لوګونه دې شمېرلي دي
ته د لور په حال خبر سه    له د لوره اې لاس پر سر سه
پر د لور دې خپل پردي    قول خندولي دي
لوګونه دې شمېرلي دي

## ددوو ټبرو دسړو جنګ او مرکه

چه د یوه ټبر یوه یا دوه سړو به د بل ټبر له خلکو سره جنګ وکړه. نو دوهلي سوي لوري خلکو به دخپل ټپي سړي د تنداوي به غم کې ډوب د وهونکي سړي له خوا به مرکه جوړه سوله نو تورپیکی او قاتل به هم د غې مرکې خبر کړل او مرکی به تورپیکی او قاتل ته ور ویل چه موږ خو د هغه ټبر په خلکو ګرم یو داسې چه زموږ سړي د دغه ټبر سړی وهلی دی اوس چه موږ د هغو خلکو ته په مرکه ورځو او ښائي چه تاسو دواړه شاعران چه په زړه پوري شعرونه ووایاست نو ګواندي ترمنځ موسړي او به توېسي له نورو په ږو ښځه سره چپ سوو او هغه خلک موږ وبخښي، چه قو له مرکه دوهلي سوي سړي و کورته ورسي نو قاتل او تور پیکي داسې شعرونه ووائي.

په مرکه درته راغلي دي قاتل او تورپیکی په قولو مو وهي.
موږ قول تاسو ته پېره یو چه راغلي په خواله یو.

له بدي ښځه موږ خوږ سې ګکري    په قولو مو وهي.
زه پېغله شاعره یم.    دقهر و غم خوره یم
پېره موده منلي نومو تاسو و بخښئ    په قولو مو وهي
دشاعر له حاله زده کړه    بیا نو ښه ورسره وکړه
تاسو ننداره وکړی دقاتل او تورپیکی    په قولو مو وهي
پېره موده منلي    مرکه موږا وستلي

په‌راسره وکړی چه‌می خوښه‌سی ټولی    په ټولو موډ هی
خپه مه راته کښېنی    بیاز موږ غم د اخ پر وی
وهل هلکی زوی دی دزمری    په ټولو موډ هی
ټوله درته ناست یو په ناوه    بله مه کوه گیله
که‌موږ ده او په پښېړی نوموږ دوټکوی    په‌ټولو موډهی
دغه‌وخت دی دکارو    خوښ مو لیږی کړ او
موږ په‌ټوله خوښ‌سو دغه شپی دی دیښنی    په ټو لوموډهی
په پنجشنبه زموږ خوښه کړه ټولی ته موږ دیښتلو په خوبادی یابدنی
دغه‌خوی دیښتو دی خو پښه پروښکوی    په‌ټو لوموډهی

چه‌ټاټ او تور پېکی خپل دغه خوشعر وته دوائی بیا هغه و هلی سوی لوری خلکه وټاټ او تور پېکی ته‌دوائی چه موږ دغه راغلی مرکه ستاسو دوه شاعرانو په‌مخ کی وښبله د اټکه چه تاسو دوارو په‌خپل مین توب کی‌ډیر زحمت او خواری کښلی دی او زړونه مو زخمی دی ، نو اوس چه شپه ده د لته و پده سی . سبا د به و خپلو کور ته ولاړ سی .

## د هلکی زوکړه

دغزنی له‌ولایته بیادزابل ترولایته پوری چه هلکی وزو کیږی نو دهغه کور دڅښتنو خپلوانو ښځو له خوا دغه جان دزدکړی به نسبت دسهار وخت کی دغه‌مروجه ناره داسی کوی .

(دخدای له‌داده ، دمیږ وله باده دجان زوی وزو) دغه ناره ددی پلارتوی جان د موږ دانکی په‌دننه کی دکړی . چه دغــه ښځه راکښته سی فوژر ، زړنی دکړی او نو ری خو ډی هم په ننو گډی کړی په‌دغه وخت کی‌چه لمرخرك کړی دغه انې وجومات ته‌د رو لیږی وجومات خلکو چه وظیفی هم وبای ته‌رسولی وی . دجان دزدکړی انی ورسی نو ټول دجومات خلك لی وپلارته داسی دوائی خدا ی (ج)

دی در لوی کړی. نو د جان د پلار خپل یا د زوی کړی جان کاکا
دغه خوږی چه د جومات وړو او خلکو ته ور وو یشی و ړو ستو له هغه
د جومات خلک ټول د جان په زوکړه خوښ سی. بیا دغه د نوی جان کاکا
یا نور خپلوان ئی په نیت ه له خپله کوره د(چړو) تویکی را واخلی
د نوی جان و کورته ورسی او دری ټکه و کړی نو دغه سړی لا هلته
ولاړ وی. هغه ښځه چه د نوی جان دزوکړی ناره ئی کړی وی یو ښه
مشدی دستمال له ډول ډول میوو څخه ډک د دغه ډک وسړی ته ور کړی
ډک کو او سړی چه ور کړ سو ی دستمال دغو ډ ی که په د ستمال
کی انجلو نی او د نسپو ډی وو نو دغه سړی د هغه انجلو ئی او وړی
او د سما ل و اخلی نور ی خو ږ ی ئی و و لاړ و هلکا تو ته
سره و ر و و یشی کـه پـر غیـرتو هلکا نو یا نـه دی
هغه صرو چه ناره خپلوان و ته کړی او هغه هلک لوی سی
نو د کای هلکان ئی بی نادی زوی بوای. چه په ډېر کې دیوه بڼای سړی
زوی وزیږي یدو نو د هغه هلک پلار په د خپل زوی په زوکړه ډېر خوښ دی
نو ورته په ځینو خپلوانو او د کور مشرانو و دیل چه زموږ د خوښی او چه
ورځ خو دغه ندی او زموږ په کور کی هم هر څه سته ښه من یو نو له موږ
سره ښائي چه د نوی خپل جان برزوکړه باندی درب ، او په زړه پوری
ښادی جوړه کړو او د کلی ډمو نر واو ښځو ته چه زموږ په حویلی کی ئي
زموږ د جان دزوکړی په نسبت ئي خوښی ، او بدلی ، اتڼونه کوی ښه
( سره ) و رو کړو بله داچه ټاټ او نور پیکی چه زموږ د ډېر ښه
شاعران دي او ټول خلک ئي د خپلو خوښیو او مرکوته بولی نو موږ به ئي
هم راوغواړو بیا نو دغه د نوی جان د خپلوانو څخه یوی په غوږ و کی و نیسی
دی له ځانه سره داهم ووائي زه چه ډېر بڼای یم او ان زما د خوښی
ورځ ده ترڅه ده چه د خپلوانو په خوله و کړم. بیا نو ټاټ او نور پیکی
د خپل کورته راوغواړی د نوی جان پلار و ټاټ او نور پیکی ته داسی

وايي چه ئن خوموږ ټول د جان د زړو کړی په نسبت ډېر خوښ يو او خوښی کوؤ ځکه چه مو ژوندی شوی دی او تاسو دواړه شاعران زموږ د څو زړو ته وګوری زموږ د نوی جان پر زړو کړه باندی يو څو بدلی ، متلونه شعرونه وواياست بله داچه لومړی دی زموږ د حويلی دراغلو څخو اقن وراود کړی د جان پلار داهم ووايي چه زموږ په حويلی کی بدلی ، اتڼونه او خوښی وکړی . نو زه به هم و تاسو ته (سره) درو کړم . نو تورپېکی چه لومړی پلاد جان د مور ته ورسی نو د ملك مبارك کی ئې وکړې بیا د لوی جان د مور ته ووايي . د جان مورې د جان یاستا دزړی زړ کړی ټول د کلی خلك په خپلو ځړو کې خوښی کړل داځکه چه ستا او د جان د پلار ټنډی پراخ دی چه څېڼی بيوزله او اړ خلك ستا سو به کور کی چلېږی بله داچه ته د کلو لښته ئې نو د خدای ( ج ) به نور زامن هم در کړی او س به زه او ټاټ ستاسو د لوی جان څادیه ، میله در ته ده کړو بيا نو تور پېکی يو څو داسی متلونه وايي چه دغه متلونه ټول په نوی جان او د ده په مور بو دی جوړېږی.

## د تور پېکی متلونه

دا متل دی چه دوايي     دزوی مورسی     اوور ته اړه مه سی

دا هم متل دی

بو ئڅی به دی ولاړه کړی     ا دزوی به دی قراره کړی

دا بل متل دی

زوی ئې په مڼه زردی ـ چه چاته ئې ور کړی پرهغه ئې ګل دی

دا هم متل دی

چه کمی وئی نه وی ـ لو دئی تل ولاړی نه وی

کوچینی زوی ګل دی بویوئی ـ چه لوی سی بيا نو غم دی ګالوه ئې

بيا نو تور پېکی د جان د مور ته ووائی نوی زوی د مور او پلار دزړه او بدی او که څېڼی زامن بېکاره سی خو بيا هم د مور او پلار په چه بده

بوەورخ ورسی . پەبیکارەزدی بوردی متل اسلحێ کەتل باردی ـ خوبوە ورخ لاپەکاردی . بیانوور وستە لەدغومتلو اوحودچحو لەخیرو حخە دجان لەمور خخەراولاهەسی . توردپیکی دکلی راغلو چحوتە ووائی چە لومهری بەزەد جان خوش اقن چە موردئی دکلو لهتە او زامن ئی گلوتە دی وستایم او دچحو اقن بەدرتە تودکهم بیابەزە اوقاتێ خپل بو حای شمرونە دوایو تور پیکی دجان کرە ورغلی چحی واقن تە ورد لاهدی کهری .

دقاتێ او تور پیکی شا هرانوبە وختو کی چەبە (ودونە) کیدل نوهنوحوانانو ، او پیغلو بە پرهولو ، رباژدوادۀ خوښی کولی نو دوادوحبتنانو بەقاتێ اوتورپیکی هم راوستلی وۋ نوچەددوی داقنو اوبه لواودآسو دزهلاولو اوسانکو دمیږ وۋداخستلو واربە تیر صوبیا بە او حیینی مشران سهری سره داقول سول قاتێ اوتور پیکی تەبە لی وویل چەان خوزموږ دخو جیو ورحی دی نوتاسو ددانه چەپە شاعران یاست او زموږ پردادە او ناوی باندی بوحو چە شمرونە بدلی وویاست لومړی بەتورپیکی خوشعرونە وویل او بیا بەقاتێ پر وادە او ناوکی باندی لەحپلوخوږمنولهدوحو شمرونەوویل چەدتورپیکی دشمر ویلو نمونە بەو لاندی شی.

ناوی چە سی بدەمەسی
زما دجان پرنوم زیدەشی
و بل چا تە پاتە مەسی
چەدی کور چەدی پیکی
چەدی خوی چەدی زلمی
دیکە پلوی زرغوانەسی

## ټاټاو تورپیکی

خسر ګڼی باندی خوږه مې
و بل چا ته پاته مه سی
زما د جان پر خوله ګل دی غوړېدلی
د دښمن پر کور ای غم دی رژېدلی
ته د شابسی شاکی مه سی و دښمن ته کونده می شی
و بل چا ته پاته مه سی
سکاڼی لم و اهو میدان ای کښېنلی دۍ
میدان خو د ما د جان سپر و نیولی دۍ
د تورپیکی زړه ګی کباب دی      ته د دی په شکل مه سی
و بل چا ته پاته مه سی
ناوی ښه دی پلار ګڼی
نوم دی لوړ د خوسر ګڼی
په ګاڼو کی ای کړی ی پټه
پر تا دی قول زاړه سی
و بل چا ته پاته مه سی
د امتل دی ای ناوی
چه بخت یا پر کوڅی یاد ځکی پرواهی
یاد تا وی پر کوڅی
ناوی ته بی پلاره مه سی
و بل چا ته پاته مه سی
پوری خوا زر ګردی راولو به ای
ستا د خواښی کولکۍ کوږ دی جوړ دۍ به ای
ښه دی چه کاږه دی
چه خواښی ستا به خوا له نه سی
و بل چا ته پاته مه سی

د تورپیکی اوقات دغه شعرونه اوبدای چه خلکئ اورئ نو که به چیری مړ که وه نو هغه پی و خلکئ به ډیر ژر ، ژروقات او تورپیکی ته ځانونه ورر سول او دوی دوا له به ئی د ځانو ملګری کول او دوی د واله به ئی یو ه ورځ له مخی خبرول د اځکه چه دوی به له موضوع څخه خبر سول نو په هغه ډول به ئی شعرونه جوړول او سهار به ئی د ټېر و خلکو ته ویل. نو هغه به خوښ سول بیا به نو په مړ که سره تلل او هلته به ئی هغه شعرونه ویل او لری به ئی به برخه دو اود قات او تورپیکی فولکوری شعرونه به پورته ډول وښودل شول.



PROPERTY OF ACKU 32580

Serial No: 3



# Customs of the Pashtoons

by:

Ghulam Mohammad

Published by: Folklore Afghan Department

— 1974

Printed by the Government Press